


Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library




Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب :: اسلام او موسيقي

ليکوال ::قاضي محمدحسن حقيار

خپروونکی :: افغان مطبوعاتي اداره

دچاپ ځای :: پېښور

دچاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

داکتاب په پښتو ژبه لومړنی کتاب دی چې قاضي محمد حسن حقيارپکې دموسيقۍ په اړه داسلام دمقدس دين رښتونی تصور وړاندې کړی دی.

Download from: ketabton.com

# د پیل خبرې

د "غوټۍ" په نوم د چپرهار ولسوالۍ د محصلینو په مهالنۍ خپرونه کې مې د (د نڅا او موسیقي د اسلام له نظره) تر سرلیك لاندې یوه لیکنه ولوستله. لیکنه په حقیقت کې زما پر یوې مقالې چې د هیلې مجلې په پرله پسې 36 ګڼې یا د 1381 کال په شپږمه ګڼه کې د (نڅا او اتڼ، د اسلام له نظره) تر سرلیك لاندې خپره شوې وه، د نقد په ډول لیکل شوې ده. په دې لیکنه کې زه اسلام ته په ناروا منسوب کولو، د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو شان ته په بې ادبۍ تورن شوی یم. لیکنه مې په بېدینۍ او افتراء ولاړه ښودل شوې ده. لیکوال ډېر احساساتي شوی دی. دده په آند زما د لیکنې د رد لپاره یې ایتونه او احادیث هم د دلیل په توګه رانقل کړې دي. زه د لیکوال په احساساتي چلند خفه نه یم، ځکه چې یو خو هر څوك له خپلې سویې سره سم برخورد کوي، بل دا چې دا ورور که په حقه دی او که په ناحقه، هغه بېله خبره ده، خو ده ته ځان په حقه ښکاري او دده په آند له اسلام څخه ددفاع لپاره یې قلم رااخیستی دی، نو باید چې د احساساتو درناوی یې وشي، نور هم وهڅول شي چې اسلام ته د خدمت لپاره هلې ځلې وکړي. دا دعا بیا پر موږ او نورو لوستونکو لازمه ده چې له الله جل جلاله څخه ده ته د حق د خدمت لپاره مرسته وغواړو. ده ته توفیق وغواړو چې د اسلام رښتونې بڼه وپېژني، د اسلام له روح څخه ځان خبر کړي، د بصیرت سترګې یې وغړېږي، کور کرانه، غیر شعوري، په پټو سترګو او کلېشوي تقلید پرېږدي. الله جل جلاله دې نوموړي او موږ ته استعداد، ذکاوت او توفیق راکړي، چې رېښتوني اسلام ته راوبولو. په رېښتوني معنا اسلام ته خدمت وکړو. له داسې فکر، جذبې، مبارزې او دعوت څخه دې الله جل جلاله موږ ټول وژغوري، چې د ګټې پرځای مو دین ته تاوان وراړولی وي. پښتانه څه ښه وایي چې "له کم عقل دوست څخه هوښیار دښمن هم ښه دی" اسلام ته د هغه د ناپوهو او متعصبو دوستانو د خدمت پایلې دا دی اوس د سر په سترګو وینو. دا څه چې په افغانستان کې تېر شول آیا دا له اسلام سره مینه شوه که دښمني؟ دا اسلام ته خدمت شو که خیانت؟.

د شرق نابغه او فیلسوف علامه محمد اقبالرح همدې ډول ملایانو ته څومره ښه وېلي دي، چې:

"زما بر صوفی و ملا سلامی

که پیغام خدا گفتند مارا

لیکن تأ ویل شان در حیرت انداخت

خدا و جبرایل و مصطفی را".

زه خو وایم چې ښه شو چې د اسلام او ټولنې د خدمت لپاره یو بل قلم هم وخوځېد. موږ یې ستایو، هڅوو یې. د همدې لپاره په لیکوال څه نه لیکم.

"درویش کــه خوله له یاره واخلي ورته ښه به وایو

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



موږ دی ستایلی چا چې کړی نېك عمل دی چرته".

څومره چې زما د تېرې مقالې په محتوياتو (منځپانګې) پورې اړه لري، نو زه دلته دا یادونه اړینه بولم چې هغه کومه سیاسي تبصره، رومان، خیال او یا کومه بله هنري او تخلیقي لیکنه نه ده، چې ما به له ځانه څه لیکلي وي. دا یوه تحقیقي او دیني مقاله ده او ټول محتویات مې یې له معتبرو او مستندو دیني کتابونو څخه رانقل کړي دي آن چې له هماغو کتابونو څخه هم اقتباس او نقل شوی دی، چې ښاغلي لیکوال په خپل مضمون کې ترې اخیستنه کړې ده، د هر چا وینا مې چې راخیستې نو په ډاګیزه مې یې ماخذ هم ښودلی دی. زه په ډاګه اعتراف کوم او دا منم چې زه ډېر کمزوری او د ډېرې ټیټې کچې لیکوال یم، زه نه په امام غزالي پسې رسېدلی شم او نه په بخاري او .... پسې، نه زه د فتوی ورکولو لیاقت او اهلیت لرم او نه د حکم صادرولو وس، خو د علماوو، فقهاوو او مشایخو فتواګانې او احکام مې څه ناڅه لوستي دي. که زه د اجتهاد وس او لیاقت نه لرم، نو د مجتهدینو راوېستي احکام او فتواګانې خو مې مخ کې دي، نو زه بیا هم په ډاډ سره لیکم چې زما په تېره لیکنه کې هېڅ نظر زما شخصي نظر نه دی. هېڅ یوه فتوی زما فتوی نه ده، هېڅ فکر او نظر یواځې زما نظر نه دی، بلکې په دې فکر او نظر کې چې وروسته به یې تاسو هم ولولئ، د اسلامي امت ډېر نامتو، پېژندل شوي، متبحر علماء، امامان او فقها راسره ملګري دي او یا که ووایم، چې زه له هغو سره ملګری یم او په مقایسوي ډول مې د دواړو خواوو نظریات لوستي او د لایلو ته په کتنې او د دواړو خواو د حجت او استدلال په تللو سره یو پلو راته دروند او حق ته رسېدلی ښکاره شو او ما یې هم لمن نیولې ده، نو اوس چې د یو داسې نظر په څرګندولو چې هغه له ما څخه زر کاله یا شاوخوا یو نیم زر کاله وړاندې یو صحابي او یا تابعي هم څرګند کړی وي او آن دا چې ما د هغه نظر ټکی په ټکی رانقل کړی وي. ښاغلی لیکوال ماته د بې ادب، مفتري او بې دینه نسبت کوي، نوآیا دا په خپله هماغه صحابي او یا تابعي ته دا ډول نسبت کول نه دي؟ که یوه مسئله زه له فقهي کتابونو څخه رااخلم او یا کم تر کمه د یو عالم نظر او یا د یو فقیه فتوی له عربۍ او یا بلې ژبې پښتو ته رااړوم، تر دې چې زما نظر په کې هېڅ دخیل هم نه وي ماته دا ډول سپك الفاظ کارول کېږي، نو آیا دا د هماغه فقیه او عالم سپکاوی نه دی؟ اوس دې درانه لوستونکي قضاوت وکړي، چې بې ادبه، مفتري او بې دینه څوك دی؟ ما خو په تېره مقاله کې هم له هر نظر سره د هغه د خاوند نوم لیکلی او نقل قول مې ورته منسوب کړی او په دې مقاله کې هم بې سنده خبرې نه کوم.

د ښاغلي لیکوال غوسه په دې خبره ډېره راغلې ده، چې ما رانقل کړې وو:"رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت علي کرم الله وجهه ته وفرمایل، چې "ته له ما څخه یې او زه له تا څخه یم" حضرت علي رضي الله عنه ددې مبارکې وینا په اورېدلو دومره خوشاله شو، چې څو ځله یې د عربانو له دود سره سم پښه په ځمکه ووهله."

او یا هم رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خپل لمسي حضرت امام حسینرضي الله عنه ته وفرمایل، چې په صورت او سیرت (بڼې او خوی) کې ته زما په څېر یې، نو هغه هم له ډېرې خوشالۍ څخه په څېزونو شو.

Download from: ketabton.com

همداراز يې حضرت زيد بن حارث رضي الله عنه ته وفرمايل، :"ته زما خادم ورور يې، هغه هم له ډېرې خوشالۍ څخه د نڅا په څېر حرکات پيل کړل".

اوس که فرض کړو، چې صحابه و يا تابعينو ته په دې رواياتو کې د نڅېدونکيو خطاب شوی دی، نو دا خو ما نقل قول کړی دی او دا خو په حقيقت کې د اسلام د ستر عالم اومنل شوي فقيه امام او علامه محمد غزالي وينا ده، چې د هغه په مشهور تصنيف کيميای سعادت کې يې کتلی شئ او حضرت عطاء الله پالوي په خپل کتاب قرآن اور فنون لطيفه کې هم رانقل کړې ده ، نو اوس به په حضرت امام غزالي څه حکم وکړې؟ ما خو هلته هم د غزالي دا وينا په قوسونو (ليندکيو) کې رانقل کړې ده او حواله مې هم ورکړې ده، نو ولې يې مهر پر ما ولگاوه؟.او د وينا خپل خاوند امام غزالي يې پرېښود او امام غزالي دا هم وايي، چې څوك نڅا ته حرامه وايي، هغه خطا شوی او تېروتی دی.

اوس به د ښاغلي ليکوال د رانقل کړيو دلاېلو جاج واخلو او له دې دلاېلو څخه به دده برداشت هم وارزوو بيا به هم قضاوت لوستونکيو ته پرېږدو.

خو تر هرڅه لومړی په حقوقي چاروکې دولسمشر دسلاکار وزير او دهېواد دنوموتي عالم ( دسترې محکمې اوسنی رئيس ) پوهاند عبدالسلام عظيمي او دسترې محکمې ددارالافتاء درئيس او جيد عالم مولوي محمدصديق مسلم او دهغه له ملگرو نوروهغو قاضيانو او مفتيانوڅخه مننه کوم چې له ډېرو بوختياوو برسېره يې داکتاب ولوست ، زه يې وهڅولم ، دکار نيمگړتياوې يې راپه گوته کړې او گټورې مشورې يې راکړې .

مخکې له دې چې دنيوکې کوونکي دلاېل وارزوو ښه دا ده ، د څېړنې پيل په يوې لنډې پيلېزې وکړو، د يوې مقدمې په ډول د موسيقۍ او نڅا په اړه د علماوو او فقهاوو ويناگانې او نظريات د لوستونکيو مخ ته کېږدو او له دې پيليزې څخه په برداشت اخيستلو يې د بحث منځته بوځو.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## ایا سماع اوموسیقي حرامه ده؟

وړاندې لدې چې دموسیقۍ په اړه فقهي بحث ته ننوزو مناسبه ده چې ووایو په قرآن او حدیثو کې دموسیقۍ او یا میوزیک کلمه نلرو.فقهاوو هم چې کله پدې اړه بحث کړی دی نود غنااو یا دلهو دکارندویو(سامانونو) تر سرلیک لاندې یې مسئله څېړلې ده .

په ژوند کې داسې مسایل ډېر دي، چې د اسلام له هماغو لومړنیو ورځو څخه یې د حکم په اړه علماء بېلابېل نظریات لري، چې په دې ډله کې غنا او نڅا هم شامله ده. علماء او فقهاء د سماع او موسیقۍ په اړه هم بېل بېل نظر لري آن تر دې چې دواړو ډلو په دې اړه افراط او تفریط ته هم ملا تړلې ده. ځینې خلك داسې هم شته، چې موسیقي، ډول، رباب او ارمونیه خو لا پرېږده، چې آن د ځینو مرغانو اوازونه هم نه خوښوي، ځکه چې موسیقیت په کې دی، خواږه لګېږي او انسان ترې خوند اخلي. بله ډله یې بیا په جواز کې دومره افراط کوي، چې موسیقۍ ته هېڅ حد نه مني، هر ډول موسیقي، د هر چا اواز د هر چا په وړاندې روا بولي، چې اسلام بیا دا دواړه افراطي او تفریطي نظرونه ردوي او په هره معامله او هره مسئله کې یې د خپل تعامل له مخې په یو معتدل او منځني چوکاټ کې موسیقۍ ته هم اجازه ورکړې ده، د موسیقۍ لپاره یې حدود ټاکلي، افراطي موسیقي، سکس یا بربنډه موسیقي، فحشا او ګناه ته تحریکوونکې موسیقي نه مني، د انسان له فطرت سره سمه او برابره موسیقي چې پورتني اړخونه ونه لري، روا بولي.

د موسیقۍ په اړه امام غزالي په احیاء العلوم او کیمیای سعادت کې، حضرت امام سعید ابن حزم په المحلی کې ، حضرت مولنا ابوالکلام ازاد په "غبار خاطر" کې، حضرت علامه عطاء الله پالوي په "قرآن اور فنون لطیفه" کې، اوسمهالي د نړیوال شهرت لرونکي عالم علامه دکتور یوسف قرضاوي په "الحلال والحرام فی الاسلام" او "الاسلام والفن" کې ښاغلي ډاکټر محمد عماره په "الاسلا م والفنون الجمیله "کې اوږدې څېړنې کړې دي، چې زما پر دې لیکنه هم د همدې مشاېخو اغېز پروت دی، د لیکنې ډېره برخه مې یا د دوی له اثارو څخه مستقیم اقتباس دی او یا خو یې ممکن غېر مستقیم اغېز وي. ماته خو د موسیقۍ په اړه د دوی نظر د اسلام له روح سره برابر او حق ته رسېدلی برېښي او الله جل جلاله دې توفیق راکړي، چې په دې اړه د اسلام د ریښتوني تصور وپاند او ژباړن واوسم. آمین.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## د هنر او فن په اړه د اسلام دریځ

علامه قرضاوي لیکي: په سندرو کې له دنیوي ښکلا پرته، چې ارواوې تازه کوي، خوښوي یې، تاندوي یې نور څه نشته. سندرې د فطرت غوښتنه ده، غوږونه یې د اورېدلو اشتها لري، خوند ترې اخلي، هماغه ډول خوند، چې معده یې د خوندورې غذا له خوړلو اخلي، هماغه ډول خوند چې سترګې یې د ښکلې منظرې له لیدلو اخلي، هماغه ډول خوند چې پوزه یې د یو پاك شي، یو بوی لرونکي ګل په بویولو احساسوي .

آیا پاك او خوندور شیان په اسلام کې حرام دي ؟.

ښکاره خبره ده، چې الله جل جلاله ځینې روا، پاك او خوندور شیان پر بني اسرائیلو ځکه حرام کړي وو، چې هغوی ته د هغوی د ناوړو کارونو جزا ورکړي. دا حرمت هغوی ته په حقیقت کې سزا ورکول وو:" فبظلم من الذین ها دوا حرمنا علیهم طیبت احلت لهم و بصد هم عن سبیل الله کثیرا و اخذهم الربا و قد نهوا عنه و اکلهم اموال الناس بالباطل". یعنې "د هغه ظلم او تېري له کبله، چې یهودیانو ترسره کړ او په دې خاطر، چې ډېر خلك یې د خدای جل جلاله له لارې منع کړل، پاك او پاکیزه شیان مو چې هغوی ته حلال وو په هغوی حرام کړل. او د سود په اخیستلو په داسې حال کې، چې دوی یې له اخیستلو منع شوي وو او په ناروا سره د خلکو د مالونو او شتمنیو د خوړلو په خاطر (مو دا کار وکړ)". (النساء، 160_161)

بل ځای فرمایي:"یاایهالذین امنوالا تحرمواطیبت ما احل الله لکم ولا تعتدوا ان الله لا یحب المعتدین." یعنې "ای مومنانو هغه څه په ځان مه حراموئ کوم چې الله جل جلاله تاسو ته حلال کړي دي او تېری مه کوئ، الله جل جلاله تېري کوونکي نه خوښوي ".

دلته وینو چې الله جل جلاله هغه خلك تېري کوونکي بولي، څوك چې د الله جل جلاله روا شوي شیان په ځان یا په نورو حراموي.

الله جل جلاله د پخوانیو امتونو د پیغمبرانو په کتابونو کې د حضرت محمدصلی الله علیه وسلم د رالېږلو او د هغه رسالت زېرې په دې ډول کړی دی:"یأ مرهم بالمعروف وینها هم عن المنکر و یحل لهم الطیبت و یحرم علیهم الخبائث و یضع عنهم اصرهم والاغلل التی کانت علیهم". هغوی ته د ښو کارونو په کولو او د ناوړو کارونو په نه کولو امر کوي او پاك شیان ورته حلالوي او ناپاك شیان پرې حراموي او هغه لېږې کوي له دوی څخه ددوی درانه بارونه او د سختیو هغه قیدونه چې دوی په کې بند وو. (الاعراف، 57)

داسې ښه شی به نه وي، چې عقل او روح یې ښه وبولي، ورته میلان ولري او اسلام هغه د خپل هغه رحمت، مهربانۍ او شفقت له مخې، چې په دې امت یې لري، روا کړی ونه اوسي او دې امت ته یې د هغوی په کارولو یا کولو اجازه

Download from: ketabton.com

نه وي ورکړي:"يسئلونك ما ذا احل لهم قل احل لکم الطيبت" يعنې" له تاسې پوښتي چې دوی ته څه شی حلال دي، ورته ووايه چې پاك شيان تاسو ته حلال شوي دي."(مائده 45)

هېچا ته هم اجازه نشته، چې د الله جل جلاله له خوا څخه روا شوي پاك شيان پر ځان يا په نورو حرام کړي. حلال ګرځول او حرام ګرځول د الله جل جلاله واك او اختيار دی او که څوك دا کار کوي، دا په حقيقت کې د الله جل جلاله په اختياراتو او واکونو کې ځان ورګډول دي، چې دا کار په خپله شرك دی. (قل ارئيتم ما انزل الله لکم من رزق فجعلتم منه حراماً و حللاً، قل الله اذن لکم ام على الله تفترون) يعنې"ورته ووايه " دا راته ووايئ چې هغه څه چې الله جل جلاله تاسو ته پيدا کړي دي او تاسو ته يې رزق ګرځولي دي او د هغوی يوه برخه مو روا او يوه برخه مو ناروا ګرځولې ده آيا الله جل جلاله تاسو ته دا اجازه کړې ده [چې ځينې روا او ځينې يې ناروا وګرځوئ] او که په هغه جل جلاله باندې دروغ وايئ." (يونس 59)

ځينې کارونه او شيان الله جل جلاله د خپل لزوم ديد له مخې حرام کړي دي او ځينې يې روا کړي دي، نو الله جل جلاله بيا هېچا ته دا حق نه دی ورکړی، چې د هغه جل جلاله په واك او اختيار کې تشبث وکړي، روا، ناروا او ناروا، روا کړي. د بېلګې په ډول الله جل جلاله زنا، غلا، ناحقه وژنه... حرام کړي دي، نو هېچا ته دا حق نشته، چې دا کارونه روا اعلان کړي. څرنګه چې هېڅوك حق نه لري، چې ناروا، روا اعلان کړي، همدا ډول هېڅوك حق نه لري، چې روا کارونه او شيان ناروا اعلان کړي او که څوك د الله جل جلاله له خوا روا شوي شيان په ځان يا په ټولنه حراموي، نو د الله جل جلاله له هماغه ډول قهر، غضب، عذاب او غوسې سره به مخ کېږي لکه څوك چې غلا يا زنا حلالوي. الله جل جلاله روا کوونکي او ناروا کوونکي دواړه غندي، ګمراه او بې لارې يې بولي. (قد خسرالذين قتلوا اولادهم سفهاً بغير علم و حرموا ما رزقهم الله افتراء على الله، قد ضلوا و ما کانوا مهتدين" يعنې "ښکاره خبره ده، چې هغه کسانو تاوان ليدلی، چې خپل اولاد د حماقت او ناپوهۍ له مخې وژني او هغه څه چې الله جل جلاله دوی ته د روزۍ لپاره ورکړي، نو په الله جل جلاله د دروغو د تړلو له مخې يې پر ځان حراموي، له شك پرته چې په دې کارونو دوی ګمراه کېږي او لاره نه مومي " (الانعام 140(

نو الله جل جلاله هغه کسان غندي، ګواښي يې او رټي يې څوك چې له ځانه، بې دليله، د الله جل جلاله روا او مباح شيان پر مسلمانانو حراموي او د الله جل جلاله له نعمتونو څخه يې بې برخې کوي. هغه که هر څه وي، چې ساز، سرود او موسيقي هم په همدې ډله کې راځي، چې که څوك ښه په دې پوه وي، چې سماع او موسيقي تر دې حده روا ده او بيا هم په حق سترګې پټوي او په تأويلونو، تا ويلو ما ويلو، کمزوريو او موضوعي رواياتو، د قوي، څرګندو او قطعي دلايلو د مخنيوي هڅه کوي. په داسې حال کې چې خپل ضمير او وجدان ته هم قناعت ورکولی ونه شي، نو له شك پرته دوی هم هماغه کار کوي کوم چې بني اسرائېلو کاوه او د الله جل جلاله له عذاب او وعيد سره مخ شول. موږ مسلمانان يو، موږ د ژوند په ټولو چارو کې د يو نظام او يو قانون تابع يو، موږ يو غښتلی ، بشپړ، تلپاتې، تغيير نه منونکی اساسي قانون لرو، چې د اسلام شريعت او په ځانګړي ډول عظيم الشان قرآن دی. زموږ ټولې پرېکړې

Download from: ketabton.com

او فتواګانې به د قرآن او شريعت په رڼا کې وي. له ځانه او د خپل نفس له غوښتنې سره سمې پرېکړې نه شو کولی. الله جل جلاله له دې کار څخه منع کړي يو "ولا تقولوا لما تصف السنتکم الکذب هذا حلال و هذا حرام لتفتروا على الله الکذب" يعنې "او د خپلو ژبو دروغجنو دعوو له مخې مه وايئ چې دا شی حلال دی او دا حرام. ددې کار پايله دا ده، چې الله جل جلاله باندې د دروغو تهمت وايئ". (النحل116)

"قل من حرم زينة الله التى اخرج لعباده" يعنې "ورته ووايه: چا د الله جل جلاله ښکلا (زينت) حرامه کړې ده، هغه ښکلا چې خپلو بنده ګانو ته يې پيدا کړې ده (پنځولې ده).

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## په ټولو چارو او شیانو کې اصل روا والی دی

علما ، فقها او دیني مشایخ وایي، چې د ژوند په ټولو چارو کې اصل روا والی دی یعنې هرڅه په طبیعي ډول روا دي. هره چاره روا ده، هر شی په بنسټیز ډول روا او حلال دي. د هر شي او هر کار کولو اجازه شته ده او کوم شی او یا کومه چاره، چې الله جل جلاله په بنده ګانو حرامه کړې ده او دوی ته یې مناسبه نه وي ګڼلې، نو هغه یې بیا له دې عامې قاعدې څخه د واضح او روښانه فرمان په واسطه استثنی کړي او وېستي دي او مسلمانان یې خبر کړي دي، چې دا او دا کار چې تاسو او ټولنې ته اوس یا په راتلونکي کې تاوان لري، مه کوئ. څرنګه چې دنیوي چارې لکونو آن میلیونونو ته رسېږي او قرآن او حدیث داسې نه کوي چې هرې چارې ته په ځانګړي ډول ګوته ونیسي او د روا او ناروا په اړه یې پرېکړه وکړي، ځکه قرآن او یا په ټولیز ډول شارح اشارې کوي او تفصیل یې علماوو ته پرېښی دی، نو په عمومي ډول یې داسې فرمان صادر کړ، چې په اصل کې هر شی روا دی، هر څه کوئ او که زه ( الله جل جلاله) څه مناسب نه وینم، نو پر هغه مو خبروم او د حرمت په اړه یې خپله پرېکړه دراوروم او د څه شي په اړه چې زه چپ یم او په ښکاره ډول مې حرام کړی نه وي او یا مې د روا والي او ناروا والي په اړه ډاګیزه فیصله نه وي دراورولې، نو هغه چارې تاسو ته روا دي، ځکه چې زه هېروونکی نه یم، هېرول زما عادت نه دی، زه په خپله خوښه او اراده داسې کوم: "و ما کان ربك نسیاً". یعنې "ستا رب هېرووونکی نه دی." (مریم 64)

حضرت رسول اکرمصلی الله علیه وسلم دې مطلب ته داسې اشاره کړې ده:"هغه څه چې الله جل جلاله په خپل کتاب کې روا کړي دي روا دي او هغه څه یې چې حرام کړي دي، حرام دي او د هغه څه په اړه یې چې سکوت کړی دی، الله جل جلاله له هغه څخه تېرېږي، نو له همدې کبله یې د الله جل جلاله لخوا څخه روا والی په رسمیت ومنئ، ځکه چې الله جل جلاله هېڅ هم نه هېروي "و ما کان ربك نسیاً ."

همدا راز فرمایي:" الله جل جلاله په تاسو څه فرایض ایښي دي، هغه مه ضایع کوئ او څه حدود یې ټاکلي دي، له هغو تېری مه کوئ او پرته له دې، چې هېر یې کړي، د ځینو شیانو په اړه یې د شفقت او رحمت له مخې سکوت کړی دی، نو تاسو یې هم په اړه سکوت وکړئ او پلټنه پکې مه کوئ."

_الله جل جلاله فرمایي:"هوالذی خلق لکم ما فی الارض جمیعاً" یعنې "الله جل جلاله هغه ذات دی، چې د ځمکې پر سر یې هرڅه تاسو ته پیدا کړي دي." (بقره29) " و قد فصل لکم ما حرم علیکم الاما اضطررتم الیه" "یعنې "او له شك پرته چې الله جل جلاله تاسو ته هغه څه، چې حرام کړي یې دي، روښانه کړي دي مګر هغه څه چې تاسې پرې اړ باسل شئ". (الانعام 119)

همدا لامل دی، چې علماء وایي: هېڅ تحریم د منلو وړ نه دی، مګر د ښکاره نص له مخې. علامه قرضاوي وایي:"د قران د ډاګیزه نص او یا د رسول اکرمصلی الله علیه وسلم د صریح حدیث او یا د ثابتې او یقیني اجماع له پرېکړې پرته هېڅ تحریم د منلو وړ نه دی. دی وایي که نص او یا اجماع وجود ونلري یا دا چې صریح نص (آیات او یا حدیث)

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



وي، خو صحيح نه وي يا صحيح نص وي، خو د موضوع په اړه صريح نه وي، نو دا د يوې چارې په حراموالي دلالت نه شي کولی او په روا والي يې اغېز کوي او حکم د عفوې په عمومي داېره کې د روا په بڼه پاتې کېږي.

همدې دلاېلو ته په کتنې سره د فقهې د اصولو علماوو دا قاعده هم راوېستې ده، چې :"الاصل فی الاشياء الاباحة" يعنې "په شيانو کې اصل رواوالی دی.".

نو اوس چې څوك موسيقي حرامه ګڼي اړ دي، چې صريح نصوص ولري. قطعي دلاېل وړاندې کړي. په دلاېلو کې يې وضاحت، روښانتيا او پوره څرګندتيا وي، داسې نه چې د ايت يا حديث غرض يو څه وي او دوی يې په تأ ويل، تحريف او تحويل سره په موسيقۍ رااړوي. لکه چې وروسته به يې د دوی له خوا د لهو او لغو په معنی کې ووينو. بيا به د بحث پايلې وڅېړو.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## د موسیقۍ په اړه د ځینو علماوو اند

د تفسير احمد مفسر او د نورالانوار ليکوال ملاجيون، د مسلم شريف شارح، مشهور عالم او د لسګونو ارزښتمنو اثارو ليکونکی امام محي الدين نووي، امام غزالي، امام ابن حزم ، قاضي ابوبکر عربي، د عوارف المعارف ليکوال او د تصوف د سهروردیه طريقې امام، شهاب الدين سهروردي، امام الهند مولينا ابوالکلام ازاد او د مشهور او سمهالي ليکوال او عالم مصطفی زرقاوي او ډاکټر يوسف قرضاوي په څېر لسګونه علما د موسيقي او سماع د رواوالي پلويان دي چې د ځينو نظرونه به په تفصيل سره ولولئ .

ادفوي په خپل کتاب "الامتاع" کې ليکي، چې :" امام غزالي په خپلو ځينو فقهي کتابونو کې ليکلي دي، چې سندرې د موسيقۍ له الو پرته د ټولو په اتفاق سره روا دي". ابن طاهر وايي چې د صحابه و او تابعينو په اتفاق او اجماع سره د موسيقۍ له الو پرته سندرې روا دي.

تاج الفرازي او ابن قتيبه د حرمينو د علماوو او ابن طاهر او ابن قتيبه د مديني د علماوو اجماع په دې اړه رانقلوي.

امام ماوردي وايي:"...تر دې چې د حجاز خلك يې د كال په غوره ورځو کې هم، چې خلك په کې په عبادت مکلف دي، رخصت بولي. (الاسلام والفن.)

ابن نحوي په العمده کې ليکي: داسې روايتونه شته، چې ځينو صحابه و او تابعينو سندرو ته غوږ ايښی دی، چې ده د حضرت عمر، حضرت عثمان، ابن عمر رضي الله عنهم نومونه هم ياد کړي دي. همدا ډول، عمرو ابن العاص، حضرت عايشه، سعيد ابن مسيب، سالم ابن عبدالله ، ابن عمر، ابن عبدالبر، امام ماوردي په البيان کې ،رافعي، ابن ابي شيبه، ابو عبيده ابن جراح، بيهقي، حضرت سعد ابن ابي وقاص، ابن قتيبه ابو مسعود انصاري، بلال، عبدالله بن الارقم، اسامه ابن زيد، حمزه، ابن طاهر، براء ابن مالك عبدالله ابن زبير، ابو طالب مکي ،حسان، زبير بن بکار، قرضه ابن کعب، امام ابو الفرج اصفهاني، خوات بن جبير، رباح بن معترف ابن حسان، خارجه ابن زيد، قاضي شريح، سعيد ابن جبير، عامر شعبي، عبدالله ابن عتيق، عطاء ابن رباح، محمد بن شهاب زهري، عمر ابن عبدالعزيز سعد ابن ابراهيم زهري، په تبع تابعينو کې څلور واړه امامان، ابن عينيه، د موسيقۍ له الو پرته سندرې روا بولي.

امام شوکاني په نيل الاوطار کې هم همدا نومونه ياد کړي دي.

ډېرو علماوو د موسيقۍ له الو سره سندرې روا بللې دي. قاضي ابوبکر عربي په خپل کتاب "الاحکام" کې ليکي:"داسې صحيح حديث وجود نه لري، چې په دې اړه په حرمت دلالت وکړي:" ابن نحوي په خپل کتاب العمده کې همدا خبره کړې ده. ابن طاهر په کتاب السماع کې ليکي:" آن چې د (حرمت په اړه) يوه خبره هم صحيح نه ده".

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ابن حزم وايي:"...په دې اړه يو صحيح حديث هم نشته دی او هر څه چې د موسيقۍ د حرمت په اړه روايت شوي ټول له ځانه جوړ شوي او موضوعي روايات دي او که د ثقه رواياتو له خوا يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته نسبت شوی وای، هرومرو به مو منلي وای".

دميزان الاعتدال دمؤلف امام ذهبي او دلسان الميزان دمؤلف امام ابن حجر عسقلاني په څېر دحديثو نوموتي علماء هم ددا ډول حديثو روايت کوونکي څېړي او نقد پرې کوي چې ورروسته به يې ولولئ.

حضرت امام غزالي وايي:"هغه څوك چې سماع اوموسيقي يې په حرکت او خوځښت رانه ولي له عقلي او بدني ناروغۍسره مخ او نيمګړی دی، تعادل نه لري، له روحانيت څخه لرې دی او په وچ طبيعت اوبد ذوق کې تر اوښ، مرغانو اونورو حېواناتو هم بدتر دی، ځکه چې اوښ د خپل وچ طبيعت برسېره هم له خواږه غږ سره مست شي او بار لاندې منډه وهي".

حضرت ابو داؤد فرمايي:"زه چې څومره لهو ته تمايل کوم هاغومره مې په حق نفس قوي کېږي".

بيا هم غزالي ليکي:" موسيقي د زړه د ناروغيو درمل ده او زړه له ناروغيو، ستړتيا او ناآرامۍ څخه ژغوري، نو ځکه مباح ده".

امام شوکاني په نيل الاوطار کې ليکي:"د مدينې اوسېدونکي او له هغوی سره په ظاهريه و او صوفيه و کې د نظر ملګري د سندرو په روا والي قانع دي که څه هم له چنګ او رباب سره وي".

ابو منصور بغدادي شافعي وايي :"عبدالله ابن جعفر به د سندرو په اورېدلو کې کومه ستونزه نه ليدله او خپلو وينځو ته به يې د سندرو ويلو اجازه کوله، ډېر وخت به يې له هغوی سندرې اورېدلې او دا هم د حضرت امام عليك د خلافت زمانه وه".

حضرت امام غزالي فرمايي:"رقص (نڅا) مباح ده ".

د حبشو لوبې ته چې بخاري يې هم روايت کوي امام غزالي د نڅا او سرود نوم ورکوي.

حضرت عطاء الله پالوي ليکي:"د مسلمانانو هغه کتاب کې، چې د هر مسلمان په کور کې ايښی دی، يو ځل نه دوه ځله اشاره کوي، چې موسيقي پيغمبري لاره ده."

علامه بدرالدين عيني حنفي د بخاري په شرح کې وايي:" له حضرت داؤد سره ارمونيه وه، چې هغه به ورسره سندرې وېلې." ابن حجر عسقلاني په فتح الباري او امام شوکاني په کتاب السماع کې ليکي: عبدالرزاق په خپل مسند کې له عبدالله ابن عمر څخه روايت کوي :" حضرت داؤد به ارمونيه غږوله او د زبور تلاوت به يې کاوه."

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



فکر وکړئ نه یواځې دا چې حضرت داؤد به له زبور سره ارمونیه غږوله، بلکې له زبور پرته به یې په دومره خوند سره سندرې هم ویلې، چې آن الوتونکي به یې هم اغېزمن کړل او ډلې ډلې به ترې راتاو وو .

سلطان المشایخ حضرت نظام الدین اولیاء وایي:"په هغه قوم به د خدای جل جلاله عذاب ولې نه راځي، چې ته ورته د موسیقۍ د روا والي په اړه احادیث وړاندې کړې او هغه یې په وړاندې درڅخه دامام ابو حنیفه قول وغواړي".

امام غزالي وایي:"هغه څوك چې له دریا (دایره) سره سندرې حرامې بولي، نو هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له فعل څخه ښکاره انکار کوي، چې دا په خپله کفر دی".

د ډهلي ستر محدث حضرت شیخ عبدالحق وایي:"محدثین وایي، چې د موسیقۍ د حرمت په اړه یو حدیث هم صحیح نه دی". حنفي محدث حضرت سید جمال الدین وایي:"د موسیقۍ د حرمت په اړه چې وروستني علما کوم احادیث وړاندې کوي او استدلال پرې کوي، هغه نه ثابت شوي دي او نه کوم اصل لري، ځکه چې که په دوی کې کوم حدیث صحیح وای، نو ښاغلیو مجتهدینو به پرې استدلال کړی وای، صحیح او حسن حدیث خو پرېږده، چې آن داسې ضعیف حدیث هم نشته، چې د موسیقۍ حرمت ثابت کړي".

حضرت مخدوم سید اشرف جهانګیري وایي:"د سماع تر ټولو ښه ځای مسجد دی".

حضرت شیخ نقي الدین وایي:"د سماع په محفل کې ګډون د خدای جل جلاله درضا لامل ګرځي."

حضرت مولینا عبدالرحمن لکهنوي وایي:"سماع زموږه عبادت دی او مسجد د عبادت لپاره ځانګړی شوی دی".

شیخ الفقهاء خیرالدین املي وایي:"سماع د جواز له حده تېر، د استحباب درجې ته رسېدلې ده".

د اهل حدیثو نامتو عالم نواب صدیق حسن خان وایي:"د سندرو او موسیقۍ د حرمت په اړه مې نه په قرآن کې آیت وموند او نه مې د حدیثو په کتابونو کې کوم حدیث تر سترګو شو".

علامه شا جعفر وایي:"ماته له ساز او سرود سره د موسیقۍ په روا والي کې هېڅ شك نه دی پاتې له همدې کبله د نورو دلایلو وړاندې کولو او نور بحث ته هېڅ اړتیا نشته".

هغه دا هم لیکي چې کله د موسیقۍ په اړه بحث راشي، نو ضرور ورسره دا شرط ایښودل کېږي، چې که له موسیقۍ سره فواحش وي، یا شراب او نور منکرات وي، یا شهوت پاروونکې ویناوې یا پَرې (قطعې یا تاش) وي یا د کوم مسلمان او یا هندو غیبت په کې کېږي، نو دا ډول موسیقي حرامه ده... نه پوهېږو چې له موسیقۍ سره ولې دا شیان تړل کېږي. دا شیان خو چې هر چېرې وي، په هره معامله کې وي، ناروا دي [ځکه دا شیان په خپل ذات کې حرام دي] ددې لپاره ولې موسیقي ځانګړې کېږي؟ ولې دا شیان له نورو مسایلو سره نه تړل کېږي؟ ولې داسې نه ویل کېږي چې که د شرح وقایې د ځینو پاڼو په لوستلو شهوت راپارېږي، نو لوستل یې روا نه دي؟. ولې داسې نه

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ويل کېږي، چې که په مسجد کې کرمبول کېږي او جذبې او احساسات زيانمنوي، نو مسجد ته راتلل روا نه دي. ولې داسې نه ويل کېږي، چې که د ښځو د اواز په اورېدلو او د هغوی په ليدلو پاروونکي خيالات راځي، شهوت راوېښېږي، نو د هغوی شهادت حرام دی .

دې محترم په دې اړه اوږده څېړنه کړې ده، د موسيقۍ په اړه يې د اسلام او موسيقي په نوم کتاب ليکلی دی، چې له ډېرو دلايلو او څېړنو وروسته ليکي :"موسيقي له ساز او سرود سره او بې ساز او سروده روا ده".

علامه عطاء الله پالوي وايي :"دا په حضرت رسول کرم صلی الله عليه وسلم پسې بهتان دی، چې ګواکې هغه صلی الله عليه وسلم موسيقي حرامه بللې ده".

امام شوکاني وايي:"د موسيقۍ د حرمت په اړه د اجماع دعوه له يوې مخې باطله ده." دی زياتوي:"د ساز او سرود د حرمت په اړه، چې څومره روايتونه رانقل شوي دي يو يې هم صحيح نه دی، ټول باطل دي".

امام شوکاني وايي، چې قاضي ابوبکر بن عربي او امام ابن حزم هم کټ مټ همدا نظر لري. شوکاني له استثناء پرته وايي، چې "د موسيقۍ د حرمت په اړه چې څومره حديثونه وړاندې کېږي، ټول موضوعي دي".

د نړېوال شهرت خاوند نامتو بنګالی شاعر او اديب رابندرنات ټاګور وايي، چې ځينې وخت انسان دومره مجذوب او دومره تراغېز لاندې راشي، چې د خپل حال د بيانولو لپاره الفاظ نه لري، نو کله چې الفاظ خلاص شي، نو د همدې حال د بيانولو لپاره موسيقي ته مخ ورواړوي او مرسته ترې وغواړي.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## د موسیقۍ د حرمت د پلویانو دلایل

_1د موسیقۍ د حرمت پلویان په هغه روایت استناد کوي، چې حضرت عبدالله ابن عباس، حضرت عبدالله ابن مسعود، امام مجاهد ، عکرمه او ځینو نورو صحابه و رضي الله عنهم ته منسوب شوي او دعوه کوي، چې الله جل جلاله په دې ایت کې موسیقي حرامه ګرځولې ده."و من الناس من یشتری لهوالحدیث لیضل عن سبیل الله بغیر علم و یتخذها هزوا اولئك لهم عذاب مهین." یعنې "په خلکو کې داسې کسان هم شته، چې بې ګټې او چټي خبرې اخلي، چې بیا په دې خبرو سره د الله جل جلاله بنده ګان په ناپوهۍ سره له حقې لارې واړوي او هغه آیتونه ریشخند کړي. دوی ته رسوا کوونکی او ذلیلوونکی عذاب دی." (لقمان 6)

دوی د لهوالحدیث معنا سندرې اخیستې دي.

دوی وایي چې ابن شعبان له حضرت عبدالله ابن عباس څخه روایت کوي چې هغه به په دې آیت کې له لهو څخه غرض موسیقي بلله ، خو عماره وایي چې دابن شعبان ټول روایات دله منځه وړلو وړ دي.

ابن حزم وایي، چې د دوی دا وینا د څو لاملونو له مخې د منلو وړ نه ده، یو خو دا چې له دې آیت څخه دا ډول تفسیر نه له حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دی او نه له صحابه و څخه ، بلکې د ځینو مفسرینو وینا ده چې حجت پرې نه شي کېدلی ځکه له الله جل جلاله اوله رسول الله صلی الله علیه وسلم پرته د هېچا وینا حجت نه ده. دوهم دا چې دا وینا او دا تفسیر د نورو صحابه و او تابعینو له وینا سره مخالف دی . دریم دا چې په خپله همدا آیت په دې آیت باندې د دوی استدلال ردوي، ځکه چې دا آیت وایي، چې "په خلکو کې داسې کسان هم شته چې بې ګټې او چټي خبرې اخلي، چې بیا په دې خبرو سره (د الله جل جلاله بنده ګان) په ناپوهۍ سره له حقې لارې واړوي او هغه ریشخند کړي." دا خو داسې یو صفت دی، چې که په هر چا کې وي، نو هغه کافر دی، ځکه چې د الله جل جلاله لاره یې ریشخند کړې ده.

ابن حزم وایي:"که څوك کوم کتاب واخلي، چې خلك پرې له حقې لارې واړوي، نو کافر دی ځکه چې الله جل جلاله هغه غندلی دی. خو الله جل جلاله هېڅکله هغه کسان نه دي غندلي، چې بې ګټې او چټي خبرې د ساعت تېرۍ لپاره اخلي. ددې لپاره نه چې خلك پرې له حقې لارې واړوي، نو له همدې لامله یې په دې آیت استناد باطل او بې ځایه دی. همدا ډول هغه خلك، چې په قصدي ډول د قرآن په تلاوت سره فرض لمونځ پرېږدي یا هغه څوك چې د نفلو په کولو سره فرض یا واجب لمونځ نه کوي یا د سندرو او ترانو په اورېدلو سره کوم فرض کار پرېږدي، نو دا شخص فاسق او ګناهګار دی، خو که څوك ددې کارونو په کولو سره فرض نه پرېږدي، نو دا خو یې بد کار ندی کړ ی .

)المحلي لابن حزم 60/9(

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



امام قرطبي ( ٦٧١ هجري ١٢٧٣ م ) په جامع الاحكام القران کې ددې آيت په تفسيرکې ډېر بحث کړيدی او وايي چې دلته چې کوم لهو نا وړه ښودل شوي هغه ښه هنري غږ نه دی، بلکې هدف هغه غږ دی چې په انسان کې شهواني او حيواني غرايز تحريکوي يا هغه غږ هدف دی چې خلک له ايمان څخه اړوي ، لکه د مکې د مشرکانو يو مشر ( نصر بن الحارث بن علقمه ) ٢ هجري _ ٦٢٤م ) چې کول ، نوموړی د قريشو له شيطانانو او د بدر په غزا کې د هغوی د بيرغ له لېږدوونکيو څخه و ، هغه به د ناعربو کتابونه او وينځې پېرلې چې په هغوی سره خلک بې ايمانه کړي يعنې هغه به د وينځو په سندرو او ددې کتابونو په ويلو خلک د قرآن له اورېدلو اوله اسلام راوړلو منحرفول او گمراه کول .

دلته هم موخه همدا ډول لهو ده چې د خدای جل جلاله د بنده گانو له گمراه کولو پرته بله موخه نلري .

قرطبي همداراز وايي چې د حسن بصري ( ٦٤٣ _ ٧٢٨ م )په اند دلته له لهو څخه غرض ( کفر او شرک ) دی .

مفسرين وايي چې نصر بن الحارث د رستم او اسفنديار او د ايراني پاچايانو د کيسو کتابونه پېرل او بيا به چې په مکه کې چا وويل چې محمد صلی الله عليه وسلم دا ډول وايي نو ده به هغوی ريشخند کړل او د ايرانيو پاچايانو کيسې به يې ورته کولې او ويلې به يې چې زما خبرې د محمد صلی الله عليه وسلم له خبرو غوره دي . همدا راز نصر بن حارث به وينځې پېرلې او چې چا به غوښتل مسلمان شي نو هغه به يې خپلو سندرغاړو وينځو ته ورووست ، ښه خوراک او څښاک به يې پرې وکړ او بيا به يې ورته وويل چې دا درته له لمانځه او روژې څخه چې محمدصلی الله عليه وسلم يې درڅخه غواړي. او دا چې د محمدصلی الله عليه وسلم لپاره وجنگېږې غوره دي نو بيا دا آيت نازل شو .

نو دلته له لهو څخه موخه دا ډول لهوده چې الله جل جلاله وغندله.

علامه الوسي وايي چې ددې ايت ښه تفسير هغه دی چې حسن روايت کړی دی . : کل ماشغلک عن عبادة الله وذکره من السمروالاضاحيک والخرافات والغناء ونحوها(

يعنې : هرهغه څه چې انسا ن دالله ج له عبادت او له ياد څخه مشغول ساتي هغه که ټوکې وي ،که نکلونه وي او که سندرې او که داسې نور ټول لهوالحديث ده . ٢٤ ټوک ٩١ مخ

جلالين تفسير ددې ايت( واستفزز من استطعت منهم بصوتک ) الاسراء٦٤

يعنې : (( او له هغوی څخه دې چې په چا وس رسېږي نو په خپل غږ يې سپک ( ذليل ) کړه .))

په تفسير کې وايي چې مجاهد وايي چې دشيطان غږ خوشې خبرې او لوبې دي .او عبدالله ابن عباس وا يي چې دشيطان غږ هره هغه وينا ده چې خلک گناه ته بولي

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



شهید آیت الله ډاکټر بهشتي هم موسیقۍ ته اشاره کړېده چې موږ د هغه د نظر لنډیز له www.hmazaheri.com/bookویب سایټ څخه رااخلو: (( هغه ددې په تفسیرکې وایي چې کله به رسول اکرم صلی الله علیه واله وسلم د جمعې په ورځ پر منبر خطبه اوروله، سوداګریز کاروان به راغی او خلکو به د کاروان مخې ته د خوښۍ د ښکارولو لپاره ډول او دریا وهله نو په مسجد کې له رسول الله صلی الله علیه واله وسلم سره ناستو ځینو د کمزوري ایمان خاوندانو به لمونځ او مسجد پرېښود او د ډول او دریا خواته به یې منډه کړه چې الله جل جلاله ددوی په دې کار نیوکه وکړه او ویې غنده: (( قل ما عندالله خیر من اللهو ومن التجاره )) یعنی: (( هغه څه چې له الله جل جلاله سره دي له لهو او سوداګرۍ څخه ډېر غوره دي (( .

ډاکټر بهشتي همداراز زیاتوي چې ډېرو داسې ویلي دي چې په دې ځای کې له لهو څخه غرض هماغه د شپېلۍ، نغارې او طبلې غږ دی چې له بهر څخه ښار ته راننوتونکي سوداګریز کاروان به ددې لپاره غږاوه چې خلک خبر شي او د پلورلو او پېرودلو لپاره ورته ورشي، نو کله به چې په مسجد کې د کمزوري ایمان خاوندانو داسې غږ واورېد نو یا به ددې غږ د اورېدلو لپاره او یا به د سوداګریزې معاملې لپاره له مسجد څخه په وتلو شول او رسول صلی الله علیه واله وسلم به یې پر منبر ناست پرېښود، چې الله جل جلاله د دوی د ا کار وغنده. خو دا سمه نه ده چې له دې ایت څخه د موسیقۍ د حرمت لپاره کار واخیستل شي، لکه څنګه چې له دې ایت څخه د سوداګرۍ د حرمت لپاره کار نه شو اخیستلی .

څو ځایه په قرآن کې د لغو کلمه هم راغلې ده او ځینو فقهاوو لغو هم لهو معنی کړېده او لغو ښه نه ده ګڼل شوې، خو بیا هم د لهو په حرمت دلالت نه شي کولی .

امام غزالي د یو چا په ځواب کې، چې ویلي یې وو "سندرې لهو، بې ګټې او د ساعت تېرۍ شی دی" ویلي دي:"هو همداسې ده، خو خبره دا ده چې دا دنیا ټوله بې ګټې او لهو ده... له ښځو سره له هغه یوځای والي پرته، چې د اولاد زېږولو لامل وګرځي، نور هر ډول یوځای والی، مستي او لوبې بې ګټې دي (خو خلك یې کوي، ځکه چې نفس یې غواړي) هر لهو آن د حبشي غلامانو لوبو ته د بي بي عایشې کتل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم هڅول ټول روا او په نص ثابت دي... لهو زړونه تازه کوي، اروا تاندوي، فکري ستومانتیا له منځه وړي او زړونه، چې له تازه ګۍ او نشاطت څخه لېرې وساتل شي، نو مړاوي او وژل کېږي... نو موسیقي روحي درمل ده، چې د ستړتیا او مړاویتوب د ناروغیو علاج کوي، خو باید په اورېدلو کې یې افراط ونه شي. لکه چې د دوا او درملو په خوړلو کې افراط په کار نه دی. په همدې خاطر لهو په دې نیت د قربت ( الله جل جلاله ته د نږدېوالي) لامل ګرځي". (احیاء العلوم 1152)

_2د موسیقۍ د حرمت پلویان په دې آیت، چې د نیکو مؤمنانو په ستاینه کې راغلی استدلال کوي:"و اذاسمعوا اللغواعرضوا عنه" یعني "کله چې چټي خبرې واوري، نو مخ ترې اړوي." (قصص 55)

Download from: ketabton.com

دوی وايي، چې سندرې هم په لغو او چټي خبرو کې راځي، نو ځان ساتل ترې واجب دي.

شېخ قرضاوي ځواب ورکوي، چې له دې آيت څخه چې څه څرګندېږي، هغه دا دي چې لغو عبارت دی له بدې وينا، کم عقلې خبرې، ترخې وينا او نورو څخه او دا آيت هم په همدې خبره شاهد دی:"واذاسمعوا اللغو اعراضواعنه و قالوا لنا اعمالنا و لكم اعمالكم سلام عليكم لا نبغي الجهلين". يعنې "او کله چې بې ګټې خبرې واوري، نو مخ ترې اړوي او ورته وايي، چې زموږ کارونه زموږ او ستاسې کارونه ستاسو دي، [زموږ خپل کار او ستاسو خپل کار دی] د خدای جل جلاله په امان موږ ناپوهان نه غواړو." (قصص 55)

او دا د عبادالرحمن (د خدای جل جلاله د بنده ګانو) په صفت کې د الله جل جلاله ددې ستاين ډوله وينا په څېر ده، چې فرمايي:"... و اذا خاطبهم الجهلون قالوا سلما" يعنې "او کله چې ورته ناپوهان څه ووايي، نو دوی ورڅخه د سلام په ويلو (سالمې خبرې) ځان خلاصوي." (فرقان 63)

که ومنو، چې په دې ايت کې يادې شوې لغو کې سندرې هم راځي، نو بايد چې داسې څه په کې راغلي وای، چې د سندرو نه اورېدل يې ستايلي وای او ښه کار يې ګڼلی وای په داسې حال کې چې دلته داسې څه نه وينو.

د لغو کلمه د باطل د کلمې په څېر هر هغه شي ته وايي، چې ګټه په کې نه وي او داسې شي ته غوږ ايښودل يا يې کول چې ګټه په کې نه وي، تر هغې بد نه دي، چې د بل چا حق ضايع نه کړي او يا د فرضو او اړينو کارونو مخه ونه نيسي. له ابن جريح څخه روايت شوی دی، چې هغه سماع (روحاني موسيقي) اورېدل جايز بلل، چا ترې وپوښتل، چې آيا دا کار به دې د قيامت ورځ په نيکو کارونو کې وشمېرل شي او که په بدو کارو کې؟ هغه ځواب ورکړ: نه په نيکو کارونو کې او نه په بدو کارونو کې دا د لغو په څېر ده او الله جل جلاله فرمايي:"لايواخذكم الله باللغو فى ايمانكم" يعنې " الله جل جلاله مو په هغو سوګندونو نه نيسي، چې په ناپامۍ کې يې يادوئ"

)بقره 225، مائده 89 (

امام قرطبي ( ٦٧١ هجري ١٢٧٣ م ) په جامع الاحكام القران کې ددې آيت په تفسيرکې ډېر بحث کړيدی او وايي چې دلته چې کوم لهو نا وړه ښودل شوې هغه ښه هنري غږ نه دی، بلکې هدف هغه غږ دی چې په انسان کې شهواني او حيواني غرايز تحريکوي معنی خبرې يا کار دی چې هېڅ ديني يا دنيوي ګټه پکې نه وي .

معارف القران ١٨ ټوک ٩ مخ

امام غزالي فرمايي "که له تصميم او هوډ پرته په ناپامۍ کې قسم يا د خدای جل جلاله نوم يادول دا خو پرېږده، چې فايده نه لري، مواخذه يا د خدای جل جلاله له خوا نيونه هم نه لري، نو شعر او نڅا به څرنګه ګناه او دهغه جل جلاله لخوا نيونه ولري "!

)احياء العلوم، کتاب السماع(

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



نو له همدې کبله موږ وايو، چې هره سندره لغو نه ده، بلکې په دې کې د ويونکي او يا اورېدونکي نيت او غرض ډېر مهم دی، ښه نيت لهو او ټوکه د خدای جل جلاله د نږديکت او قربت لامل ګرځوي او ناوړه نيت آ ن هغه عملونه هم، چې په ظاهره ښه دي او عبادت بلل کېږي په حقيقت کې باطلوي .

حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايي:"ان الله لاينظر الی صورکم و اموالکم ولکن ينظر الی قلوبکم و اعمالکم" يعنې " الله جل جلاله ستاسو ظاهر (ښکاره بدن) او شتمنيو ته نه ګوري، بلکې ستاسو زړونو او کارونو ته ګوري." (مسلم)

ډاکتر عماره او شېخ قرضاوي په دې ځای کې د ابن حزم هغه ګټوره وينا رالېږدوي، چې د سندرو د مخالفينو په ځواب کې يې ليکي: "هغوی پوښتي چې سندرې روا دي او که ناروا؟ او په دې باور دي، چې په دې اړه دريمه لاره يا دريم حکم نشته، ځکه چې الله جل جلاله فرمايي:"فماذا بعدالحق الاالضلال" يعنې "آيا له حق وروسته له ګمراهۍ پرته بل څه شته(؟)". خو دوی ته زموږ ځواب دا دی، چې حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايي:"انما الاعمال بالنيات و انمالکل امرء مانوی" يعنې "د اعمالو د ښه والي او بدوالي معيار نيت دی او هر انسان ته د هغه د نيت جزا ده."

دا يوه قاعده ده، هر شي ته د همدې معيار له مخې کتل کېږي. هر څوك، چې سندرې په دې نيت اوري، چې زړه يې ژوندی او روح يې تازه شي، سستي او تنبلي ترې کډې بار کړي او د الله جل جلاله بنده ګي په خپل ډول وکولی شي، ښو کارونو ته وهڅول شي، نو له شك پرته، چې ښه کار يې کړی دی او که د چا نيت نه ثواب او نه ګناه وي، نو دده دا کار لغوه ده، چې نه ګناه لري او نه ثواب، لکه بڼونو ته تلل، د ساعت تېرۍ لپاره د خپل کور په مخ کې ګرځېدل، له خپل ذوق سره سم د رنګونو ټاکل او ..." (المحلی 60/9)

شهيد آيت الله ډاکټر بهشتي ددې ايت : (( و اذ سمعوا اللغو اعرضوا عنه)) يعنی: (( کله چې لغو واوري نو ځان ترې ژغوري .)) په تفسير کې وايي چې که لغو د لهو په معنی وي او که په بله ځانګړې معنی، د آيت ښکاره غرض دادی چې له دې آيت څخه د موسيقۍ د حرمت لپاره کار نه شي اخيستل کېدای، نو پر دې بنسټ ويلی شو چې په قرآن کې داسې آيت نه شو موندلی چې هغه دې د موسيقۍ په حرمت او آن په ټوليز ډول د لهو او لغو په حرمت دلالت وکړي .

_3د حرمت پلويان په دې حديث استناد کوي:" د مؤمن له خوا چې هره لهو ترسره کېږي، نو باطله ده مګر له خپلې

مېرمنې سره لوبې، د آسونو پالنه اوروزنه او غشي ويشتل" .(اصحاب السنن)

دوی وايي چې په دې ځای کې سندرې نه دي يادې شوې، نو اورېدل يې روا نه دي.

Download from: ketabton.com

خو د روا والي پلويان بيا ځوابورکوي، چې دا حديث ضعيف (کمزورى) دى او استدلال پرې نه کېږي او که داومنو، چې صحيح دى، نو دا خو بيا هم د حرمت معنى نه ورکوي، بلکې په بې ګټې توب دلالت کوي.

دا حديث دوه ډوله سند لري په يوه کې يې عبدالله ابن زيدبن ازرق دى او په بل کې يې خالد بن زيد دى او ډاکټرمحمد عماره وايي چې دحديثو دپوهانو په نظر دواړه مجهول دي

له حضرت ابو درداء څخه رانقل شوي دي چې وايي:" زه چې څومره کولى شم، نو باطل کارونه کوم، ددې لپاره چې د حق د پلويتوب قوت مې ډېر شي." (الاسلام والفن)

دکتور قرضاوي وايي، چې که پورتنى حديث صحيح هم وي، نو غرض يې دا نه دى، چې ګونديې يواځې هم دا درې لوبې روا دي يعنې دا انحصاري حديث نه دى که داسې واى، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به په نبوي مسجد کې حبشو ته د لوبې ــ چې دى هم د دوى لوبې نڅا بولي ــ اجازه نه وه ورکړې، نه به يې خپله ددې لوبو ننداره کړې وه او نه به يې حضرت عايشې رضي الله عنها ته ددې لوبو د ننداري اجازه ورکړې وه. په بڼونو، ګلکڅونو... کې ګرځېدل، د الوتونکيو خواږه غږونه اورېدل... که څه هم باطل او بې ګټې دي، خو حرام نه دي.

همداسې دوه نور روايتونه هم شته دي لکه : (( ليس لهو المؤمن الا ثلاث: رمى الرجل بقوسه او تأديبه فرسه او ملاعبته امراته )) يعنې: (( مؤمن له دې درې ساعت تېريو پرته د نورو اجازه نلري : غشي ويشتل ، د اسونو روزنه او له خپلې مېرمنې سره لوبې . ))

ددې حديث په سند کې هم خالد بن زيد دى چې مجهول دى .

يو بل روايت کې د عطاء ابن ابي رباح له خولې ويل شوي چې جابر بن عبدالله انصاري او جابر بن عبيد انصاري مې وليدل چې غشي يې اورول ، له دې دواړو څخه يوه بل ته وويل چې آيا تا نه دي اورېدلي چې د خداى جل جلاله پيغمبرصلى الله عليه وسلم فرمايي:(( کل شى ليس من ذکرالله فهولعب لايکون اربعه : ملا عبة الرجل امراته و تاديب الرجل فرسه و مشي الرجل بين الغر ضين و تعليم الرجل السباحة )) يعنې : (( هر شى چې د خداى جل جلاله ياد په کې نه وي اوله دې څلورو شيانو هم نه وي نو لوبې دي ،هغه له خپلې مېرمنې سره لوبې ، د خپل آس روزنه ، د دوه درو تر منځ پلى تګ او لامبو يادول دي . ))

ابن حزم وايي چې دا روايت جعلي دى او په اسنادو کې يې په ناوړه ډول تدليس کړى دى ، ( يعنى چې څوک له خپل هم مهالي څخه داسې څه روايت کړي چې ترې اورېدلي يې نه وي يا خپل شيخـ هغه څوک چې ترې روايت کويـ ، په داسې نوم ياد کړي چې پرې مشهور نه وي ) ځکه چې ددې حديث په سند کې چې کوم زهري دى دا هماغه نوموتى او مشهور ابن شهاب زهري ندى ، بلکې دا بل نا پېژندل شوى او مجهول زهري دى چې عبدالرحيم نومېږي او خالد بن ابي زيد يې هم په سند کې دى چې هغه هم مجهول دى .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



_4د موسیقۍ د حرمت پلویان په دې روایت هم استناد کوي، چې بخاري یې له ابو مالك او ابوعامر اشعري څخه رانقلوي:"لیکونن قوم من امتی یستحلون الحر و الحریر والخمر و المعازف" یعنې "زما په امت کې به داسې خلك پیدا شي، چې زنا حلالوي، د ورېښمو ټوټې، شراب او معازف مباح بولي." (بخاري) .

دکتور محمد عماره وایي چې بخاري دې روایت ته کوم سند نه دی وړاندې کړی یواځې دومره یې وېلي چې هشام بن عمار له عامر څخه روایت کوي او ابوعامر خپله مجهول دی .

ددې روایت دراویانوژوند لیک په تهذیب التهذیب کې ښه روښانه شوی دی

خو ابن قیم جوزي په روضة المحبین کې دابن حزم وینا ننګوي او وایي چې داخبره له ابن حزم څخه پټه پاتې ده چې بخاري چې له چا څخه روایت کړی دی هغه هشام بن عمار دی او هغه یې لیدلی دی او له بخاري پرته دحدیثو نورو امامانو ورته سند ورکړی دی

په الاسلام والفن کې ددې روایت په اړه لیکي: دا حدیث که څه هم بخاري رانقل کړی دی، خو دا د معلقو حدیثو له ډلې څخه دی او مسند متصل نه دی. همدا لامل دی، چې امام ابن حزم یې د سند د منقطع کېدلو (تر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پورې د راویانو د لړۍ نه رسېدل) له کبله ردوي او نه یې مني، له معلق والي پرته نورو هم وېلي دي، چې په سند او متن دواړو کې یې نیمګړتیا شته ده.

امام حافظ ابن حجر عسقلاني کوښښ کړی دی، چې ددې روایت سند متصل کړي او دې کار ته یې له نهو لارو هڅه کړې ده، خو دا ټولې لارې هماغه راوي ته ورګرځي، چې د حدیثو امامان او نقادان پرې نیوکې لري. دا شخص د عمار زوی هشام دی.

)تعلیق التعلیق د حافظ ابن حجر(

نوموړی که څه هم د دمشق خطیب، محدث او عالم وو او ابن معین او عجلي یې ثقه بولي، خو امام ابو داؤد د هغه په اړه وایي:" څلور سوه حدیثونه یې روایت کړي دي، چې هېڅ اصل او بنسټ نه لري." ابو حاتم یې په اړه وایي :"رښتیا ویونکی دی، خو تل نه، څه یې چې لاس ته ورغلل، خلکو ته یې وویل، څه چې ورته ورښودل شوي دي، خلکو ته یې [بې له پلټنې] وړاندې کړي دي".

حضرت امام احمد یې په اړه وایي:"بې مغزه او کم عقل دی".

نسايي یې په اړه وایي:"هغه ته باید هېڅ توجه ونه شي" یعنې [هېڅ ثقه نه دی].

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



حافظ ذهبي که څه هم له نوموړي څخه دفاع کړې ده، خو وايي چې "هشام رښتيا ويونکی دی، خو ډېرې خبرې کوي او داسې اقوال لري، چې کولی شو رد يې کړو... په اختلافي او هغو مسايلو کې چې د ټولو په ژوند پورې اړه لري، د دا ډول خلکو روايت نه منل کېږي".

ددې حديث په اصل متن او سند کې له خبرو سربېره ددې حديث په دلالت او محتوی (منځپانګه) کې هم څه خبرې او اختلاف شته دی. په صحيح او دقيق ډول معلومه نه ده، چې له معازف څخه غرض څه دی؟ معازف يعنې څه؟ ځينې وايي د لهو او ساعت تېرۍ وسايل ترې غرض دي، دا هم ويل شوي دي چې معازف يعنې د سندرو او موسيقۍ سامان. که بيا هم دا ومنو، چې دلته له معازف څخه هدف د موسيقۍ وسايل دي، نو د حديث لفظ چې په بخاري کې په معلق ډول راغلی د معازفو د تحريم ښکاره څرګندوی نه دی، ځکه چې [د حلال بولي] لفظ لکه څنګه يې چې ابن عربي وايي دوه معناوې لري، يوه معنا دا چې د هغوی په حلالوالي عقيده او باور لري او دوهمه يې مجازي معنا ده، چې په استعمال کې يې اسانۍ او سطحي نظر ته وايي. دلته که لومړی معنا مراد وای يعنې د لفظ حقيقي معنا، چې هغه په حلالو د حرامو بدلول دي، نو دا خو کفر ګڼل کېږي، ځکه هغه څه حلال بلل، چې حرمت يې قطعي وي لکه زنا، شراب... نو دا خو د ټولو په اتفاق کفر ده.

که ومنو، چې حديث دلته په حراموالي دلالت کوي، نو آيا هدف دا دی چې دا څه شيان چې په دې حديث کې ياد شوي [زنا، شراب، ورېښم او موسيقي] دا ټول يوځای کول حرام دي او که هر يو يې بېل بېل ترسره کول حرام دي؟ دلته لومړی قول [يوځای کول] قوي برېښي، ځکه دا حديث هغه خلك غندي او د هغو خلکو اخلاقو ته اشاره کوي، چې په زنا، شراب څښلو، شپې ناستې ]شب نشينئ[ له کاره وتي، ټوله مخه او ټول سر او کار يې له نجونو، شرابو، کبابو، سروزرو، ورېښمو او ټنګ ټکور سره دی.

ابن ماجه دا حديث له ابو مالك اشعري څخه په دې ډول روايت کوي:" زما له امت څخه به ځينې کسان شراب څښي، خو بل نوم به ورته ږدي، په مېلو او د سندرو غاړو ښځو په غېږه کې به پروت وي. الله جل جلاله به يې په ځمکه خښ کړي او خنزيران او بيزوګان به ترې جوړ کړي." همدا راز ابن حبان په خپل (صحيح) کې او بخاري په خپل تاريخ کې دا روايت کړی دی، خو هر چا چې له هشام پرته له بل چا روايت کړی دی، تاکېد يې پر شرابو کړی دی او سندرې او موسيقي يې د زنا او شرابو د مجلس د متمم (پوره کوونکي) او تابع غوندې ياد کړي دي.

نو دلته د خبرې فوکس شراب دي يعنې په اصل کې همدا حرام دي.

_5د تحريم مدافعين د حضرت عايشې رضي الله عنها دا حديث دليل نيسي:" الله جل جلاله د سندرغاړو ښځو، پلورل، بيه... حرام ګرځولي دي ".

ترمذي او تلبيس ابليس

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ځواب دا دی، چې دا حدیث او د سندرغاړو وینځو د پلورلو د حرمت په اړه، چې نور څومره احادیث دي، ټول ضعیف [کمزوري] دي. (المحلی 56/9)

ابن حزم وایي: ددې روایت په راویانو کې سعید ابن رزین دی چې له خپل ورور څخه روایت کوي او هېڅوک هم دادواړه نه پېژني . په لسان المیزان کې یې همداروایت له خپل پلار څخه کړی امام ذهبي او امام ابن حجر هم دسعید په اړه دابن حزم نظر تائیدوي.

وګوري دابن حجر لسا ن۲۹:۳ او ذهبي میزان ۲:۱۳٦

همداراز ددې حدیث په راویانو کې لیث هم دی چې ضعیف دی. طبراني په الاوسط کې په کمزوري سند روایت کړی او بیهقي وایي چې:(( محفوظ ندی ))

بل دا چې امام غزالي وايي دلته له سندرغاړو وینځو څخه غرض هغه وینځې دي، چې د شرابو په محفلو، مېکدو او عشرتکدو کې پردیو، فاسقو نارینه و ته سندرې وايي او د ښځو له خوا پردیو فاسقو نارینه و او هر هغه چا ته، چې د فساد وېره ترې وي، سندرې ویل حرام دي، خو خپل مالك [ د وینځې بادار] ته سندرې ویل په دې حدیث کې حرامې شوې نه دي. آن دپردیو پر وړاندې هم هغه وخت وینځو ته سندرې ویل روا دي چې دفتنې وېره نه وي .لکه په لاندې حدیث کې، چې راغلې دي او صحیحینو (بخاري او مسلم) یې روایت کړې دي. هغه داسې، چې رسول اللهصلی الله علیه وسلم د دوو وینځو د سندرو غږ واورېد، خو هغه یې منع نه کړلې او ابوبکررضي الله عنه ته یې وفرمایل:" دا دواړه پرېږده (چې خپلې سندرې وايي) ."

صحابه و سندرغاړې وینځې پلورلې او پېرلې دي لکه وروسته به چې د ابن عمر او ابن جعفر معامله ولولو، نو که د سندرغاړو وینځو پلورل او پېرل چور حرام وای، نو دوی ولې پلورلې او یا پېرلې؟.

بل دا چې اسلام، چې د سندرغاړو وینځو پلورل حرام بللي دي لامل دا دی، چې اسلام غوښتل او غواړي، چې د وینځو او مریيتوب دود دې له اسلامي ټولنې څخه ورو ورو کډه وکړي او په دې ډول چې یو دې وینځه په یوه او بل دې یې په بل پلوري دا کار ښه نه عملي کېږي، دلته حکمت او د اسلام غښر امریه غوښتنه (د خلکو هڅونه) دا ده، چې سندرغاړې وینځه مه پلوره، بلکې ښه دا ده چې مخه یې ورته خلاصه او ازاده یې کړې.

_6دوی بل د نافع دا روایت دلیل نیسي :"کله چې ابن عمر رضي الله عنه د یوه شپانه د شپېلۍ غږ واورېد، نو په دواړو غوږونو یې ګوتې کېښودې، لاره یې بدله کړه او له نافع رضي الله عنه څخه یې وپوښتل، چې ای نافع رضي الله عنه ته دا غږ اورې. ما ورته وویل، چې هو! ده همداسې پوښتل، چې غږ اورې؟ او ما ورته ویل چې هو. تر دې چې نور ما هم د شپېلۍ غږ نه اورېده او هغه ته مې وویل، چې نه، نور یې نه اورم. له هغې وروسته ابن عمر رضي الله عنه له غوږو ګوتې لېرې کړې او خپله سورلۍ یې اصلي لارې ته برابره کړه او ویې ویل:"رأیت رسول اللهصلی الله

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



عليه وسلم يسمع زمارة راع فصنع مثل هذا" يعني "رسول اللهصلی الله عليه وسلم مې وليد په داسې حال کې، چې هغه د شپانه د شپېلۍ غږ اورېد، نو هغهصلی الله عليه وسلم همداسې وکړل ".

)احمد، ابو داؤد، ابن ماجه(

حضرت ابو داؤد ددې حديث په اړه وايي، چې دا حديث موضوعي دی ابو علي الؤلؤي وايي چې له ابوداؤد څخه مې اورېدلي دي چې ويل يې داحديث منکر دی او که صحيح هم شي، نو دا خو د موسيقۍ د رواوالي د پلويانو دليل دی، نه يې د مخالفينو. دا ځکه چې که د شپېلۍ اورېدل حرام وای، نو رسول اللهصلی الله عليه وسلم به ابن عمر رضي الله عنه ته مباح نه بللهِ او ابن عمررضي الله عنهما به نافع رضي الله عنه ته مباح نه بلله او هغوی ته به يې هم امر کړی وای، چې تاسو يې هم مه اورئ. دا چې رسول اللهصلی الله عليه وسلم ابن عمر رضي الله عنه پرېښود، چې وايې وري او ابن عمر رضي الله عنه بيا نافع رضي الله عنه پرېښود دا په خپله د رواوالي دليل دی، ځکه چې رسول اللهصلی الله عليه وسلم يې يواځې په خپله له اورېدلو ډډه وکړه. رسول الله صلی الله عليه وسلم يواځې له شپېلۍ څخه نه، بلکې له ډېرو نورو مباحو دنيوي چارو څخه په خپل طبيعت ډډه کوله. د بېلګې په ډول په شريعت کې په ډډې يا تکيې لګولو خوراك روا دی، خو رسول الله صلی الله عليه وسلم هېڅکله هم په ډډې خوراك نه کاوه او يا دا چې هغه صلی الله عليه وسلم به د شپې په داسې حال کې ويده کېده، چې هېڅ درهم او دينار يا سره او سپين زر به يې ذخيره نه درلودل او خيراتول به يې، خو نور خلك بيا په دې کار مکلف نه دي. دا د هغهصلی الله عليه وسلم ځانګړنه وه، همدا ډول دلته د شپېلۍ حکم هم همداسې دی .

ـ7دوی په دې روايت هم استناد کوي:"رښتيا ده، چې موسيقي په زړونو کې نفاق زرغونوي."ابوداؤد

ددې روايت په راويانو کې عبدالرحمن بن عبدالله عمري دی امام احمد دده په اړه وايي : ((دده يوحديث هم صحيح ندی)) ،(( دده حديث مو حذف کړ، حديثونه يې منکر دي دروغجن و )) السماع

همدارازددې حديث په سند کې سلام بن مسکين له يو بې نومه بوډا څخه روايت کوي چې دابن حزم په وينا، رښتيا هم حيرانوونکی دی .

دا نه ده ثابته ده، چې دا دې د رسول اللهصلی الله عليه وسلم چې معصوم دی وينا وي ، بلکې د يو چا نظر دی، چې نور ورسره مخالفت لري. په ځانګړي ډول قدرمن صوفيان. دوی وايي، چې سندرې زړونه نرموي او له ګناه څخه د پښېمانۍ او توبې او بخښنې غوښتلو لامل ګرځي. همدا لامل دی، چې صوفيان خپل روحونه په موسيقۍ تازه او ژوندي کوي او خدای جل جلاله ته پرې ځان نږدې کوي، خپل هوډ او قصد پرې وړمن او خوشبو کوي او دا يو داسې حالت دی، چې له تجربې، څکلو او تمرين پرته پرې څوك نه پوهېږي او هر چا چې دا حال وڅکه نو رښتوني شناخت ته ورسېد او (شنيدن کی بود، مانند ديدن).

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



امام غزالي وايي:"دا حکم د اورېدونکي په اړه نه، بلکې په هغه سندرغاړي تطبيقېږي، چې سندرې يې د زړه له تل څخه نه وي، په مصنوعي اکتونو د خلکو پام ځانته راواړوي، خپله دومره اغېزمن نه وي، خو په دروغو ځان ډېر اغېزمن ښيي. ددې لپاره، چې خلك يې خوښ کړي، له هغوی سره منافقانه او دوه مخی چلند کوي، خو غزالي زياتوي:"او دا کار د تحريم لامل نه ګرځي، ځکه چې ډېر شيان او کارونه د نفاق د را زرغونېدلو لامل ګرځي، خو حرام نه دي. لکه د ښو جامو اغوستل، په ښه سپرلۍ (اوس په ښه موټر کې) ګرځېدل، نور د وياړ سامانونه کارول، نو له همدې کبله د نفاق د ظهور او زرغونېدلو د علتونو او لاملونو کارول ګناه نه ده.

_8د موسيقۍ د حرمت پلويان په هغه څه، چې د شايعي په ډول په خلکو کې خپاره شوي، چې ګويا د ښځې غږ عورت دی استدلال کوي، خو د ښځې غږ عورت نه دی. علامه دکتور يوسف قرضاوي وايي، چې د خدای جل جلاله په دين کې هېڅ داسې دليل او يا شبه دليل (دليل ته ورته سند) نشته، چې وښيي چې د ښځې غږ عورت دی. ډېرو ښځو به له رسول اکرمصلی الله عليه وسلم څخه پوښتنې کولې، ډېرو صحابه و له سپېڅلو بيبيانو پوښتنې کولې او هغوی به ځوابونه ورکول، خو هېچا ونه ويل چې دا حديث چې عايشې يا بلې صحابېې روايت کړی او يا دا فتوی چې فلانۍ صحابيې ورکړې ده، دا د عورت [د ښځو د غږ] لوځېدل دي، چې پټول يې فرض دي. سره له دې، چې د نورو مسلمانو مېرمنو په پرتله امهات المومنين ته شرايط تنګ او سخت وو او ځينې داسې قيودات پرې اېښودل شوي وو، چې پر نورو مسلمانو مېرمنو نه دي ايښودل شوي .

]د ښځو د غږ د حکم په اړه زما په بل کتاب [ښځه او اسلام] کې اوږده څېړنه شوې ده. د معلوماتو د زياتوالي لپاره يې کتلی شئ.[

که څوك ووايي، چې دا په عادي ژوند پورې اړوند دي، نو زموږ ځواب ورته دا دی، چې حضرت رسول اکرمصلی الله عليه وسلم د دوه و وينځو له خولو سندرې واورېدې، نو هغه يې منع نه کړلې او حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه ته يې هم وويل، چې له دوی سره کار مه لره .

ابو جعفررضي الله عنه ، نورو صحابه و او تابعينو به له وينځو څخه سندرې اورېدلې.

_9د موسيقۍ دښمنان په هغه روايت هم استدلال کوي، چې ترمذي په مرفوع ډول له حضرت عليرضي الله عنه څخه روايت کړی دی:"هر کله چې زما امت دا پنځلس کارونه وکړي، نو په بلا به اخته شي" په دوی کې له سندرغاړو وينځو او د موسيقۍ له وسايلو څخه ګټه اخيستل هم ښودل شوي دي، خو قرضاوي وايي، چې د ټولو په اتفاق سره دا حديث ضعيف دی، نو ځکه نشو کولی چې پرې استناد وکړو.

ابن حزم وايي چې تر يحيی ابن سعيد پورې ددې روايت راويان ټول مجهول خلک دي او يحيی ابن سعيد له محمد څخه يوه کلمه هم نده روايت کړې ځکه چې دهغه هممهاله نه و .ددې

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



روايت په سندکې فرج بن فضاله هم دی او امام احمد دده په اړه وايي چې هغه له يحيی څخه منکر حديث روايت کړی دی . دده په باوري خلکو ته منکر احاديث منسوبول ، ابن حبان وايي چې فرج بن فضاله داحاديثو باوري سندونه جوړ او ترتيب کړل او بيا به يې بېهوده متنونه ورپورې وتړل يعنې صحيح او متصل سند پسې به يې بېهوده او چټي متن تاړه چې په دې ډول متونو استدلال صحيح ندی .

الاسلام والفنون الجميلة نقل له السماع ٨٥ مخ څخه

١٠ -دوی د ابو امامه په دې روايت هم استناد کوي چې وايي له رسول اکرم صلی الله عليه وسلم څخه مې واورېدل :((لايحل تعليم المغنيات ولاشرا ؤهن ولا بيعهن ولا اتخاذهن و ثمنهن حرام و قد انزل الله ذالک في کتابه : ( ومن الناس من يشتري لهوالحديث ليضل عن سبيل الله بغير علم ) ، و الذي نفسي بيده مارفع رجل عقيرته بالغناء الا ارتدفه شيطانان يضربان بارجلهما صدره و ظهره حتی يسکت ) ، يعنې: (( د سندر غاړو ښځو روزنه ، پېرل او پلورل او کارته نيول روانه دي ، د هغوی بيه حرامه ده او الله جل جلاله دا په قرآن کې نازل کړي دي .( او په خلکو کې داسې کسان هم شته چې بې ګټې او چټي خبرې اخلي چې بيا په دې خبرو د الله جل جلاله بنده ګان په ناپوهۍ سره له حقې لارې واړوي ) ، په هغه ذات سوګند چې زما روح يې په واک کې دی ، هېڅوک سندرې نه وايي مګر دا چې دوه شيطانان ورپسې شي او پر پښو پر سينه او پر ملا يې تر هغې وهي تر څو چپ شي (( .

ددې حديث په روايت کوونکيو کې اسماعيل بن عياش او قاسم دي چې محدثين دواړه ضعيف بولي . که څه هم ابن حجر ترې دفاع کړېده خو ابن حزم يې کمزوري بولي او (منکر له )حديث يې بولي ، اسماعيل ابن عباس د التهذيب )) په اړه وايي چې ځينې پرې باورکوي او ځينې پرې نيوکې لري ، کله چې د نوموړي په اړه له يحيی ابن معين څخه و پوښتل شول نو ويې ويل: (( د شام له اوسېدونکيو سره ستونزه نلري خو عراقيان يې روايات ( حديثونه ) نه مني .

ددې روايت په سند کې عبدالملک بن حبيب هم دی او لکه چې لاندې يې لولو ، محدثين پرې باور نه لري .

١١-عبدالملک بن حبيب دوه روايته لري ، يو داچې رسول الله صلاالله عليه وسلم فرمايي: (( ان المغني اذنه بيد شيطان يرعشه حتی يسکت . ))

يعنې : (( د سندرغاړي غوږونه د شيطان په واک کې دي تر هغې يې خوځوي تر څو چپ شي . ))

ددې حديث يو راوي عبدالملک دی چې علما پرې باور نه کوي او بل يې عمري صغير دی ، چې علما يې ضعيف بولي .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



دوهم دا چې رسول الله صلالله علیه وسلم فرمايي : (( ان الله حرم تعليم المغنيات و شراء هم و بيعهن و اکل اثمانهن . )) يعنې : (( رښتيا چې الله جل جلاله د سندرغاړو ښځو روزل ،پېرل او پلورل او د هغوی بيې خوړل حرام گرځولي دي . ))

محمد عماره وايي چې: (( د عبدالملک بن حبيب ټول حديثونه د ورکولو وړ دي . ))

دې روايت ته د گوتې نيولو وړ يو بل ټکی دادی بې له دې چې د وينځو اواصيلو ( ازادو ) ښځو توپير وشي ، په ټوليز ډول وېل شوي چې د سندر غاړو ښځو پلورل او پېرل او بيه حرامه ده . په اسلامي فقه کې د وينځو د پلورلو او پېرلو اجازه شته خو د ازادو ښځو پلورل او پېرل هېڅکله هم روا نه دي او په دې کې ښځې په مطلق ډول ( د وينځو او ازادو له توپير پرته ) يادې شوې دي او داسې برداشت ترې کېږي چې که اصيله او ازاده ښځه سندرغاړې نه وي نو پلورل ، پېرل او د بيې خوړل هر څه يې روا دي . چې دا د الله جل جلاله د احکامو او نبوي ارشاداتو مخالفه خبره ده او په احاديثو کې دومره تېروتنه او تعارض هيڅکله نه وي چې دا په خپله ددې روايت کمزوري په گوته کوي .

بله دا چې دا له نورو موثقو رواياتو سره ښکاره ټکر لري موږ وينو چې د رسول الله صلالله عليه وسلم صحابه و سندرغاړې وينځې پلورلې او پېرلې دي چې ښېلگې يې دلته هم لولو .

ابن الفرضي د عبدالملک بن حبيب (۲۳۸ هجري ـ ۸۵۲ م) په اړه وايي چې هغه حديث پېژندونکی نه دی ، با جنې او ابن حزم يې په اړه وايي:(( ابو عمر بن عبدالبر به هغه دروغجن باله . ))

۱۲ -حضرت انس ( رضي الله عنه ) وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (( من جلس الى قنية صب فى اذنيه الانک يوم القيامة . )) يعنی : (( څوک چې د سندرغاړې سندروته کېني نو د قيامت په ورځ به يې په غوږونو کې سرپ واچول شي . ))

ابن حزم وايي چې انس رضي الله عنه ته منسوب دا حديث بدمرغي راټوکوي ځکه چې نا پېژندل شويو کسانو روايت کړيدی او يو د باور وړ شخص هم په دې اړه له مالک څخه روايت نه دی کړی .

دوهم دا چې په دې روايت کې مکحول له عايشې رضي الله عنها څخه روايت کوي په داسې حال کې چې هغه هېڅکله هم عايشه رضي الله عنها نه ده ليدلې او نه يې هممهاله وو . همداراز په دې روايت کې د هاشم بن ناصح او عمر بن موسى غوندې مجهول خلک دي ، دا حديث منقطع هم دی او په دې روايت کې له ابو عبدالله څخه هم روايت شوی دی چې هېڅوک يې نه پېژني .

ددې روايت په رواياتو کې ابو نعيم ـ عبيد بن هاشم ـ هم دی چې ابن قيسر يې په اړه وايي : (( هغه ضعيف دی او حديث يې له ابن مبارک څخه نه دی راخيستی او له مالک څخه ډېر منکر دي ، بلکې له ابن منکدر څخه يې په مرسل ډول روايت کړی دی . ))

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



الاسلام والفنون الجميلة . (

۱۳ د ابو مالک اشعري رضي الله عنه روايت چې وايي له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه يې اورېدلي دي ( يشرب الناس من امتي الخمر يسمونها بغير اسمها تضرب على رؤسهم المعازف و القنيات يخسف بهم الله الارض . )) يعنی: (( زما په امت کې به ځيني خلک شراب څښي خو بل نوم به پرې ږدي او په مخکې به يې موسيقي غږېږي او سندرغاړې ښځې به سندرې وايي ، الله جل جلاله به يې په ځمکه ننباسي((

ابن ماجه او تاريخ بخاري .

دا د ابن ابي شيبه روايت دی چې معاويه بن صالح پکې دی چې کمزوری يې بولي او بل په کې مالک ابن ابي مريم دی چې څوک يې نه پېژني .

امام ذهبي هم وايي: (( ابن معين د معاويه بن صالح په اړه وايي: د خوښې ، او باور ، وړ شخص نه دی . ))

۱٤ -په يو حديث کې راغلي چې : (( ان الله تعالى نهى عن صوتين ملعونين : صوت نائحه و صوت مغنية )) يعنی (( الله جل جلاله دوه رټل شوي غږونه منع کړيدي: د نوحه کوونکې ( په مړي په اجوره يا بې اجورې په ډېر لوړ غږ او له حد څخه په وتلي انداز يا په مکر ژړېدونکې ښځې ) او د سندرغاړې ښځې غږونه . ))

ابن حزم وايي: دا معلومه نده چې ددې روايت راوي څوک دی . دې ته د قدسي حديث نسبت شوی چې هېڅ سند نه لري او مطلق په پورتني ډول روايت شوی دی .

ډاکټر عماره د السماع په حواله وايي چې ددې روايت راوي جابر دی او ابن حبان د هغه په اړه وايي چې هغه حافظه نه لري ، ډېرې سهوې کوي ، توهم پرسته دی . د وهم او گومان له مخې به يې روايتونه کول ، يو خيال پلوه (خيال پالونکی )شخص دی ، ډېر زيات منکر احاديث لري نو د پرېښودلو وړ دی او احمد بن حنبل او يحيى بن معين هغه پرېښی دی ، هغه په دروغ ويلو او له ځانه د جوړو احاديثو په خپرولو او د صحيحو احاديثو په پټولو کې ځانگړې شهرت لري .

او ددې حديث په دوهم روايت کې محمد بن يزيد طحان يشکري دی چې هغه هم ناوړه او له ځانه د حديثو جوړوونکی شخص وو .

السماع ۸۳_۸۵

۱۵ -حضرت عايشې رضي الله عنها ته منسوب روايت:(( من مات و عنده جارية مغنية فلا تصلوا عليه. )) يعني :(( هر څوک چې مړ شي او سندرغاړې وينځه ولري نو په هغه ( د جنازې ) لمونځ مه کوئ . ))

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ددې روايت دوه راويان هاشم او عمر مجهوله خلک دي او مکحول له سره عايشه رضي الله عنها ليدلې نه ده نو څنگه له هغې رضي الله عنها څخه روايت کوي .

١٦ -عبدالله ابن عمر ته منسوب روايت چې وايي: (( يو سړي د خدای رسول ته وويل چې زه اوښ لرم آيا حُدا ورته ويلی شم ؟ هغه صلىالله عليه وسلم ورته وفرمايل هو ، هغه بيا وپوښتل چې آيا سندرې ورته ويلی شم ؟ هغه صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل ، پوهـ شه چې د سندرغاړې غوړونه د شيطان په واک کې دي ، سپکوي يې تر څو چې چپ شي . ))

ددې روايت په راويانو کې يو عبدالملک دی چې د باور وړ ندی او بل عمر صغير دی چې محدثين يې ضعيف بولي . ابن حزم عبدا لملک ته د نا باوره او هلاکوونکي الفاظ کارولي دي .

لکه وړاندې مو چې وويل حُدا د ( ح ) په پېښ سره هغه غږ او سندروته وايي چې اوښان پرې مستوي او گړندی تگ پرې کوي .

١٧ -دسعيد ابن منصور له لارې له ابو داؤد له سليم بن سالم بصري ، له حسان بن ابي سنان ، بيا د يو سړي پواسطه له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت شوی دی چې رسول الله صلىالله عليه وسلم فرمايي: (( يمسخ قوم من امتي فی اخرالزمان قردة و خنازير قالوا : يا رسول الله و يشهدون ان لااله الا الله و انک رسول الله : قال نعم ويصلون و يصومون و يحجون قالوا : فما بالهم يا رسول الله ؟ قال : اتخذوا المعازف والقنيات والدفوف و يشربون هذه الاشربة فباتوا ( ١ ) علی لهو هم و شرابهم فاصبحوا قردة و خنازير . ))

(١)په بل روايت کې فيباتون راغلي دي

يعني : (( په وروستۍ زمانه کې به زما د امت يوه ډله د بيزوگانو ( شاديانو) او خوگانو په بڼې مسخ شي ، ويې ويل: ای د خدای جل جلاله رسوله !او هغوی شهادت ورکوي چې له يو الله جل جلاله پرته بل معبود نشته اوته په حقه د الله استازی يې (( هغه صلىالله عليه وسلم وفرمايل هو او لمونځ به هم کوي ، روژه به هم نيسي او حج به هم کوي . هغوی وويل ای د خدای جل جلاله رسوله ! خير په هغوی څه شويدي ؟ هغه صلىالله عليه وسلم وفرمايل : ساز او سرودبه غږوي ، سندرغاړې ښځې او درياگانې به کاروي او شراب به څښي او شپه په لهو او شراب څښلو سبا کوي او په دې وخت کې به د بيزو گانو او خوگانو په بڼه واوړي (( .

دا روايت دداسې چا لخواشوی چې نه نوم لري اونه يې څوک پېژني .

شهيد آيت الله ډاکټر بهشتي وايي چې په رواياتو کې ساز، طنبور وهلو او دا دول نورو شيانو ته اشاره شوېده چې د ځان خوښ ساتلو او لهو الات ورته ويل کېږي، د شيعه گانو او سنيانو په کتابونو کې داسې روايات ( احاديث ) هم شته چې غواړي چې څه نا څه ددې وسايطو د استعمال په حرمت دلالت وکړي .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ځيني فقهاوو دا ډول استنباط کړی دی چې نه غواړي موسيقۍ ته په ټوليزه توګه حرامه ووايي، بلکې پدې اړه راغلي روايات غواړي چې ووايي هغه مجلسونه او د لهو او لعب هغه محفلونه حرام دي چې د شتمنو، اشرافو او بډايانو په کورونو او د هغوی په استوګنځايونو کې به جوړېدل، ټوله شپه به عياشي فحاشي کېده، زنا به وه، فسق او فجور به و ، له فحشاډکې او بربنډې سندرې به وې، ښځې او نارينه به ګډ نڅېدل او موسيقي به په دا ډول مجلسونو کې، په اوږو کې د مالګې په اندازه وه، او نورو ګناهونو ته د هڅولو په غرض غږول کېده .

نو پر همدې بنسټ په لنډه توګه ويلی شو چې هره سندره او هره موسيقي حرامه نه ده، هغه موسيقي حرامه ده، چې خلک ګناه او فحشا ته هڅوي، د ايمان سپېڅلتيا يې زيانمنوي ، اخلاق يې کمزوري کوي .

خو که کومه موسيقي دا ډول اغېز ونلري، نو غږول يې حرام ندي .

۱۸-همداراز د سعيدمنصور له لارې له حارث بن شهاب ، له فرقد سبخي له عاصم بن عمر اوله ابو دمامه رضي الله عنه څخه روايت شوی چې وايي پيغمبر صلىالله عليه وسلم فرمايي: (( تبيت طائفه من امتي على لهو و لعب ، و اکل و شرب فيصبحوا قردة و خنازير يکون فيها خسف و قذف ، و يبعث على حی من احيائهم ريح فتنسفهم کما نسفت من کان قبلهم باستحلالهم الحرام و لبسهم الحرير ، و ضربهم الدفوف ، و اتخاذهم القيان . ))

يعنی : (( زما د امت يوه ډله به شپه په ساعت تېرې ، لوبو ، خوړلو او څښلو سبا کوي او په دې وخت کې به د بيزو ګانو او خوګانو په بڼه واوړي ، او په دې کې نابودي او سختوالی دی او ددوی له کليو څخه به يو کلي ته داسې باد ولېږل شي چې دوی به له منځه وېسي ، لکه څنګه يې چې له دوی څخه وړاندېني خلک د حرامو د حلال ګڼلو ، د ورېښمود جامو په اغوستلو او د درياګانو د وهلو او سندرغاړو ښځو د په کارولو په سبب له منځه وېوړل . ))

داد حارث بن نبهان حديث دی او دده حديثونه له سره ليکل (منل) کېږي نه او فرقد سبخي کمزوری دی .

او سليم بن سالم، حسان بن ابي سنان او عاصم بن عمر مجهول دي نوپه يقين سره دا دواړه روايتونه اعتبار نه لري .

دسعيدابن منصور له لارې له فرج بن فضاله، له علي بن

يزيد له قاسم او له حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت شوی : ( ان الله بعثنی رحمة للعالمين وامرنی بمحو المعازف والمزامير والا وثان والصلب، لا يحل بيعهن و لاشراء هن ولا تعليمهن ولا التجارة بهن وثمنهن حرام . )(

يعنی (( له شک پرته الله (جل جلاله ) زه د نړيوالو لپاره رحمت رالېږلی يم. او ماته يې امر کړی چې سازاو سرود، شپيلۍ ګانې، بتان او صليبونه له منځه يوسم، ددې شيانو پلورل، پېرل زده کړه او په دوی سوداګري حرامه ده دهغوی بيه حرامه ده . ))

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



امام حزم وايي، په دې سند کې قاسم ضعيف دی.

۱۹-له ابن اشعري څخه روايت شوی چې دی وايي ابو عامر يا ابو مالک اشعري ماته وويل او په خدای سوگند چې ماته يې دروغ نه دي ويلي چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه يې اورېدلي چې هغه صلىالله عليه وسلم وفرمايل : ((ليکون قوم من امتي يستحلون الخز والحرير والخمر والمعازف)) يعنې : (( زما له امت څخه به يوه ډله وي چې خز( ۱)، ورېښميني جامې، شراب او موسيقی (سرود) روا بولي .))

(۱)دورېښمو ټوټه يا نرمه او نازکه وړی

امام ابن حزم وايي : (( دا حديث منطقع دی او د بخاري او صدقه بن خالد ترمنځ پکې واټن راغلی دی نو له دې کبله په دې اړه يو حديث هم صحيح نه دی او ټول موضوعي دي . په خدای جل جلاله سوگند که ددې ټولو يا له دوی څخه ديوه يا يې دډېرو سند دباوري خلکولخوا رسول الله صلىالله عليه وسلم ته رسېدلی وای نو په منلو کې به يې مونږ هېڅ شک او زړه نازړه توب نه وای کړی، او که هغه څه چې په دې رواياتو کې راغلي رښتيا وي دبېلگې په توگه دا چې دسندر غاړو وينځو پلورل روانه دي ، بيا خو بايد په هغه چا حد جاري شي چې سندر غاړې وينځه يې پېرلې ده او بيا يې ورسره جنسي نږديوالی کړی، او بايد له دې وينځو سره دنږديکت په پايله کې زېږېدلی کوچنی هغه ته ونه سپارل شي ( اونسب يې هم ثابت نه شي) . بله خبره داده چې داسې ډېر شيان شته چې پلورل او پېرل يې منع دي خو ساتل يې روا دي لکه اوبه، پيشو او سپيان، چې ددې ټولو پلورل او پېرل روانه دي خو ساتل يې روا دي همدا راز که ومنو چې دسندر غاړو وينځو پلورل روانه دي نو داخو په دې مانا نه شوه چې دهغې ساتل هم روانه دي.

دا وو د موسيقۍ د حرمت د پلويانو دلايل، چې ټول ځواب شول. د دوی اکثره روايات يا صحيح ندي او يا صريح نه دي او د موسيقۍ د حرمت په اړه ټول رانقل شوي روايات د ظاهريه و، مالکيه و، حنابله و او شافعيه و، د يو ټولي له خوا کمزوري بلل شوي دي. خو ددې پرعکس د موسيقۍ د روا والي په اړه ډېر صريح، صحيح او کره روايات شته چې په ډاگه ترې د سندرو او موسيقۍ رواوالی جوتېږي.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## د موسیقۍ دروا بلونکو دلایل

کله مو چې د موسیقۍ د حرمت په اړه دلیل ونه موند، نو د موسیقۍ حکم د اباحت د اصل له مخې مباح پاتې شو. موږ که د موسیقۍ د جواز لپاره نور هېڅ دلیل هم ونه لرو، خو چې د حرمت په اړه یې صریح او صحیح دلیل نه وي، نو حکم یې د( الاصل فی الاشیاء الاباحة) [په ټولو چارو کې اصل حکم روا والی دی] د قاعدې له مخې، مباحوالی دی. دا خو لا پرېږده، چې په دې اړه ډېر صریح، صحیح او له شك او شبهې وتلي دلایل شته دي، چې په ډاګه جوتوي، چې موسیقي روا ده.

ددې دلایلو له ډلې څخه به د مشت نمونه خروار په توګه څو روایات رانقل کړو.

۱ -حضرت عایشه رضي الله عنها روایت کوي چې دوه وینځو زموږ په کور کې د بعاث سندرې ویلې. رسول اکرم صلاالله علیه وسلم راغی او پرته له دې چې څه ووایي په خپل بستر پرېووت. په همدې وخت کې ابوبکررضي الله عنه هم راننووت، ماته ډېر په غوسه شو او په تنده لهجه یې راته وویل: "د شیطان غږ، هغه هم د پېغمبر صلاالله علیه وسلم په کور کې؟؟" خو حضرت رسول اکرم صلاالله علیه وسلم دې دوه انجونو په کار د ابوبکررضي الله عنه په دې تند او تېز چلند اعتراض وکړ او ورته ویې فرمایل، چې:" ای ابوبکره رضي الله عنه! دوی خپل کار ته پرېږده، په دوی غرض مه لره" (بخاري مسلم او ابن ماجه)

ځینې وایي، چې دا وینځې کوچنۍ وې، خو ځواب دا دی چې که دوی په رښتیا هم کوچنیانې وای، نو حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه به ورته دومره نه په غوسه کېده او دومره به د هغهرضي الله عنه د غوسې د راپارولو لامل نه ګرځېده.

-بعاث د اوس او خزرج د قومونو ترمنځ 120 کلنه جګړه وه، چې رسول الله صلاالله علیه وسلم په خپل کوښښ پای ته ورسوله، نو ځکه حضرت ابوبکر رضي الله عنه ددې ناوړه جنګ یادولو ته د شیطان غږ ووایه.

دا حدیث د رسول اکرم صلاالله علیه وسلم په عملي سنتو او د هغه صلاالله علیه وسلم په محسوسو شواهدو کې راځي، د مصر مشهور او وتلی عا لم ډاکټر محمد عماره په خپل کتاب (( الاسلام والفنون الجمیلة )) کې لیکي ، دا حدیث جوتوي چې رسول الله صلاالله علیه وسلم نه یواځې دا چې سندرې اورېدلې ، بلکې هغه یې تائید کړې هم دي او د سندرو دمنع کوونکیو اجتهاد یې هم اشتباه او د هغوی سهوه بللې ده . حضرت ابو بکر صدیق( رضي الله عنه) د خپل اجتهاد پر بنسټ وغوښتل چې هغوی منع کړي ، خو رسول الله صلاالله علیه وسلم د ابوبکر( رضي الله عنه )په دې اجتهاد اعتراض وکړ ددې لپاره چې د سندرو په روا والي یې ټینګار کړی وي . او دا داسې روایت دی چې د حدیثو د جرحې او تعدیل هېڅ عالم یې هم پر کوم روایت کوونکي نیوکه نه ده کړې .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ځينې وايي چې په حديث کې راغلي چې حضرت رسول الله صلاالله عليه وسلم چې دا حال وليد نو مخ يې واړاوه ، خو ډاکټر محمد عماره ځواب ورکوي چې د رسول الله صلاالله عليه وسلم د مخ اړولو لامل انجونو ته نه کتل وو ، او د سندرو نه اورېدل يې لامل نه وو، ځکه چې سندرې په غوږ اورېدل کېږي .

داداسې روايت دی چې دحديثو هېڅ عالم يې هم پرراوپانو هېڅ ډول نيوکه نه ده کړې

ددې حديث په بل روايت کې چې عمرو بن حارث له ابن شهاب څخه روايت کړی دی او همدا متن پکې راغلی ، داهم ويل شوي دي: (( تغنيان و تضربان)) يعنې: (( سندرې يې ويلې او دارياپې وهله . ))

مسلم او بخاري هم همدا متن د اوزاعي په روايت له ابن شهاب څخه نقل کړيدی .

_2حضرت عاېشه رضي الله عنها روايت کوي، چې هغې يو انصار ته يو انجلۍ ور واده کړه. رسول الله صلاالله عليه وسلم ترې وپوښتل:"ای عايشې رضي الله عنها آيا نڅا يې کوله؟ ځکه چې انصار نڅا خوښوي". (بخاري، احمد)

_3ابن عباس رضي الله عنه روايت کوي، چې عايشې رضي الله عنها خپله يوه نږدې دوسته يو انصار ته ورواده کړه. حضرت رسول اکرم صلاالله عليه وسلم ترې وپوښتل، چې "آيا له ناوې سره د مېړه تر کوره ملګرې وئ؟" هغې رضي الله عنها ورته ځواب ورکړ "هو" بيا يې ترې وپوښتل آيا له هغې سره مو کومه سندره ويونکې (سندرغاړې) ولېږله.؟" حضرت عاېشې رضي الله عنهاځواب ورکړ "نه" رسول الله صلاالله عليه وسلم ورته وفرمايل، چې "انصار سندرې خوښوونکی قوم دی کاشکې مو ورسره څوك لېږلې وای، چې ويلې يې وای:"اتيناکم اتيناکم فحيانا و حياکم" يعنې "موږ تاسو ته راغلو، موږ تاسو ته راغلو، نو ستاسو سلام دې پر موږ وي او زموږ سلام دې پرتاسو وي". ابن ماجه او نسايي

_4عامر ابن سعدرضي الله عنه روايت کوي "په يو واده کې له قرضه ابن کعب رضي الله عنه او ابو مسعود انصاري رضي الله عنه سره په داسې حال کې ملګری شوم، چې څو وينځو سندرې ويلې. ما ورته وويل، چې ای صحابه و (د خدای د رسول ملګرو) آی هغه کسانو چې د بدر په جګړه کې مو برخه اخيستې. آيا ستاسو پر وړاندې داسې کارونه کېږي؟ هغوی ځواب راکړ:"که غواړې نو ته هم له موږ سره کښېنه او موږ سره يوځای غوږ ونيسه او که نه غواړې، چې وايې ورې، نو ځه لاړ شه، ځکه چې په ودونو کې موږ ته د لهو اجازه راکول شوې ده.. (نسايي او المستدرك للحاکم)

٥ : ساېب بن يزيد روايت کوي چې ( د رسول الله صلی الله عليه وسلم خواته يوه ښځه راغلله نو رسول اکرم صلاالله عليه وسلم وفرمايل: (( ای عايشې رضي الله عنها آيا دا پېژنې ؟ هغې رضي الله عنها ورته وويل : (( نه ای د خدای جل جلاله پيغمبره صلی لله عليه وسلم)) ، هغه صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: (( دا فلانۍ سندرغاړې وينځه ده ، آيا غواړې چې درته سندرې ووايي ؟ . )) بيايې سندرې وويلې ... ) نسايي

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



٦ :امام احمد په خپل مسند کې له عبدالله ابن عمررضي الله عنه یا عمیره څخه روایت کړی چې وایي : (( د ابو لهب زوم راته وویل کله مې چې دابو لهب له لور سره واده وکړ نو حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم زموږ خواته راغی او ویې فرمایل: (( هل من اللهو ؟ )) (( آیا لهو شته ؟ ((

٧ :کله چې رسول صلىالله علیه وسلم له مکې معظمې څخه مدینې منورې ته مهاجر شو نو د مدینې اوسېدونکي له ډېرې خوښی څخه په خپلوجامو کې نه ځاېېدل ، هغه په پرده کې پټې نجونې بامونو ته وختلې او په ډېرې خوښۍ سره یې لاندې بیتونه زمزمه کول او د رسول الله صلىالله علیه وسلم هرکلی یې په سندرو او زمزمو داسې وکړ:

))طلع البدر علینا من ثنیات الوداع

وجب الشکر علینا ما دعا لله داع

ایها المبعوث فینا جئت بالامر المطاع((

، یعنی (( د وداع د غره له څوکې پر موږ بشپړه سپوږمۍ راوخته ، چې د خدای جل جلاله دعا کوونکی یې راوغوښت ،شکر پر موږ واجب دی ، ای پر موږ کې پاڅېدلیه! ( لېږل شویه ) منل شوی فرمان دې راوړی دی . ))

٨ : کله چې د رسول الله صلىالله علیه وسلم د سپرلۍ اوښ د بني نجار قبیلې اړوند د ابو ایوب انصاري رضي الله عنه د کور مخ ته ځملاست نو ددې قبیلې نجونو دریاګانې راواخیستې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم هرکلی یې په دریاګانو او زمزمو داسې وکړ:

))نحن جوار من بني النجار

یا حبذا محمد من جار (( .

یعنې : (( موږ د بني نجار نجونې یو ، محمدصلی الله علیه وسلم څومره ښه همسایه دی . ))

په یوه روایت کې دا هم راغلي چې حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه چې په دې سفر کې له حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره ملګری وو وغوښتل چې دا نجونې له سندرو ویلو او ترنم څخه منع کړي ، خو حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته دا انقلابي وینا وکړه : (( ای ابوبکره رضي الله عنه پرې یې ږده چې یهود پوه شي چې زموږ دین ډېر پراخ او خلاص ( ارت ) دی . ))

الاسلام والفنون الجمیله .

٩-ابوحسین روایت کوي :(( په هغه ورځ کې چې د مدینې اوسېدونکي په کې لوبې کوي د معوز بن عفراء د لور ربیع رضي الله عنها خواته ورغلم ، هغې راته وویل چې یوه ورځ حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم زما خواته راغی او په همدې فرش کښېناست ، زما خواته دوه نجونې وې چې له دریاسره به یې زما د هغه نیکونو په یاد کې ترانې

Download from: ketabton.com

وېلې چې په بدر کې شهيدان شوي وو او په دې ضمن کې يې دا هم وويل : ( زموږ په منځ کې پيغمبردی چې له راتلونکي هم خبر دی ( .

خو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې: ( داسې مه وايئ ځکه چې له الله جل جلاله پرته هېڅوک هم له راتلونکي خبر دی.)) امام احمد .

دلته وينو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی له دريا او زمزمو څخه نه ايساروي خو په عقيدې پورې يوې اړوندې تېروتنې ته يې پام را اړوي .

۱۰ _ابن حزم له ابن سيرين څخه روايت کوي: "يو سړي مدينې ته د پلورلو لپاره څو وينځې راوستې، نو د ابن عمررضي الله عنه خواته ورغی. يو تن راغی او د يوې وينځې د اخيستلو لپاره يې په بيه کې جګړه وکړه، خو ويې نه پېرله. ابن عمررضي الله عنه د وينځو خاوند ته وويل، چې داسې وکړه ددې وينځو د پېرلو لپاره داسې چاته ورشه چې هغه په دې کار کې ځانګړی نوم او شهرت لري، چې هغه عبدالله ابن جعفررضي الله عنه دی بيا هغه عبدالله ابن جعفررضي الله عنه ته د پېرلو په نيت ورغی. وينځې يې ورته وروړاندې کړې، بيا يې له دې دوو څخه يوې ته امر وکړ، چې سندرې ووايي. په دې وخت کې ابن عمر رضي الله عنه هم غوږ اينبی و. وروسته عبدالله ابن جعفررضي الله عنه په بېه کې له جګړو وروسته هغه وپېرله. وروسته هغه سړی (پلورونکی) د ابن عمررضي الله عنه څنګ ته راغی او ورته ويې ويل، چې په اوه سوه درهمه ( په يو بل روايت کې نهه سوه درهمه ياد شوي) مې وپلورله، خو تاوان مې وکړ. ابن عمررضي الله عنه ددې خبرې په اورېدلو سره ابن جعفررضي الله عنه ته ورغی او ورته ويې ويل، چې دې سړي تاوان کړی دی اوه سوه ( يا نهه سوه ) روپۍ کمې بولي يا ورته وينځه بېرته وسپاره او يا سودا له سره وکړئ. ابن جعفر رضي الله عنه ورته وويل، چې دی خوښ نه دی، نو وينځه يې ورته بېرته سپارم".

ابن حزم ددې روايت په اړه وايي:" ابن عمررضي الله عنه سندرې ته غوږ هم اينبی دی او د هغې وينځې د پلورلو په کار کې يې کوښښ او هڅه هم کړې ده. دا صحيح حديث دی، سند يې هم صحيح دی. نه هغه ډول خوسا، تور شه، زړېدلی او موضوعي احاديثو ته منسوب روايات." (المحلی)

۱۱ _د موسيقۍ د رواوالي پلويان په دې ايت هم استناد کوي:"و اذا راء و تجارة او لهواً انفضوا اليها و ترکوك قائما قل ما عندالله خير من اللهو و من التجاره والله خيرالرازقين." يعنې "کله چې سوداګري او ساعت تېري ووينې، نو هغې ته ورشي او تا ولاړ پرېږدي. ورته ووايه له خدايجل جلاله سره چې څه دي هغه له سوداګرۍ او ساعت تېرۍ څخه ډېر غوره دي او الله جل جلاله تر ټولو غوره رزق ورکوونکی دی." (الجمعه)

په دې ايت کې الله جل جلاله لهو له سوداګرۍ سره يوځای ياده کړې ده، څرنګه چې سوداګري روا کار دی، نو ساعت تېري هم روا ده. الله جل جلاله نه سوداګري بده ګڼلې او نه لهو. مګر هغه خلك يې ورټل، چې رسول الله

Download from: ketabton.com

صلاالله عليه وسلم يې په داسې حال کې په منبر ولاړ پرېښود، چې هغه خطبه لوستله او دوی د کاروان مخې ته، چې دريا(دايره) ورته وهل کېده، ورغلل.

امام قرطبي ددې ايت په تفسير کې فرمايي : ((دجمعې په ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم دمنبر لپاسه خطبه لوستله چې پدې وخت کې يو سړی مسجد ته راننووت او غږ يې وکړ چې ددحيه بن خليفۀ کلبي سوداګريز کاروان راورسېد . دويلو وړ ده چې دحيه به چې هرکله له سفر څخه راستون شو نو دوستانو به يې ددريا په وهلو دهغه هرکلی کاوه.

جابر بن عبدالله رضي الله عنه وايي چې کله به واده و نو نجونې به ددريا او شپېلۍ په وهلو سره دنبوي مسجد څنګ کې تېرېدلې او مسلمانانو به هم ددې غږ په اورېدلو له مسجد څخه ورمنډې کړلې نو داآيت په همدې خاطر رانازل شو.

الجامع الاحکام القرآن(

نو دلته جوته شوه چې نه سوداګري منع ده او نه لهو ، بلکې داالله جل جلاله لخوادمسلمانانو دا بې پروايي ، په منبر درسول الله صلى الله عليه وسلم پرېښودل او دسوداګريز کاروان اويا دنجونو ددريا غږ پر لور ددوی ورځغاستل او دلمانځه پرېښودل وغندل شول .امام قرطبي همداراز فرمايي: په دې آيت کې نه لهو غندل شوې او نه هم لوبې ،که داسې وای نو مطلق دنيوي ژوند به غندل شوی وای ځکه چې ټول دنيوي ژوندته دلهو او لعب نوم ورکړل شوی دی: ((ومااالحيوة الدنيا الا لعب ولهو)) يعنې : ((او ژوند له لهو او لعب پرته بل څه ندی ))

۱۲ ــ ډېرو صحابه و سندرې اورېدلې او دا کار يې تائيد کړی دی او صحابه هغه خلك دي، چې هر څوك ورپسې اقتدا وکړي، نو لار يې وموندله.

۱۳ ــحضرت عاېشه رضي الله عنها روايت کوي، چې څو تنو حبشيانو د اختر په ورځ په نبوي مسجد کې لوبې کولې، نو حضرت رسول اکرم صلاالله عليه وسلم ماته وفرمايل، چې آيا ته دا لوبه ليدل غواړې؟ ما ورته وويل، چې هو. هغه صلاالله عليه وسلم په دروازه ودرېد، خپل لاس يې وغځاوه زه يې په کې پورته کړم، چې ننداره وليدلی شم. ما د ننداري ليدلو ته دوام ورکړ. رسول صلاالله عليه وسلم څو ځله راڅخه وپوښتل، چې بس نه ده؟ ما ورته وويل نه." (بخاري)

حضرت امام غزالي وايي، چې دا لوبې رقص او نڅا وه.

د عايشې رضي الله عنها په يو بل روايت کې راغلي چې : (( د اختر ورځ وه حبشو په مسجد کې په سپر او نيزو لوبې کولې ، رسول الله صلاالله عليه وسلم ما ته وفرمايل : (( غواړې چې ننداره وکړې ؟ ، ما ورته وويل هو، نوزه يې خپل شاته په دې ډول ودرولم چې زما مخ يې پر مخ وو او په خپلې جامې يې زه پټه کړم او ماد حبشيانو د لوبو ننداره

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



كوله ، چې حضرت عمررضي الله عنه هغوی منع كړل نو رسول الله صلی الله عليه وسلم لوبو كوونكيو ته وفرمايل : (( ای د ارفده اولاده ، په امن كې اوسئ (( .

تر دې چې زه ستړې شوم او هغه صلی الله عليه وسلم راته وفرمايل : (( بس دی؟ : )) ، ما وويل: (( هو . )) بيا هغه صلی الله عليه وسلم راته وفرمايل: (( خير ځه . ))

په يو بل روايت كې راځي چې : (( حبشيان به نڅېدل . )) او په يو بل روايت كې راځي چې: (( هغوی د رسول اكرم صلاالله عليه وسلم پر وړاندې نڅېدل او سندرې يې ويلې . )) ، امام احمد دا روايت له انس ابن مالک څخه كړی ،

د پورتني ماخذ په حواله

كله چې حضرت عمر صلاالله عليه وسلم وغوښتل هغوی منع كړي نو حضرت رسول اكرم صلی الله عليه وسلم ددې لپاره چې د هغوی ددې لوبو او نڅېدلو روا والی تائيد كړي د حضرت عمر رضي الله عنه ، د اجتهاد مخالفت وكړ .

د يادولو وړ خبره داهم ده چې بخاري دا حديث يواځې په ( باب لعب ) يا د لوبو باب كې نه دی را اخيستی، بلكې په ( باب لهو ) او تر دې معنا ، مفهوم او اصطلاح لاندې يې هم را اخيستی چې د دواړو روا والی جوتوي .

په مسلم كې راغلي چې رسول اكرم صلاالله عليه وسلم د حضرت عايشې رضي الله عنها سر په خپله اوږه كېښود .

١٤ _داؤد ثقفي روايت كوي، چې موږ د ابن جريح د حديثو د تدريس په حلقه كې ناست و، په دې حلقه كې د عبدالله ابن مبارك په ګډون د عراق نور ګڼ شمېر علماء، محدثين او فقهاء هم ناست وو، چې په همدې كې ابن ميزن مغني تېر شو. ابن جريح هغه راوغوښت او ترې وېې غوښتل، چې څو سندرې ووايي. هغه څو سندرې وويلې بيا يې وويل، چې كه له تاسو سره دا ناپوهه خلك نه واى ناست، نو ما به ډېرې سندرې درته ويلې واى، تر دې چې تاسو مې په سندرو ماړه كړي واى. په دې وخت كې ابن جريح په حلقه كې له ناستو خلكو څخه وپوښتل، چې آيا په تاسو كې داسې څوك شته، چې زما دا كار يې نه وي خوښ شوی؟ ځينو خلكو د ابن جريح ددې پوښتنې په اورېدلو سره وويل، چې هوا! موږ په عراق كې دا كار نه خوښوو. ابن جريح ورته وويل، چې د حُدا او رجز ويلو په اړه مو څه خيال دی؟ هغوی ورته وويل، چې ددې دواړو په جواز كې هېڅ شك نه لرو. ابن جريح ورته وويل، چې اخر په حُدا، رجز او موسيقۍ كې څه توپير دی؟

)اغاني جلد 1، ص175، د قران اور فنون لطيفه په حواله.(

٥1 _يوه شپه حضرت عمر رضي الله عنه د شپې په كوڅو كې ګرځېده، چې د سندرې غږ يې واورېده. حضرت عمر رضي الله عنه هغې خوا ته متوجه شو او تر ډېره ورته ودرېد.

Download from: ketabton.com

يو ځل خلکو حضرت رباح رضي الله عنه ته د حُداويلو فرماېش وکړ. هغه رضي الله عنه د حضرت عمر رضي الله عنه مزاج او طبيعت ته کتل. خو کله چې حضرت عمررضي الله عنه کوم خفگان ونه شود، نو رباح رضي الله عنه هم سندرې پيل کړې او حضرت عمررضي الله عنه هم اورېدلې، تر هغې چې سبا شو، نو بيا يې ورته وويل چې اوس يې بس کړه، ځکه اوس د خدای جل جلاله د يادولو وخت دی.

يو ځل يو سپاره د حج په ورځو کې سندرې ويلې، ځينو خلکو حضرت عمررضي الله عنه ته وويل، چې آيا دا نه منع کوې؟. حضرت عمررضي الله عنه ځواب ورکړ' نه" ځکه چې سندرې خو په اوښانو د سپرېدونکيو د لارې توښه ده. همداراز خوات ابن جبير روايت کوي، چې يو ځل له حضرت عمر، حضرت عبدالرحمن ابن عوف او حضرت ابو عبيده رضي الله عنهم سره (چې درې واړه د عشره مبشره و په ډله کې دي) په يو سفر کې ملگرى وم، خلکو راځخه وغوښتل چې د ضرار اشعار ولولم. حضرت عمر رضي الله عنه وويل، چې ښه دا ده چې خپل اشعار ولولې. ما هم سندرې پيل کړې او ټوله شپه مې سندرې ويلې .

)سيره العمرين د ابن جوزي(

علامه شبلي نعماني د حضرت عمررضي الله عنه په اړه ليکي، چې:"يوه شپه عبدالله ابن عباس رضي الله عنه ټوله شپه شعرونه ويل کله چې سهار شو، نو حضرت عمررضي الله عنه ورته وويل، چې اوس قرآن ووايه." (الفاروق)

٦1 _امام شوکاني په نيل الاوطار کې ليکي:"د مدينې اوسېدونکي او له ظاهريه او صوفيه و څخه د هغوی هم آنده خلك د سندرو په روا والي باور او عقيده لري که څه هم له رباب او چنگ سره وي".

استاد ابو منصور بغدادي شافعي ليکي :"عبدالله ابن جعفر د سندرو په رواوالي کې هېڅ ستونزه نه وينې. خپلو وينځو ته به يې د سندرو ويلو اجازه ورکوله او خپله به يې هم ترې اورېدلې او دا د امير المؤمنين حضرت علي رضي الله عنه زمانه وه." همدا استاد همداسې يو موردله شريح قاضي، سعيد ابن مسيب، عطاء ابن اباح، زهري او شعبي څخه هم رالېږدوي.

٧1 _د حرمينو امام په خپل کتاب "النهايه" او تکرہ تاريخ پوه ابن ابي الدنيا وايي:"عبدالله ابن زبير رضي الله عنه څو وينځې درلودلې، چې چنگ به يې غږاوه. ابن عمر رضي الله عنه پرې په داسې وخت کې ورننووت، چې په غېږ کې يې چنگ ايښی و، نو ورته ويې ويل، چې "ای د خدای جل جلاله د رسول صلى الله عليه وسلم صحابي (ملگريه) دا څه شی دی؟ بيا عبدالله هغه ابن عمررضي الله عنه ته ورکړ هغه يې په اړه ډېر سوچ وکړ بيا يې په ټوکه وويل : دا يوه شامي تله ده؟ ابن زبيررضي الله عنه هم د ټوکې په دود وويل:" هو! په دې عقلونه تلې".

٨1 _علامه ابو عمر اندلسي ليکي: يو ځل عبدالله ابن عمر رضي الله عنه په داسې حال کې د عبدالله ابن جعفررضي الله عنه ځنگ ته ورغی، چې له هغه سره يې وينځه وه او د وينځې په غېږ کې يې چنگ ايښی و. بيايې له ابن

Download from: ketabton.com

عمررضي الله عنه څخه وپوښتل، چې آیاپه دې کار کې خو به کومه (شرعي) ستونزه نه ویني. هغه ځواب ورکړ "نه". (العقد الفرید د اندلسي)

۹۱ _ماوردي د معاویه رضي الله عنه او عمرو ابن العاص رضي الله عنه په اړه وایي، چې دوی دواړو له ابن جعفررضي الله عنه څخه د چنګ غږ اورېدلی دی.

۲۰ _امام ابوالفرج اصفهاني روایت کوي، چې حسان ابن ثابت رضي الله عنه له عزه المیلاء څخه له مزهر سره یوځای خپل یو شعر واورېد. ژبپوهان وایي، چې مزهر چنګ ته وایي. ابو العباس هم همداسې یو روایت کړی دی. (الاسلام والفن)

۲ _ 1ادفوي وایي، چې دوهم عمر (عمر ابن عبدالعزیز) خلافت ته د رسېدلو تر مهاله د خپلو وینځو (د سندرو) غږ ته غوږ اېښود. ابن سمعاني وایي، چې طاوس هم د سندرو رواوالی منلی دی. ابن قتیبه او د "الامتاع" د کتاب لیکوال د مدینې د قاضي سعید ابن ابراهیم ابن عبدالرحمن زهري څخه چې تابعي دی، هم همداسې روایت کړی دی. ابو یعلی خلیلي په خپل کتاب "الارشاد" کې د مدینې د مفتي عبدالعزیز بن سلمة الماجشون څخه همدا ډول روایت کړی دی. رویاني د قفال په اړه وایي، چې د امام مالك بن انس رح په مذهب کې په خوښیو کې سندرې روا بلل شوي دي. استاد ابومنصور الفوزاني له امام مالك رح څخه د چنګ رواوالی رانقل کړی دی.

مکي ابو طالب په خپل کتاب قوت القلوب کې له شعبه څخه روایت کوي، چې هغه د مشهور محدث منهال ابن عمر په کور کې د تنبور غږ اورېدلی دی.

۲۲_ابو الفضل طاهر په خپل تالیف (السماع) کې لیکي: د چنګ په رواوالي کې د مدینې په اوسېد ونکیو کې اختلاف نشته دی.

۲۳ -دحضرت عایشې رضي الله عنها په حدیث کې راغلي دي چې هغې (رضي الله عنها) یوه انصار ته یوه نجلۍ ور واده کړه کله یې چې ناوې دشاه کورته وروسته نو حضرت رسول الله صلاالله علیه وسلم ورته وفرمایل : (( ماکان معکم من لهو فان الانصار یعجبهم اللهو )) یعنی: (( ای عایشې له تاسوسره لهو نه وه ؟ رښتیا ده چې انصار لهو خوښوي .))

په دې حدیث کې وینو چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې خاطر چې لهو له دې مناسبت سره وړ ، مناسب او صحیح کار وه ( په ښادۍ کې ساز او سرود وړ کار دی ) نو رسول الله صلاالله علیه وسلم ورته اشاره وکړه او دخلکو پام یې دې ټکي ته راواړاوه چې ساز او سرود له ښادۍ او

خو ښې سره مناسبت لري نو په دا ډول مناسبتونو کې باید وغږول شي .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



٢٤-په واده کې دساز او سرود دروا والي په اړه دعامر ابن سعد روایت تر دې هم ډېر صراحت لري په دې حدیث کې په ډاګه ویل کېږي چې حضرت رسول الله صلاالله علیه وسلم صحابه و ته په ودونواو خوښیو کې دساز او سرود اجازه ورکړې . دی وایي : (( په یوه واده کې د قرضه ابن کعب رضي الله عنه او ابو مسعود انصاري رضي الله عنه څنګ ته ورغللم په دې وخت کې مې ولیدل چې وینځې سندرې وایي ماورته وویل : تاسو خو درسول الله صلاالله علیه وسلم صحابه او دبدر په غزا کې ګډون کوونکي یاست دا ډول عمل هغه هم ستاسو پر وړاندې ترسره کېږي ؟ هغوی راته وویل چې ته کولی شې چې له موږ سره کښېنې او سندرې واورې او دا هم کولی شې چې بېرته لاړ شې ! (( یقیناً چې دحضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لخوا موږ ته په ودونو کې دساز او سرود اجازه راکړل شوې ده )) نسايي او تهذیب ١٠٧

امام حافظ ابو الفضل محمد طاهر (٤٤٨- ٥٠٧ هجري ، ١٠٥٦-١١١٣ م )ددې او دېته ورته نورو راویانو په اړه وایي : (( هغوی چې سماع یې نه خوښوله دحدیثو له علم سره دنابلدتیا او پر هغوی د نه پوهېدنې له امله به یې په دې او دېته ورته روایاتو استدلال کاوه. نو وګورئ هر کله هم چې دوی په کوم کتاب کې په دې اړه کوم حدیث (روایت ) ولید نو سمدستي به یې هغه بې له کومې پلټنې ځانته نظریه وټاکله او هغه به یې دخپلو مخالفینو پر ضد ددلیل په توګه کاراوه. چې دا پخپله لویه سهوه، بلکې ستره ناپوهي ده . ))

النویري (نهایة الارب) ج ٤ ٢ ١٤٧-١٦٠

یوې ډلې هڅه کړې ده چې د صحیحو او منلیو احادیثو چې دوی پکې په عیب موندلو نه دي بریالي شوي او دسماع په رواوالي دلالت کوي مفاهیم داسې واړوي چې پررواوالي دلالت ونکړي دبېلګې په توګه یې امام ابن تیمیه (٦٦١-٧٢٨ هجري، ١٢٦٣= ١٣٢٨م ) یادولشو. ده هم هڅه کړې ده چې دهغو صحیحو اومنل شویو روایاتو چې په ډاګیزه دسماع او سندرو په رواروالي دلالت کوي خپل اصلي مفهوم ترور کړي . او نه روا والی یې جوت کړي بیا هم دبېلګې په توګه ، هغه ددوو انجونو دسندروویلو په وخت کې دحضرت عایشې په کوټه کې دحضرت رسول اکرم صلاالله علیه وسلم دشتون او دهغه صلاالله علیه وسلم په شتون کې دسندروویلو په اړه وایي : ((کان یسمع )) ،(( ولا یستمع)) یعنې: (( هغه اورېدل خو غوږ یې ورته نه ایښود ))

ابن تیمیه ــ مجموعة الرسائل الکبری ج ٢ ص ٣٠٢ چاپ قاهره

څرنګه چې دده دا ډول استنباطات دده د متکلفانه چلند بېلګې دي نو ځکه ممکنه نه ده چې دهغو خلکو له دلایلو به څه کم کړي (او یا به پرې اغیز وکړي .) چې موسیقۍ ته غوږ نیول او اورېدل دواړه روابولي.

ابو سلیمان وېلي دي چې په زړه کې چې څه نه وي نو سماع یې پکې نه پیدا کوي خو څه چې په زړه کې شته سماع یې خوځوي ( په حرکت او جوش یې راولي ) نو له همدې کبله نوموړی په لاندې حالاتو کې ترنم او ساز او سرود روا بولي.

Download from: ketabton.com

۱ : حاجیانو ته له طبلې او شپېلۍ سره سرود روا دی ځکه چې دوی دحج د مناسکو او ځایونو ستاینه کوي دچا په زړه کې چې دحج مینه ده هغه زیاتوي او دچا په زړه کې چې نشته دا مینه پیدا کوي څرنګه چې حج ثواب او مطلوب کار دی نو هڅول هم ورته روا دي.

۲ : روا جګړې ته دخلکو دهڅولو او جرئت ورکولو په غرض هم ساز او سرود روا دی خو دلته باید حماسي اورزمې شعرونه وویل شي داسې شعرونه چې په خلکو کې له جهاد سره مینه او شوق ژوندی او تحریک کړي په جګړه کې باید دموسیقۍ هغه الات وکارول شي چې په خلکو کې غیرت جرئت او زړه ورتیا پیداکړي، په جوش یې راولي هغه وسایل باید ونه کارول شي چې دزړ ورتیا په ځای دخلکو زړونه نرم کړي له کور ، اولاد او ښځې سره یې مینه راوپاروي ، مجازي معشوقې وریه زړه کړي، همدا لامل دی چې وایو په جګړه کې باید شپېلۍ ونه غږول شي ځکه چې غږ یې نرموونکی او غم پاروونکی دی ، دزړ ورتیا تومنه له منځه وړي او دغیرت او شهامت پر ځای نرمي او سستي پیدا کوي او ددې قاعدې له مخې چې ((منع کارته هڅول منع دي)) نو ناروا جګړې ته دخلکو هڅول که دساز او سرود له لارې وي او که له بلې لارې روا نه دي .

۳ : د روا خوښیو او ښادیو په وختونو کې په دې خاطر چې خوښي او ښادي نوره هم ډېره شي هم ساز او سرود روا دي لکه داخترونو،ودونو دمسافرو دستنېدلو دکوچني دزېږښت او دزېږښت داوومې ورځې ( چې اوس یې ځای شب شش) نیولی دکوچني دختنې په وخت کې، دقرآن دحفظ دبشپړېدو خوښي په دې ټولو کې ساز او موسیقي روا ده .

هر مناسبت چې خوښي پرې په کارده نو په موسیقۍ بدرګه کول یې هم روا دي لکه مدینې ته درسول الله صلاالله علیه وسلم دهجرت په وخت کې چې دمدینې نجونو په دریا اوسندرو دهغه هرکلی وکړ.

)طلع البدر علینا( ...

درسول الله صلی الله علیه وسلم هجرت او مدینې ته تلل دمدینې د خلکو لپاره دخوښۍ او ویاړ خبره او یوه دستاینې وړ ښادي وه نو ددې خوښۍ څرګندول په شعر او سرود او دبدن په نورو حرکاتو دستاینې وړ خبره ده . دیوې ډلې صحابه وو رضي الله عنهم په اړه روایت شوی چې کله به په کومه خبره خوښ شول نو پایکوبي (دنڅا په څېر له خوښۍ څخه پښه په ځمکه وهل) به یې کوله (لکه دحضرت علي ،امام حسین او حضرت زیدن بن حارثه رضي الله عنهم په اړه چې وړاندې تېر شول .)

دحضرت عایشې په کور کې ددوه وینځو د سندرو او سرود په اړه دعمروابن حارث په روایت کې راځي چې : ((تغینان وتضربان )) یعنی (( سندرې به یې ویلې او دریا به یې وهله )) دحضرت عایشې رضي الله عنها په کور کې دوینځو ساز او سرود ته درسول الله صلاالله علیه وسلم غوږ نیول په خپله ددې څرګندوی دی چې دنا محرمو ښځو غږ اورېدل دنورو بېهوده او بې ګټې سازونو په څېر حرام نه ده ، بلکې دنامحرمو ښځو لخواسندرې اورېدل هغه

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ځای کې ناروا دي چې هلته دفتنې وېره وي او داقیاسونه او نصوص دغږ ، سندرو ، نڅا دریا وهلو او په نېزې او سپږه لوبو کولو دلالت کوي .

٤ :سماع په زړه کې پروت دعشق اور تازه کوي شوق په څپواو مینه په شور راولي که اورېدونکي دمعشوقې ترځنګ وي نو موخه یې په لذت (خوند) کې ډېرښت دی او که له معشوقې لېرې (په هجر کې) وي . نو موخه دوصال داور تازه کول او دمعشوقې غېږې ته درسېدلو هیله ده او عشق که څه هم درد دی خو کله چې دوصال هیله ورسره وي نو یو ډول خوند هم ورسره ملګری شي ځکه چې هیله خوند بخښونکې او نهیلي دردوونکې ده نو که دامینه له داسې چاسره وي یا په بله وینا داسرود دداسې چالپاره وي چې وصال یې روا وي لکه دسړي خپله مېرمن او یا وینځه او یادښځې خپل خاوند ، عاطفي میني لکه له لور، زوی ، ورور ، خور ، پلار ، مور، ماما اوکاکا سره نو داډول سماع رواده او له دوی څخه هم محرمو ته سرود اورېدل روا دي

خو دنامحرمو ښځو لپاره یا په ټولیزه توګه دهغه چا لپاره شوق راپارول رواندي چې مینه ورسره روانه ده نو دوی ته شوق راپارول په سماع هم روانه دي ، همدا راز سترګو ته دهغو ښځو او نجونو دانځور مجسم کول چې دده کتل ورته روانه دي هم روا نه دي همدا راز دهغو ځوانانو لپاره هم موسیقي روانه ده چې په خپل شهوت واک نه لري او موسیقي یې شهرت راپاروي ځکه ددوی درد (عشق) په موسیقۍ سره نه تسکین کېږي ،بلکې لا نور هم پارېږي کله چې له یو هوښیار شخص څخه دعشق په اړه وپوښتل شول نو ویې ویل : (( دا یو دود دی چې د انسان دسر له مغزو پورته کېږي سماع یې پاروي او جماع یې له منځه وړي .))

٥ _هغه چاته هم سماع رواده چې له الله جل جلاله سره مینه او دوستي کوي او دهغه جل جلاله دلیدلو هیله لري داسې خلک چې هر څه ویني او هرې خواته ګوري نو الله جل جلاله یا خپل معشوق پکې ویني او غوږونه یې د الله جل جلاله له غږ څخه پرته بل غږ نه اوري . نو سماع ددا ډول خلکو شور او عشق پاروي ، دوستي یې ډېروي او دزړه په اورتون کې یې پروت اور ژبغړانده کوي او دمکاشفې او ملاطفې هغه ډول حالات ورښیي چې توصیف یې نه شي کېدلی او هغه څوک یې په خوند پوهېږي چې احساسولی یې شي او چې څوک یې احساسولی ونشي نو ترې انکار کوي .

صوفیان دې حالت ته وجد وایي او په زړه کې داسې حالات مومي چې له هاغې وړاندې یې نه دي موندلي بیا دا حالات داسې پایلې او توابع لري چې زړه په اور سوځوي او پرې وینځې یې او داسې یې پاکوي او تیارې ترې ورکوي لکه سره زرچې په اور پاکوي او له دې پاکۍ او صفایۍ وروسته ورته دمکاشفاتو او مشاهداتو دروازې خلاصېږي چې دادډې عاشقانو وروستۍ غوښتنه ده نو هره وسیله چې دا موخه پرې ترلاسه کېږي .د قرباتو ( الله جل جلاله ته) دورنږدې کېدونکیو شیانو) په ډله کې راځې نه دمباحو او ناروا وو په ډله کې.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



او هېڅ داسې اسماني کتاب به نه وي چې خلک یې دساز او سرود او نغمو په پردو کې د خدای جل جلاله یاد ته هڅولي نه وي یو چا ویلي : (( په انجیل کې مې ولیدل چې لیکلي یې وو ( تاسو ته مو سندرې وویلې خو مست نه شوئ تاسو ته مو شپېلۍ ووهله خو ونه نڅېدئ) یعنې تاسو مو د الله جل جلاله یاد ته وهڅولئ خو تاسو ونه هڅېدئ))

اوس په یقین سره روښانه شوېده چې سماع کله مباح او کله هم مستحب ده او که وپوښتل شي چې آیا سماع کله حرامه هم وي نو زمونږ ځواب دادی چې هوپه پنځو حالاتوکې سماع ناروا ده.

یو حال یې په سندرغاړي یو حال دسماع په کارندویو، یو حال دشعر په محتوی (منځپانګه) یو حال داورېدونکي په جسمي حالت او یو حال دموسیقۍ په واسطه دشخص لخوا دوخت ضایع کول او په اورېدلو کې یې افراط دی.

۱-چې سندرغاړې داسې ښځه وي چې کتل ورته روانه دي او له سندرو څخه یې دفتنې وېره وي دلته دفتنې مخه نیول هدف دی نو ځکه له دې ډول سندر غاړې څخه سندرې اورېدل روانه دي دا حرمت په سندره کې نه، بلکې دښځې له غږ څخه دخوند له امله ده. له دا ډول ښځو څخه یواځې سندرې نه، آن دعادي خبرو په ګډون دقرآن تلاوت اورېدل هم روانه دي همداراز له داسې ښکلي هلک څخه هم سندرې، خبرې آن تلاوت اورېدل رواندي چې دفتنې وېره پکې وي.

که څوک وپوښتي چې شریعت خو له پردیو ښځو سره یواځېتوب (خلوت) حرام کړی دی که دفتنې وېره وي او که نه ځکه په هر حال دفتنې ګومان پکې غالب دی، نو شریعت له سره دا دروازه بنده کړه خو ځواب دادی چې دا قیاس له مقیس علیه (هغه مسئله چې قیاس پرې کېږي) سره ډېر نږدې نه دی ځکه کتل چې څومره ژر شهوت راپاوري او بیا له پردۍ ښځې سره په خلوت کې، نو اورېدل هاغومره اغیز نه لري او باید ددواړو ترمنځ په توپیر قانع واوسو. اورېدل دلیدلو په څېر ژر جنسي قوه ( غریزه) نه راپاروي همدا لامل دی چې دښځو غږ عورت نه دی او همدا لامل دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له وینځو څخه سندرې اورېدلي همدا راز شریعت ښکلیو هلکانو ته کتل هم حرام نه دي بللي مګر کله چې دفتنې وېره هرومرو وي.

۲ :په موسیقۍ کې دداسې کارندویو (الا تو) کارول چې هغه په شراب څښونکیو ، هجړاګانو او نورو ګناه کوونکیو پورې ځانګړې وي روانه دي او نور الات لکه دریاکه څه هم شرنګاني لري طبلې، شپېلۍ او... روا دي.

۳ :دداسې شعر اورېدل له موسیقۍ سره او بې له موسیقۍ حرام دي چې پکې الله جل جلاله یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ناوړه نسبت شوی وي، هغوی پورې دروغ تړل شوي وي لکه روافضو چې دصحابه و په هجوه کې شعرونه وېلي دي همدراز دهغه شعر ویل او اورېدل هم روانه دي چې دیوې ځانګړې او ټاکلې ښځې په ستاینه کې ویل شوي وي خو که په شعر کې په عمومي ډول دحسن ستاینه شوي وي بې له دې چې کومې ټاکلې ښځې ته ګوته ونیول شي زلفې ، پوزه، شونډې قد ، رنګ، سترګې غاښونه... یادشوي او ستایل شوي وي. نو دداسې شعر لیکل او

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



اورېدل دواړه هم له موسیقۍ سره او هم بې له موسیقۍ روا دي (همدا راز هغه شعر هم روا نه دی چې فحش ، سپک ، چټیات پکې وي).

٤ :دهغه چا لپاره هم عشقي موسیقي اورېدل او غږول رواندي چې خپل شهوت ته تسلیم او دشهوت تر کنټرول لاندې وي. دځوانۍ دځواک او زور برسېره هم دشهوت پر وړاندې مغلوب (ملاست) وي ځکه چې دحسن او جمال ستاینه په ده کې پروت دعشق اور تازه کوي او دعقل واګې یې شکوي.

٥ :هغه چاته هم موسیقي اورېدل روا ندي چې جنسي غریزه یې پیاوړې نه وي او دپردخدای جل جلاله په مینه کې هم مست نه وي خو دموسیقۍ په اورېدلو کې ډېر افراط کوي، موسیقي بیخي دژوند برخه او دروح اکسیجن وګرځوي، له موسیقۍ سره عادت او خوی واخلي دا ډول افراط حماقت دی او ددا ډول کس شهادت هم نه منل کېږي ځکه ټول ژوند په لهو کې تېرول ګناه ده او څنګه چې صغیره (کوچنۍ) ګناه په تکرار او دوامدار ډول ترسره کول کبیره ګرځي همدا راز په مباحاتو کې ډېر افراط او تکرار هم مباح ، صغیره ګناه ګرځوي لکه شطرنج چې په اصل کې روا او مباح ده خو په تکراراو افراطي ډول کول یې مکروه دي. که څوک وپوښتي چې له دې خبرو ښکاري چې موسیقي په ځینو واردو کې مکروه او حرامه هم ده نو تاسې یې ولې په پیل کې په مطلق روا والي حکم وکړ؟ ځکه دلته تفصیل ته اړتیا ده او په کمه موضوع کې چې تفصیل ته اړتیا وي نو مطلق حکم پکې کول اشتباه ده. زموږ ځواب دادی چې مطلق حکم کول په هغه موضوع کې ناسم کار دی چې په عین هماغې موضوع (دهماغې موضوع په ذات یا بالذات په هماغې موضوع) کې تفصیل ته اړ تیا وي، خو که دموضوع په ذات کې تفصیل ته اړتیا نه وي او عارضي (بهرني) حالتونه دتفصیل اړتیا غواړي نو دلته مطلق حکم روا دی. دبېلګې په ډول که څوک وپوښتي چې آیا شهد حلال دي؟ نو سمدستي ځواب ورکوو چې هو، ځکه دشهدو په ذات کې دحرمت خبره نشته نو ځکه سمدستي د (هو) ځواب ورکوو خو که عارضي تفصیل ته ورشو بیا خبره داسې نه ده یعنې سره له دې چې شهد په خپل ذات کې پاک او حلال دي خو هغه چاته حرام دي چې سخته تبه لري او زیان ورته کوي همداراز که څوک وپوښتي چې شراب حلال دي که حرام؟ نو دستي ځواب ورکوو چې حرام، خو هغه چاته روا دي چې مرۍ یې په ستوني کې بنده وي او له شرابو پرته بل هیڅ هم نه وي چې مرۍ پرې تېره کړي . ( یا په اوس وخت کې په ځینو درملو کې).

سوداګري مطلق روا ده خو دجمعې دلمانځه له اذان وروسته روانه ده. شهد او سوداګري په خپل ذات کې په مطلق ډول روا دي او شراب حرام خو له ذات څخه پرته یې نور عارضي حالات راپېښېږي چې هغه اصلي حکم یې بدلوي او سماع هم له دې کبله چې موزون او خواږه غږ ته غوږ نیول دي روا دي خو چې دذات له حقیقت څخه بهرني عارضي حالات یې منع کوي دابېله خبره ده.

کله چې دموسیقۍ اباحت جوت شو نو دهغه مخالف نظر ته هیڅ اهمیت نه ورکوو .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



امام شافعي سماع حرامه نه بولي او دهغه چا په اړه چې موسيقي خپله دنده او کسب بولي وايي چې شهادت يې نه منل کېږي ځکه چې دهغه په نظر دايو داسې بوختيا ده چې له باطل سره ورته والی لري او هر څوک چې تل باطل (بې ګټې) کارونه کوي نو داکم عقلتوب او بې شخصيتي ده، خو که څوک يې خپله دنده او کسب نه ګرځوي او شوقي چې کله پرې ورپېښ شي نو سندرې او سرود غږوي نو دا هغه بې شخصيتي نه ده او شهادت يې هم منل کېږي او هغه درسول الله صلی الله عليه وسلم پر وړاندې ددوو وينځو په سندرو استدلال کړی. دمصر نامتو فقيه او داحاديثو روايت کوونکي يونس بن عبدالاعلی بن موسی بن ميسره وايي چې ماله امام شافعي څخه په دې اړه چې دمدينې اوسېدونکي سماع حرامه بولي وپوښتل هغه راته وويل : (( زه د حجاز هېڅ داسې عالم نه پېژنم چې سماع مکروه وبولي له هغې سماع پرته چې په څرنګوالي کې يې خبره وي.))

او دا چې وېلي يې دي : (( سماع يوه مکروه بوختيا ده چې له باطل سره ورته والی لري .)) داخبره سمه ده چې سماع لهو اوبوختيا ده خو لهو په خپل ذات کې حرامه نده ځکه چې په نبوي مسجد کې دحبشيانو لوبې هم لهو وه په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته کتل او خوښه يې کړه. آن چې الله جل جلاله دلهو او لغو په اړه پوښتنه هم نه کوي چې ديو بې ګټې کار په توګه ترسره شي. دبېلګې په ډول که څوک ځان اړ باسي چې هره ورځ به خپل لاس سل ځله په خپل سر ږدي دده دا کار بې ګټې دی خو حرام نه دی. الله جل جلاله فرمايي، (( لايواُخذکم الله باللغو فی ايمانکم )) يعنی : ((الله مو په بې ګټې قسمونو نه نيسي.)) نو کله چې الله جل جلاله موږ دهغه په نوم په بې ګټې قسم چې دزړه له قصد او تل څخه نه وي نه نيسي سره ددې چې بېهوده او بې ګټې کار دی نو په نڅا او شعر مو ولې نيسي.

دا چې هغه يې باطل ته ورته بولي په دې معنا نده چې هغه يې حرام بولي آن که هغه باطل هم بللې وای نو دتحريم په معنا به نه وه، بلکې بې ګټې به يې باله ځکه چې باطل بې ګټې خبرې ته وايي : (( دفقهې مسئلې له مخې )که يو څوک خپل مېړه ته ووايي چې ته ما وپېرودلې او يا سړی خپلې مېرمن ته ووايي چې ما پر تاځان وپلوره اوښځه يې ورته ووايي چې ما هم وپېرلې نو دا يو باطل عقد (تړون) دی خوحرام خونه دی . البته که موخه همداسې باطل او ساعت تېری وي خو که خبره جدي او دزړه له قصده وي او موخه يې قطعي تملک ( څښتنوالی او مالک والی) وي نو بيا حرام ده او دا چې امام شافعي رح وايي چې دسندر غاړي شهادت نه منل کېږي داهم دهغه په نظر د ساز او سرود دحرمت په معنا نه ده ځکه چې ډېر داسې کارونه شته چې له مروت او ځوانمردی څخه لېرې دي او دکوونکي شهادت يې نه منل کېږي خو حرام نه دي لکه په بازار کې خوراک چې حرام هم نه دی خو دکوونکي شهادت يې نه منل کېږي . يا داوبدلو کار (دوړتوب) چې مباح کار دی، همداراز بل هر کار چې ابرو مندانه نه وي پت او عزت پکې نه وي دکوونکي شهادت يې نه منل کېږي.

نو دهغه دتعليل موخه تنزيهي کراهت دی او ددين دنورو امامانو په اړه هم همداسې اټکل کېږي ( چې دا کار به تنزيهي مکروه بولي ).

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



تر دي ځايه مو دامام غزالي د احياء العلوم له كتاب السماع څخه اقتباس وکړ.

په نيويارک کې د امام خويي مرکز له امام خويي څخه د موسيقۍ په اړه د پوښتونکيو پوښتنې او ددې امام ځوابونه خپاره کړي دي چې څو پوښتنې او ځوابونه يې دلته له www.arabic.al-khoei.org ويب سايټ څخه را نقلوو:

امام خوئي د يو پوښتونکي ددې پوښتنې په ځواب کې چې ( تاسو په ودونو کې په دې شرط د ښځو سندرې ويل روا بللي چې هلته محرم نه وي لکه د دوی خواته د سرېو ورتلل ، نو آيا دا شرط يواځې په پرديو پورې اړوند دی او که مطلق نارينه و پورې ( يعنی د دوی سندرې يواځې د پرديو نارينه و پر وړاندې حرامې دي او که د نږدې محرمو خپلوانو پر وړاندې هم (.

وويل: هو يواځې دپرديو نارينه وو پر وړاندې حرامې دي ، والله اعلم .

خو همدا مفتی صيب بيا ددې پوښتنې په ځواب کې چې آيا ښځې ته روا ده چې د خپل مېړه خوښ ساتلو او د هغه د شهوت د راپارولو لپاره هغه ته ونځېږي او د موسيقی له الاتو پرته ورته سندرې ووايي؟ ځواب ورکوي چې سندرې يې روانه دي خو نڅايې منع نه ده .

ددې پوښتنې په ځواب کې چې آيا دخوښۍ په مناسبتونو کې لکه ودونه د نارينه وو نڅېدل او چک وهل روادي؟ او آيا دا کارونه ښځوته هم روادي ؟ ويلي دي چې دا کار په خپل نفس کې پروانلري، ترڅو چې بل حرام شی ورسره ملګری نه شي لکه د ښځو او نارينه وو يو ځايوالی او داسې نور .

ددې پوښتنې په ځواب کې چې کله ښځې ډاډمنې وي چې پردې نه ورځي نو آيا په ودونو کې دوی ته طبلې او داريا وهل روا دي ؟ او آيا ښځه د خپلو همزولو ( همجنسو ) تر مخ نڅېدلی شي ؟ وايي چې طبل او داريا وهل او ... ورته روان‌دي خو نڅېدل ورته چې له پرديو په امن کې وي روادي .

نوموړی ددې پوښتنې په ځواب کې چې آيا په نا مخامخ ډول لکه له راډيو- ټيپ ريکارډ او ... له ښځو څخه د ديني ترانو اورېدل چې شهوت نه راپاروي روا دي، وايي چې هو (( پروا نه لري ) )

ځينو رواياتو کې راغلي چې رسول الله صلی الله عليه واله وسلم له موسيقۍ پرته ودونه وليدل نو ويې فرمايل چې دا خو نکاح ده زنا خو نه ده ( ولې موسيقي نشته . ) (

له حضرت امام صادق څخه روايت شوی چې رسول الله صلی الله عليه واله وسلم په بني زريق قوم باندې تېرېده چې د موسيقۍ غږ يې واورېده، نو ويې فرمايل چې دا څه دي ؟ ورته وويل شول چې ای د خدای رسوله، د فلاني

Download from: ketabton.com

نکاح ( واده ) ده نو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم وفرمایل چې (( خپل ایمان یې بشپړ کړ دا نکاح ده ، زنا نه ده . ))

او زیاته یې کړه (( نکاح به په پټه نه وي تردې چې یا ( د پخلي دود ) ونه لیدل شي او یا د دریا غږ وانه وریدل شي . ((

خو امام خوئي وایي چې زموږ په نزد دا روایات کمزوري دي .

محمد طاهر بن علي احمد مقدسي (٤٤٨-٥٠٧ هجري ،١٠٥٦-١١١٣م ) چې دحدیثو تکړه حافظ او نوموتی تاریخ پوه دی ، بې شمېره تالیفات لري او په سفرونو کې هم ځانګړی شهرت لري دعوارف المعارف دلیکوال شیخ ابو حفص عمر سهر وردي له لارې روایت کوي چې یو اعرابي دا غزل زمزمه کړ.

قد لسعت حبة الهوی کبدي

فلا طبیب لها ولا راقي

الا الحبیب الذي شغفت به

فعنده رقیتی وتریاقي

یعنی ( دعشق مار په لړ مون وچیچلم او له هغه چا پرته چې ما پرې زړه بایللی دی بل ډاکټر او دموونکی نه لري دم او دزهرو ټیټوونکی مې هماغه دی.)(

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ددې غزل په اورېدلو دومره په وجد راغی چې چپن یې له اوږې پریوت او معاویه رضي الله عنه دشعر ویونکي ته وویل ستاسې بوختیاڅومره ښه ده حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل ای معاویه ! هر څوک چې د خپل محبوب دیادېدو په وخت کې په وجد رانشي لوی شخص نه دی((

امام ابن تیمیه، دا روایت موضوعي او دروغ بولي .

)مجموع فتاوی ، شیخ الاسلام احمد ابن تیمیه (( ١١ټوک ٥٥٧- ٦٤٥ مخونه مسئله سماع(

یو بل روایت هم شته هغه دا چې:(( هر کله رسول الله صلی الله علیه وسلم نیستمنو ته زېری ورکړ چې تاسې به له شتمنو وړاندې جنت ته ننوځئ نو دومره په وجد او جذبه راغلل چې خپلې جامې یې څېرې څېرې کړې جبریل علیه السلام له اسمانه راغی او ویې ویل ای محمده صلی الله علیه وسلم ستا پروردګار په دې څیرو شویو جامو کې خپله

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



برخه غواړي بيا يې له هغوی څخه يوه ترانګه واخيستله او په عرش يې راوځړوله اودا دنيستمنو او فقيرانو لاسته راوړنه ده.))

خو ابن تيميه دا روايت هم موضوعي او دروغ بولي.

نامتو محدث او داحاديثو حافظ ابو يحيى ذكريا بن يحيى بن عبدالرحمن بصري ساجي ، چې شيخ احمد ابن تيميه يې شافعي مذهب ته مايل بولي وايي چې، له ابراهيم ابن سعد بصري څخه پرته بل يو مخکيني امام هم له ساز او موسيقۍ سره مخالفت نه دی کړی او هغه څه چې ابو عبدالرحمن سلمي او ابوالقاسم قشيري يې له امام مالک څخه روايت کوي اشتباه ده او له شک پرته چې سهوه شوی دی ځکه چې دمدينې ځينې علماوو دسماع په مجلس کې برخه اخستې ده.

مسئلة السماع د مجموعه فتاوى شيخ احمد ابن تيميه په حواله

شيخ ابن تيميه چې دموسيقۍ له ډېرو سختو مخالفينو څخه دی او دموسيقۍ د رد لپاره يې په خپل ګومان په حقه او ناحقه ډېر ايتونه ددليل په توګه چې ځينې يې آن له موضوع سره تړاو هم نه لري وړاندې کړېدي هم دخيرالقرون دحديث په وړاندې کولو او په دې اړه ددليل نيولو په پاى کې وايي : (( او دا مت امامانو موسيقي ښه نه ده بللې او لوى شيخان يې مجلس ته نه دي راغلي .))

خو دالاسلام والفنون الجميلة ليکوال دابن تيميه ددې نظر له راليږدولو وروسته وايي : ابن تيميه دلته يواځې دکراهيت ترحده وړاندې تللى نه دتحريم ترحده اوهغه (ابن تيميه) يې لامل دابولي چې دا په خير القرون کې نه وو او دانوى کار دى خونوى والى څه ستونزه لري ؟ زموږ په اند که نوى والى په ديني مسايلو کې نه وي هيڅ باک نه لري آن پخپله دابن تيميه په نظر هم لکه څرنګه مو چې وړاندې وويل .

ابن نحوي په (العمده) کې ليکي، چې ابن طاهر وايي:"دا د مدينې د اوسېدونکيو اجماع ده او ټولو ظاهريه وهم منلې ده ."

ابراهيم ابن سعد هغه څوك دی، چې د "صحاح الستة و "د حديثو د شپږو مشهورو کتابونو) ټولو خاوندانو ترې احاديث روايت کړي دي. او له ده څخه روايت کوونکي ټول په دې خبره يوه خوله دي، چې هغه به موسيقي غږوله.

لکه وړاندې مو چې وويل د موسيقۍ يو کلک مخالف شيخ الاسلام تقى الدين احمد ابن تيميه (٦٦ � ٧٢٨ هـ - ١٢٦٣_٣٢٨ ) دى .

دى وايي هغه سماع چې الله ( ج ) يې خپلو بنده ګانو ته د زړه تنګۍ ، سترتيا او له ذهني فشار د لېرې کولو لپاره د اورېدلو اجازه کړېده او د خوښۍ او تفريح لپاره يې کارولی شي هغه د الله ( ج ) د کلام اورېدل دي چې نورو پيغمبرانو ، د علم او معرفت خاوندانو، په خپله زموږ رسول اکرم ( ص ) او صحابه و او تابعينو ورته غوږ ايښى دى ( پخوانيو

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



امتونو د الله (ج) د خپل وخت وینا ته او اوسني امت قرآن عظیم الشان ته )) چې همدا سماع د ایمان اصل دی . دی له قرآن پرته بل هر ډول سماع ناروابولي.

مجموع فتاوي جلد ۱۱

خو امام غزالي بیا دانه مني ، نوموړی وايي چې ساز او سندرې خپل ځانګړی ځای او اغېز لري او عظیم الشان قرآن خپل ځانګړی اغېز . دی وايي چې دا حقیقت دی چې له خوږ غږي قاري څخه د قرآن اورېدل ډېر او بې سارې خوندلري تردې چې انسانان خو پرېږده آن مرغان او پرښتې هم اغېزمنوي .

خو هغه موخه چې اورېدونکي يې د موسيقۍ او سماع په اورېدلو تر لاسه کول غواړي ټوله د قرآن په اورېدلوڅکه نه پوره کېږي چې قرآن عظیم الشان د يو جامع او هر اړخيز کتاب په توګه هر ډول او په هرې موضوع پورې اړوند احکام او آیتونه لري او داسې آیتونه هم شته چې له هغه حال سره تړاو نه لري او يا هغه تنده نه شي خړوبولی چې عاشق ، صوفي او عارفان يې لري ، د بېلګې په ډول په قرآن کې کیسې هم شته ، کورني او بهرني معاملات هم شته ، د میراث احکام هم شته نو دا دیو صوفي او عارف له حال سره څه تړاو لري ؟ نو دا ایتونه د اورېدونکي هغه هیله او مینه چې له سماع څخه يې لري نه شي پوره کولی ، همدا راز د مسلمان د ژوند ټول تړاو له قرآن سره دی اوهر وخت يې اوري او په تکرار سره دا اورېدل يا لوستل هم ددې لامل ګرځي چې غوږونه ورسره عادت واخلي او ورسره اشناشي نو هغه خوند او جذبه نشي راوستلی او زړه ته هغه ټکان نشي ورکولی کوم چې نوی شی يې ورکوي . د مړو او بې حرکتو زړونو د خوځولو لپاره لوستونکی اړ دی چې شعر او نظم په بېل بېل انداز او بېل بېل طرز سره ووايي ، څولحنه وکاروي ، اواز لوړ او ټیټ کړي چې دا د قرآن له عظمت او مقام سره نه ښايي او نه ورسره مناسبت لري .

د سندرو او اواز د ويلو په وخت کې لوستونکي اړ دي چې د موسيقی الات لکه شپېلۍ ، طبله او ارمونیه وکاروي او د قرآن لهجه ټوله جد دی چې له هزل سره يې يو ځال کول ناشونی دي .

د بېلګې په ډول ، رسول الله ( ص ) ربیع بن مسعود کره په داسې حال کې ور ننوت چې څو وينځو له دريا سره سندرې وېلې ، کله يې چې رسول الله ( ص ) ولید نو په شعر ويلو يې دده ستاينه پیل کړه نو ده ( ص ) ورته وويل چې هماغه څه ووايئ چې وړاندې مو ويل .

نو دده دا ستاینه پخپله ( جد ) وو چې له هزل ( دریا ) سره يې اړخ نه لګاوه نو ده ترې منع کړې .

بل دا چې په محفل کې هر څوک له خپل حال او خوښې سره سم نظم او سندرې وايي که یوه يې خوښه نه شي نو بله پیلوي يا فرمایش ورکوي خو د عظيم الشان قرآن په اړه هیڅوک دا زړورتیا نه لري چې د بدلېدلو کوښښ يې وکړي او هر آیت خوله هر حال سره مناسبت نه لري .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



کیمیا سعادت ، امام غزالي لومړی جلد ٤٥١- ٤٥٣ مخ

علامه شاه جعفر د موسیقۍ په اړه په خپل لیکلي کتاب (اسلام اور موسیقي) کې موسیقي د قرآن، حدیثو، د صحابه و او د تابعینو د وینا، د محدثینو او فقهاوو د ویناوو په رڼا کې څېړلې ده او دا یې ثابته کړې ده، چې موسیقي که له ساز او سرود سره وي او که بې سروده او سازه هېڅکله هم په اسلام کې حرامه نه ده.

نوموړی وايي، چې رسول الله (ص.) له دریا (دایره) سره یوځای سندرې اورېدلې دي. د موسیقۍ د حرمت په اړه، چې څومره روایات رانقل شوي دي دا پخپله د محدثینو پر اند موضوعي او د منلو وړ نه دي. صحابه کرامو هېڅکله هم د موسیقۍ د حرمت یادونه، نه ده کړې. فقهاوو هم موسیقي حرامه نه ده بللې او نه داسې کوم حکم شته، بلکې موسیقي او نغمې یې د اخلاقو یوه ځانګړې برخه بللې ده.

علامه شبلي نعماني د (الغزالي) په 38مخ کې لیکي:" کله چې د موسیقۍ خبره رایاده شي، نو معترضین وايي، چې دا لهو او لعب ده، خو غزالي ورته وايي، چې رسول الله (ص.) د حبشو د لوبو ننداره کړې ده. زه ددې له پاسه دا هم ورزیاتوم، چې لهو او لعب زړه ته ارامتیا، خوښي او سرور ورکوي، د سترې فکر دمه جوړوي، مطمئن کوي یې، څکه چې زړه کله ستړی شي، نو تیاره پرې راشي، نو کار، خواري، ژوند ته او د ژوند د ستونزو د بار د وړلو لپاره چمتو کولو ته باید خوښ او تاند شي او د تاندولو او خوښ ساتلو ذریعه یې همدا لهو او لعب دی.

کله چې علامه ابوالکلام ازاد د هند د (راګ ناټك اکاډمي) ریاست قبول کړ، نو په علمي حلقو کې ګونګوسې او تا وېلي ما وېلي پیدا شول. ښايي دوی به خبر نه وو، چې د هند دا امام په موسیقۍ کې څومره پراخ لاس او له موسیقۍ سره څومره مینه لري؟ له موسیقۍ سره ددې د بې سارې او بې کچې مینې د څرګندولو لپاره به دده له مشهور تصنیف (غبار خاطر) څخه د وروستي لیك څه برخه، چې په (1943/9/14) تاریخ یې لیکلی، راواخلو.

نوموړی لیکي:"ښکلا که په غږ کې وي او که په مخ کې، په تاج محل کې وي او که په ښنا باغ کې، ښکلا ده او ښکلا زموږ فطري غوښتنه ده. زه تاسو ته یوه خبره کوم، ګورئ ما څو ځله وېلي دي چې زه د ژوند له هرې اړتیا پرته ګوزاره کولی شم، خو له موسیقۍ پرته ژوند نه شم کولی. خوږ غږ زما د ژوند اسره، زما د ارواپي او دماغي سترتیاوو درمل او د زړه او جسم د ټولو ناروغیو علاج دی.

موږ په الاغاني او عقدالفرید کې لوستي، چې تراوسه له موسیقۍ سره د حجاز د خلکو مینې بدلون نه دی موندلی. دا مینه د هغوی په خمیره کې دومره ګډه شوې، چې آن د اذان غږ هم د موسیقۍ په انځور کې وړاندې کوي. حقیقت دا دی، چې موسیقي او شاعري د یو حقیقت دوه مخه او دوه وړانګې دي او په یو ډول یې څرګندول غواړي. د موسیقۍ مؤلف موسیقۍ ته د الحان په اجزاءو کې سر او تال ورکوي او لحن ته یې وزن او تناسب ورکوي، خو شاعر هماغه جذبه د لفظونو او معناګانو په بڼه څرګندوي .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



)توحنا بستی و من معنی رنگین بستم(

کوم حقیقتونه، چې په شعر کې د الفاظو او معنی جامه اغوندي، هماغه حقیقتونه په موسیقۍ کې د لحن سر او تال په پردو کې نغښتل کېږي .

نغمه هم شعر دی، خو د الفاظو او حروفو په بڼه نه، بلکې د روح او معنا له پلوه. په قوي ګومان سره وایم چې له مسلمانو پاچایانو څخه هم وړاندې مسلمانو صوفیانو د موسیقۍ پالنه پیل کړې ده او د ډهلي، ملتان، ایودهن او ګورخانقاګانو ته به ډېر لوړ لوړ شخصیتونه، عارفان او صوفیان تلل او د خدای ج په نزد د قبلېدلو او ثواب په نیت به یې هلته خپل جوهر ښوده. داسې ډېر علماء شته دي، چې د ژوند د حالاتو په لوستلو سره یې سړی پوهېږي، چې په موسیقۍ کې یې ډېر لاس درلود او ددې فن ډېر تکړه استادان بلل کېږي. دا خبره تقریباً مشهوره شوې ده، چې ګویا د اسلام دیني مزاج له موسیقۍ سره جوړ نه دی او موسیقي د دین له آنده حرامه ده. په داسې حال کې، چې ددې دعوې ټول ارزښت یواځې همدومره دی، چې فقهاوو او علماوو د ګناه د لارې د بندولو او مخنیوي لپاره دا حکم کړی دی (معنی دا چې دا کار په خپل ذات کې حرام نه دی، خو ددې لپاره منع وبلل شو، چې نورو ګناهونو ته زمینه برابره نه کړي) او دا سختنیونه هم د تشریح له مخې نه، بلکې د قضاء له مخې شوې ده او د قضا ډګر خو ډېر پراخ دی. د هر شی یا هر کار، چې د یو فساد لامل ګرځي، نو قضا یې مخه نیسي، خو د هغه شي یا کار حکم، خو په اصل ځای پاتې دی. "قل من حرم زینة الله التی اخرج لعباده" یعنې "ورته ووایه چا د خدای ج ښکلا (زینت) حرامه کړې ده، هغه زینت چې خپلو بنده ګانو ته یې پیدا کړې (پنځولې ده)."

په دې اړه هم د بسیا تر حده شواهد شته، چې عربانو هم له اسلام څخه وړاندې او هم له اسلام څخه وروسته په موسیقۍ باندې د یونانیانو ډېر لیکل شوي کتابونه عربي ته راژباړلي او هماغسې ګټه یې ترې اخیستې ده لکه څرنګه یې، چې د هغوی د ریاضۍ له کتابونو څخه اخیستې ده." (غبار خاطر)

د هند د امام له دې اقتباس څخه جوتېږي، چې نوموړی هم د موسیقۍ د حرمت د نظر مخالف دی او لیکي، چې که فقها د یو مصلحت له مخې په لنډمهالي ډول یو څه منع کوي، نو دا لنډمهالی حکم دی او د موضوع په دایمي حکم، چې هغه اباحت دی اغېز نه شي کولی. ددې بېلګه به دا وي لکه ډاکټر چې د ناروغۍ په وخت کې ناروغ د ځینو شیانو له خوړلو منع کوي، نو که ناروغ د ناروغۍ په وخت کې د ځینو شیانو له خوړلو منع شو، نو دا خو په دې معنی نه شوه چې دا ټول شیان پرې تر پایه حرام دي. همداراز د موسیقۍ په اړه هم د فقهاوو دا لنډ مهالی حکم لنډ مهالی دی او دایمي کېدلی نه شي او دا به څوك وي، چې د الله ج له خوا حلال شوی شی په خلکو حرام وګرځوي "ولا تقولوا لماتصف السنتکم الکذب هذا حلال و هذا حرام لتفتروا علی الله الکذب." یعنې "د خپلو ژبو دروغجنو دعوو له مخې مه وایئ، چې دا شی حلال دی او دا حرام، ددې کار پایله دا ده، چې په اللهج باندې د دروغو تهمت وایئ."

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## موسيقي د فطرت غوښتنه ده

موسيقي د فطرت غوښتنه ده او له موسيقۍ سره مينه د هر انسان په فطرت کې نغښتې ده. نه يواځې دا چې انسانان موسيقي خوښوي، بلکې هر ژوندی موجود له موسيقۍ سره مينه لري. د فطرت او د کايناتو خالق هم دا نړۍ او دا کاينات سندريز پيدا کړي دي او ددې لپاره يې سندريز پيدا کړي دي، چې تر او تازه، خوښ او نشيط واوسي. ډېر علما وايي، چې که څوك له موسيقۍ څخه خوند نه شي اخيستلی، نو دی ناروغ دی او بايد خپله درملنه وکړي، ځکه هر سالم او روغ فطرت موسيقي غواړي او له موسيقۍ خوند اخلي.

ډاکټر يوسف قرضاوي ليکي: که وګورو نو وينو چې سندرې خوښول او د خواږه غږ د اورېدلو په وخت کې خوښي څرګندول تقريباً انساني غريزه او د بشري فطرت غوښتنه ده تر دې چې وينو، يو کوچنی چې په زانګو کې ژاړي لاس او پښې غورځوي، خو د خواږه غږ په اورېدلو چپ شي او خواږه غږ ته غوږ شي. همدا لامل دی، چې مورګانې، دايه ګانې او د کوچنيانو نورې روزونکې له ډېر پخوا وخته راهيسې کوچنيانو ته خوږې ترانې او سندرې وايي او ژړا يې پرې بندوي.

له دې پرته حېوانات او الوتونکي هم د خواږه غږ او نغمو تر اغېز لاندې راځي. غزالي په احياء العلوم کې ليکي:"هر هغه څوك، چې سماع او موسيقي يې په حرکت او خوځښت رانه ولي له عقلي، اروايي او بدني ناروغۍ سره مخ دی، نيمګړی دی، تعادل نه لري او له روحانيت څخه ليرې په وچ طبيعت او بد ذوق کې تر اوښ، نورو حېواناتو او الوتونکيو هم بدتر دی، ځکه چې اوښ د خپل وچ او ساړه طبيعت برسېره هم له خواږه غږ سره مست شي او له درانه بار لاندې منډه کوي، اوږده مزلونه ورته لنډ شي، دومره مست شي چې له ځانه بې ځانه شي، ښځه اوښه د خپل خاوند خواږه غږ ته غاړه وراوږده او غوږونه دهغه غږ ته بوخ او ځير کړي، خپل مزل دومره ګړندی کړي، چې آن کجاوه او بار يې سخت ټکانونه خوري".

ابوبکر محمد بن داؤد دينوري رضی الله عنه چې په رقی مشهور و، وايي چې په يوه دښته کې روان وم چې يوې عربي قبيلې ته ورسېدم له هغوی څخه ديوتن په بلنه دهغوی کېږدۍ ته لاړم، په خېمه کې مې يو تور مريی وليد چې تړلی و. له کېږدۍ بهر څومره اوبو ډېر ډنګر اوښ چې داسې فکر کېده چې ګونډې همدا اوس يې ځنکدن دی پراته وو دې مريي راته وويل چې ته زما دبادار مېلمه يې او زما بادار دمېلمه خبره په ځمکه نه غورځوي نو ته زما بادار ته زمادخلاصون شفاعت وکړه هيله ده چې مابه پرېږدي .کله چې کوربه ډوډۍ راوړه نو ما يې له خوړلو انکار وکړ اوورته ومې ويل چې ترڅو ددې مريي په اړه زما شفاعت ونه منې نو ډوډۍ به ونه خورم. هغه راته وويل چې دې مريي خو زما هر څه په اوبو لاهوکړي او دپولۍ ټک ته يې کښېنولم. ما ترې وپوښتل چې څه يې کړي، هغه وويل چې دی ډېر خوږ غږ لري او زما دژوند ګوذاره په دې اوښانو روانه وه ،ده پرې ډېردرانه بارونه بارکړل او بيا يې ورته

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



حدا ويل پيل کړل تر دې چې اوښان يې دومره مست کړل چې ددرې شپو او ورځو واټن يې پرې په يوه شپه او ورځ کې وواهه او چې بارونه ترې ښکته شول نو له همدې يو اوښ څخه پرته نور ټول مړه شول خو ددې ټولو خبرو برسېره اوس چې ته زما مېلمه يې زه تا نه خفه کوم دادی دا مريمې ستا ددرناوي لپاره تاته در وبخښه. دينوري وايي چې دې ته مې تلوسه وه چې دده غږ واورم چې سحر شو نوکوربه دې مريي ته امر وکړ چې هغه اوښ ته چې له کوهي څخه اوبه راوباسي حدا ووايي. ده چې کله حدا پيل کړ نو اوښ دومره مست شو چې ټول پړې يې وشلول او زه هم له ډېرې اغيز متيا پړمخې پر ځمکې راولوېدم او گومان نه کوم چې په ژوند کې مې تردې ښکلی غږ اورېدلی وي.

ماران به مو ليدلي وي، چې د بيم غږ ته څجه شي، په لکۍ ودرېږي او نڅېږي. د قمرۍ، پاختکې سندريز غږ د ابشارونو، سيندونو، بادونو مترنم او له موسيقيت څخه ډك غږ به مو اورېدلی وي.

بيا هم علامه قرضاوي ليکي:"...نو موسيقي د زړونو د دردونو علاج او زړونه له ناروغيو، ستړتيا او غمونو، دردونو څخه ژغوري، سندرې د غوږونو خوند دی، چې اروا خوښوي، تاندوي يې، ستړتيا ليرې کوي. څرنگه چې لذت لرونکي خواړه او خوندوره مېوه معدې ته خوند ورکوي، هماغه ډول چې ښه بوی، د شامې حس راپاروي او پوزې ته خوند ورکوي... همدا ډول موسيقي غوږونو ته خوند ورکوي، نو دا يو خوندوره پديده ده... انسان نه شي کولی چې تل منډې ووهي، تل جدي واوسي، تل ستړی او ستومانه و اوسي. کله چې حضرت حنظله رضی الله عنه وانگېرله چې له کورنۍ، ښځې او بچيو سره دده حال له هغه حال سره چې د حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په ملگرتيا، مجلس او ناسته کې يې لري ډېر تفاوت لري، نو د منافقت وېره ورسره پيدا شوه او وېرېده، چې هسې نه منافق شوی وي، نو حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې "يا حنظله ساعة و ساعة" يعنې "ای حنظله! کله داسې او کله هاغسې" (مسلم)

حضرت علي رضی الله عنه فرمايي "کله کله زړونو ته خوښي او تازه گي ورکوئ، ځکه چې کله زړونه وچ (ستړي) شي، نو ړندېږي".

بيا هم حضرت علي رضی الله عنه فرمايي "رښتيا چې زړونه هم د بدن په څېر ستړي کېږي، نو د زړونو لپاره هم حکيمانه او ظريفانه الفاظ ولټوئ (ويې خندوئ، تازه يې کړئ)."

که څوك د يو مسلمان رښتوني ژوند ته وگوري، نو وينې چې د ديندارۍ او له خواږه غږ څخه د خوند اخيستلو ترمنځ هېڅ ټکر نشته. د يو مسلمان غوږونه په نورمال ډول له خواږه غږ سره بلد دي او هره ورځ ترې تغذيه کېږي، هر مسلمان له تجويد او ترتيل سره برابر په خواږه غږ د قرآن عظيم الشان تلاوت کوي. ښو قاريانو ته غوږ ږدي، له اذان څخه خوند اخلي، دا ازانگي يې هره ورځ پنځه ځله غوږ ته وررسېږي".

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



زه وايم چې هغه موسيقيت او ترنم چې د مرحوم ارواښاد قاري عبدالباسط او ځينو نورو قاريانو په غږ کې شته دی او مسلمانان ترې کوم خوند اخلي بېلګه به يې ډېره کمه وموندل شي او خلك به د موسيقۍ له الاتو څخه هم هغه خوند وانه خلي.

په حديث کې راغلي دي، چې د حضرت اسيد بن حضيررض خواږه غږ آن آس هم مست کړی دی. (تجريد البخاري)

دا په قرآن عظيم الشان او تورات دواړو اسماني کتابونو ثابته خبره ده، چې د حضرت داؤد عليه السلام نغمو او موسيقۍ به انسانان خو پرېږده، چې آن الوتونکي او جمادات هم اغېزمن کول يعنې حيوانات خو پرېږده، چې آن په جماداتو او تيږو يې هم اغېز کاوه او دده اواز او نغمو ته به راځغاستل:"ولقد اتينا داود منا فضلاً يجبال او بی معه والطير" يعنې "او له شك پرته موږ داؤد عليه السلام ته له خپله پلوه يو غوره والی ورکړی و، غرو ته مو وويل چې له ده سره د ثنا په وخت کې خپل غږونه ملګري کړئ او مرغانو هم له ده سره ثنا ويلې."(سباء10)

"والطير محشورة كل له اواب" يعنې "او الوتونکي هلته راغونډ شوي، ټول پرې رامات وو" (ص19)

په تورات کې راغلي دي، چې حضرت داؤد عليه السلام به د ډېرو بدني او اروايي ناروغيو درملنه په موسيقۍ باندې کوله.

په سمويل لومړي باب، 23 ايت کې راغلي :"کله به چې د خدای ج له خوا په ساول ناوړه اروا نازله شوه، نو حضرت داؤد عليه السلام به خپل چنګ ته لاس وراوږد کړ او وبه يې غږاوه له دې سره به له ساول څخه ناوړه اروا والوتله او په حال او هوښ به راغی."

له موسيقۍ سره د بې کچې مينې دا بېلګې هم لولو، چې عطاء الله پالوي رانقل کړي دي. په اسام کې د فيل ښکاريانو اعلان وکړ، چې فيل له يوې ځانګړې سندريزې نغمې سره بې کچه مينه لري. په نړېواله جګړه کې دا جوته شوه، چې شاديان (بيزوګان) له موسيقۍ سره مينه لري او هره شپه به د فوځې اډې هغې برخې ته راټولېدلې، چې عسکري موسيقي به يې غږوله او په ډېرې ارامۍ به يې موسيقي اورېدله. ځينې به يې دومره اغېزمنې شوې، چې خولې به يې اسمان ته واړولې او ډول ډول اوازونه به يې وېستل.

آغلې "ډهپانې" به د استرليا ځنګلي آسونه خوښول، خو نيول يې ورته سخت وو. په پای کې يې اعلان وکړ، چې هغې لومړی ځنګلي آس په موسيقۍ اغېزمن کړ او بيا يې په ډېرې اسانۍ ونيوه .

نومورې ليکي، چې په نيويارك کې غواګانې هم د موسيقۍ تر تجربې لاندې ونيول شوې او کومو غواګانو ته، چې موسيقي اورول شوې وه، نو د نورو په پرتله يې په سلو کې له لسو تر دولسو ډېري شيدې ورکړې .

شکسپير، چې د انساني جذبو او انساني فطرت تر ټولو غوره انځورګر دی هم په هر شي د موسيقۍ اغېز مني.

Download from: ketabton.com

نو له دې ټولو خبرو جوته شوه، چې د موسيقۍ تړاو له فطرت سره دی او اسلام هېڅکله هم له فطرت سره د جګړې اراده نه لري، بلکې اسلام د فطرت پالونکی، هڅوونکی او بشپړوونکی دين دی.

## په پخوانيو مدنيتونو کې د موسيقۍ شاليد

وړاندې مو وويل، چې د موسيقۍ تړاو له فطرت سره دی او هر انسان او حيوان په طبعي ډول موسيقي خوښوي. دا که د نن ورځې انسان دی او که د زرګونو کلونو پخوانی انسان، نو ځکه يې کوم ځانګړې ټولنې، مدنيت او د تاريخ کوم ځانګړي پړاو ته منسوبول ناسمه خبره ده. نه کوم ځانګړی کاشف او مخترع لري. نه کوم ځانګړی پنځوونکی، بلکې له کومه چې بشر په ځمکه پل ايښی، نو دا جذبه ورسره له هماغې ورځې ملګرې ده. البته حتمي ده چې کيفيت او نوعيت (څرنګوالی او ډول) به يې بدلون موندلی وي، د ژوند د نورو برخو په څېر دې فن هم پرمختګ کړی، خو د انسان له لومړنيو ملګرو څخه بلل کېږي. که څه هم ځينې تاريخپوهان د نورو فنونو او علومو په څېر موسيقي هم يونانيانو ته منسوبوي او بنسټ ايښودونکي يې هم همدوی بولي، خو دا ناسمه ده. په دې اړه ددې روايت رانقلولول بې ګټې نه دی:" د يونان د پخواني خدايګوټي "زيوس" نهه لونې وې، چې ميوزس يې ورته وېلې او دا د ټولو علومو او هنرونو بنسټګرې دي او همدوی د رقص او موسيقۍ هنر هم پنځولی دی. د ميوز تلفظ په يوناني ژبه کې موس ده او (ي) د نسبت لپاره ورسره لګول شوې ده. همدا ډول لاتيني او يوناني ژبه کې "ق" هم ورسره لګول شوی دی، چې ددې قاعدې له مخې ترې موسيق يا ميوزك جوړ شو."

پالوي وايي، چې د نڅا او موسيقۍ مذهبي سپېڅلتيا (تقدس) له ميلاد څخه وړاندې کلونو څخه ثابته ده. دی وايي، چې له روايتونو سره سم په لومړي ځل برهام ديوتا (برهام خدايګوټي) د منظمې موسيقۍ تصور وړاندې کړ. هغه د ټولو مذهبي ويدونو (سرودونو) څخه ښې ښې جملې راټولې کړې او يو جامع سرود يې ترې جوړ کړ، چې موخه يې روحاني پرمختګ ته د خلکو بلل وو.

د هندوانو په مندرونو کې هم له پخوا راهيسې موسيقي دود ده او اوس هم موسيقي په مندرونو کې د عبادت برخه بلل کېږي.

د سوراشتر په کليو او بانډو کې اوس هم موسيقي په هغه ډول محبوبيت لري او په هغه اندازه نمانځل کېږي، چې د کرشن جي په وخت کې دود وه.

د عيسايانو په کليسا، عبادتځايونو، اود مسلمانانو په خانقاګانو کې اوس هم عبادت د موسيقۍ په پردو کې نغښتل کېږي. آن چې دعاګانې هم په لحن، ترنم او خواږه اواز سره کېږي. د هندوستان پېغمبر کرشن جي دامني، چې دی هر ډول نغمه غږولی شي او د نغمو په هر تال پوهېږي.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



چينايي پېغمبر کنفيوسس چې پالوي يې پېغمبراو د الله ج استازى بولي، هم تر ټولو ښه نغمه پېژندونکى و. د هغه په اړه تاريخ ليکي، چې دې چينايي پېغمبر دومره په موسيقۍ کې لاس درلود، چې د موسيقۍ د هغه وخت ډېر نامتو او د نړېوال شهرت لرونکي هنرمندان ورته تسليم وو. وايي، چې کنفيوسس واورېدل، چې چېرته د سيانګ په نوم د پخوانۍ (کلاسيکې) موسيقۍ يو لوى استاد اوسېږي، نو ده له ډېر زحمت وروسته هغه ومونډ. سيانګ د کنفيوسس له غوښتنې سره سم هغه ته هاغه نغمه واوروله، چې کمپوز يې شهزاده وانګ دانګ کړى و. دا نغمه دومره خوږه او اغېزمنه وه، چې کنفيوسس يې له اورېدلو سره خمار شو بيا سيانګ له کنفيوسس څخه وغوښتل، چې دى هم هغه ته نغمه واوروي. کنفيوسس هم هغه ته دومره خوږه، له جادويي اغېز ډکه نغمه واوروله چې سيانګ يې بيخي بېهوښه کړ. سيانګ بيا کنفيوسس يا چينايي پېغمبر ته وويل، چې ستا فن دومره بشپړ دى، چې زه ستا د استادۍ وړتيا نه لرم. ته ماته د خپلې شاګردۍ وياړ راوبخښه او په خپلو شاګردانو کې مې ومنه.

د داؤد عليه السلام د نغمو يادونه مو مخکې هم وکړه، چې الوتونکي خو پرېږده آن کاڼي او غرونه يې هم اغېزمن کول.

علامه ابوالکلام ازاد له موسيقۍ سره د حضرت داؤد د مينې په اړه ليکي:"حضرت داؤد عليه السلام لومړنى کس و، چې عبراني موسيقي يې منظمه او راټوله کړه. بابلي مزاميرو ته يې پراختيا ورکړه، د موسيقۍ نوي الات او وسايل يې جوړ کړل".

علامه عبدالحکيم شرر ليکي:"د بني اسرائيلو د موسيقۍ د لوړتيا وخت د حضرت داؤد زمانه وه، چې مزامير يې اوس هم مشهور دي. پخوانى تاريخ پوه اسبيلوس وايي، چې حضرت داؤد به چې هر چېرته ته، نو چنګ به يې له ځان سره وړه، موسيقي د هغوى مذهبي دود و او د موسيقۍ د ټولو الاتو، باجې (ارمونيې)، تولې او شپېلۍ لپاره يې بېل بېل کسان ټاکلي وو".

عطاء الله پالوي د علامه ازاد او علامه شرر د خبرو په دوام ليکي:"حضرت داؤد خو د خداى جل جلاله پېغمبر او استازى او د عبادت او دعوت لپاره رالېږل شوى و، نو چې موسيقي د هغه عبادت نه و، نو ولې يې غږوله. که هغه د ګډا او موسيقۍ په واسطه عبادت نه کاوه، نو موسيقي يې ولې ټولوله او ترتيبوله؟"

پالوي ليکي، چې:"مزامير د مزمار جمع ده او لفظي مانا يې هره هغه اله ده، چې په پوکي سره غږول کېږي. لکه شپېلۍ، توله، بينډ....

نور شنونکي هم وايي، چې مزمار د موسيقۍ يوه اله ده.

دا څرګندوي، چې حضرت داؤد به خپله شپېلۍ او چنګ غږاوه.

Download from: ketabton.com

مشهور تاریخ پوه اسبیلوس وایي، چې "حضرت داؤد به خپل مذهبي مراسم له موسیقۍ سره پرځای کول او د موسیقۍ په پردو کې د عبادت د مراسمو د نغښتلو لپاره یې د موسیقۍ د وسایلو پوهان ګومارلي وو. نوموړی وایي، چې دا هم جوته شوې ده، چې دوی به د عبادت په وخت کې سندرې هم ویلې او نڅا به یې هم کوله.... کله به چې د شپېلۍ، تولې، رباب، تنبور، چنګ... غږ لوړ شو، نو حضرت داؤد به ورسره خپلې نغمې هم پیل کړې.

حضرت سلیمان علیه السلام بیا په خپل وخت کې د موسیقۍ د الو غړوونکي وټاکل. د حضرت سلیمان علیه السلام زمانه د بني اسرائېلو د موسیقۍ د ځوانۍ او تاندو شېبو دور و."

بېضاوي او زمخشري لیکي، چې له اسلام څخه وړاندې به خلکو د کعبې طواف د نڅا په بڼه کاوه او حتمي ده، چې طواف د هغوی عبادت وو او د ثواب په نیت یې کاوه. علامه سید سلیمان ندوي د سیرت النبي په پنځم ټوک کې لیکي: هغوی به په طواف کې ګنډل شوې جامې هم نه اغوستې. دا یې د کبر جاه او جلال څرګندویه بلل او بربنډ طواف به یې کاوه. خو اسلام دا د الله ج پر وړاندې بې ادبي وبلله. همدا لامل و، چې دا کار یې ناروا وباله.

زمخشري او بیضاوي وایي، چې ښځو او نارینه و به د یو بل په ګوتو کې ګوتې ورکړې، لوڅ به وو او د نڅا په بڼه به یې طواف کاوه.

علامه پالوي لیکي چې له اسلام څخه وړاندې هم موسیقي وه، خو هغه موسیقي متمدنه او مهذبه نه وه، او د اسلام له راتللو او د نبوي دور او د راشده خلیفه ګانو له دورې وروسته، چې مسلمانان په کې د اسلامي خلافت د کېږدۍ د مراندو په ټینګولو بوخت وو، د امویانو په وخت کې بیا موسیقۍ ته پام راواړول شو. په هغه وخت کې د اسلامي نظام په پلازمېنه مدینه منوره کې د هغه وخت مشهور سندرغاړي طوس موسیقۍ ته ډېر خدمت وکړ. د اموي دربار بل وتلی سندرغاړی د مسجاح زوی سعید و. نوموړی لیکي، چې الکندي او فارابي د موسیقۍ د نړۍ هغه وتلي ستوري دي، چې وړانګو یې ټوله اسیا او اروپا نیولې ده. دوی موسیقي هغه پوړ ته ورسوله، چې تر دوی وړاندې یې چا تصور هم نه کاوه. د دوی فن او د موسیقۍ په فن کې د دوی د عروج پوړیو ته نن هم ټولو اروپایانو سرونه ټیټ کړي دي. د منځنۍ پېړۍ نامتو ژباړن (جیررډ) په دې ویاړي، چې د دریمې هجري پېړۍ ددې وتلي عالم او موسیقي پوه کتابونه یې خپلې ژبې ته ژباړلي دي.

د اروپا مشهور فیلسوف ګارډن، الکندي د هغو دولسو کسانو له ډلې څخه بولي، چې دی یې تر ټولو ډېر ډېر ذهین، زیرك او په خبره ژر پوهېدونکی بولي.

د مصر وتلی لیکوال عباس محمود د دریمې پېړۍ د مشهور عالم فارابي په اړه په خپل (فارابي) نومي کتاب کې لیکي:"د موسیقۍ د فن په اړه چې فارابي څه لیکلي دي، هغه له هره اړخه بې جوړې او بې بېلګې دی. دده له لیکنو ښکاري، چې ده په موسیقۍ کې لوی لاس او په موسیقۍ ژور نظر درلود. د موسیقۍ په اسرارو، رموزو او ځانګړتیاو پوهېده. موسیقۍ ته د حېرانوونکې پراختیا او پرمختیا ورکولو له اړخه دی بالکل بې جوړې دی."

ketabton.com - The Digital Library



ښاغلي جي فارمر ليکلي دي، چې:" دا يوه پرځاى خبره ده، چې د فلسفې په نړۍ کې فارابي ته دويم ښوونکی ووايو، خو دا امکان نه لري چې د موسيقۍ د نړۍ لومړنی استاد او ښوونکی يې ونه بولو. که د موسيقۍ پر فن د فارابي ليکلی کتاب (الموسيقي الکبير) د موسيقۍ په فن کې وروستی (جامع) کتاب وبولو، نو يوه ذره به مو هم مبالغه نه وي کړې، بلکې، له يو حقيقت سره به مو ملګرتيا کړې وي. ټولو خلکو که هغه هر څوك اوهر چېرې وي، فارابي د موسيقۍ په نړۍ کې د امام او استاد په توګه منلی دی".

له دې پرته نورو سلګونو علماوو او پوهانو د موسيقۍ فن ته ددې دواړو منليو او وتليو مسلمانو فيلسوفانو او علماوو د خدمت يادونه کړې ده.

د موسيقۍ د اسلامي شاليد په اړه امام ابوالفرج علي بن حسين ابن محمد اصفهاني (356هجري ق مړ) په الاغاني کې د هغو مسلمانو نارينه و او ښځينه و موسيقي پوهانو يادونه کړې ده، چې د موسيقۍ د فن استادان و او ليکي چې له دې څخه جوتېږي چې موسيقي په اسلام کې مردوده، حرامه او د شريعت خلاف نه ده .

مسلمانانو چې موسيقۍ ته کوم ارزښتمن خدمتونه کړي دي، نو يو عالم او د پوهې خاوند هم ترې ناخبره نه دی. په اروپا، ايران، مصر او هندوستان کې موسيقۍ ته د مسلمانو علماوو په خدمت ټول قانع دي او دا خدمت کوونکي هم عام خلك نه، بلکې ډېر لوی لوی علما، لوی لوی محدثين، لوی لوی مفتيان، قاريان او شيخان د خانقاګانو خليفه ګان او عارفان دي... زما موخه دا ده، چې ووايم په اسلام کې هېڅکله هم موسيقي حرامه نه ده، قرآن د داؤد عليه السلام د موسيقۍ يادونه کړې ده، چې د موسيقۍ رواوالي ته په کې اشاره ده.

پخوا هم علماوو موسيقي خپله کړې وه او چې اوس هم څوك په دې فن کې لاس لري، نو صحيح ده، ځکه چې قرآن د موسيقۍ په روا والي شاهد دی او قرآن هېڅکله هم انساني جذبه په قيد (ولکه) کې ساتل نه غواړي، ځکه چې موسيقي يواځې د انساني جذبو د تسکين لامل نه دی، بلکې د انسان ذهني او اخلاقي ژوند ته هم ځواك وربخښي. همدا لامل دی، چې د نړۍ ډېرو غوره او د لوړو اخلاقو لرونکيو خلکو موسيقي يوه ديني اړتيا بللې ده.

د موسيقۍ په اړه مو د هند د لويې وچې د ستر عالم مولينا ابوالکلام ازاد نظر هم وړاندې ولوست.

پالوي ليکي :"علامه نياز فتح پوري وايي، چې که موسيقي په اسلام کې حرامه واى، نو دا خبره به د اسلام په صدر (د اسلام په لومړنيو کلونو کې) مشهوره وه. په داسې حال کې چې په هغه وخت کې دا خبره نه وه آن موسيقي په کې پالل کېدله، روزل کېدله. تاريخ شاهد دی، چې هغه وخت د لوی لوی مقام خاوندانو نارينه و او ښځينه و نوموتو مسلمانانو موسيقي غږوله. د موسيقۍ استادان وو. په موسيقۍ يې ډېر کتابونه ليکلي دي. د بېلګې په ډول د (الاغاني) ليکوال د مالك يادونه کوي، چې عبدالله ابن جعفر په زوی توب نيولی و او د هغه شاګرد هم و. هغه په مدينه کې اوسېده، همهلته وفات شو. د وفات کال يې 137 هجري دی. نوموړی د موسيقۍ ښه عالم و. په خپله عبدالله ابن جعفررضي الله عنه، چې د موسيقۍ استاد و، هغه ته موسيقي وروښودله. مالك رح د هغه وخت له وتلې

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



سندرغاړي جميلې څخه هم دا فن زده کړ. اموي خليفه يزيد بن عبدالملك به د هغه ډېر قدر او هغه ته ډېر درناوی کاوه. د دويمې پېړۍ نامتو فنکار يا سندرغاړی اسحق موصلي، چې په 188هجري کال وفات شوی وايي، چې مالك د عربو د دې دور له څلورو تنو ډېرو رښتيا ويونکو او ډېرو پوهانو څخه يو تن دی.

همداراز په دويمه پېړۍ کې يونس او الخليل هم په موسيقۍ کتابونه ليکلي دي. ښه نو چې په لومړۍ او دويمه پېړۍ کې په مدينه کې چې د اسلام د خپرېدلو مرکز دی، مسلمان موسيقي پوهان وو او موسيقي يې اورېدله، د موسيقۍ محفلونه به يې جوړول، نو په دريمه او څلورمه (يا اوس په پېنځلسمه) پېړۍ کې د موسيقۍ حراموونکي روايتونه له کومه شول؟.

علامه رياست علي ندوي په تاريخ صقليه کې ليکي:"د موسيقۍ تړاو له انساني طبيعت سره دی. دا په مدنيت او بدويت (ښاري او سارايي) ژوند پورې هېڅ اړه نه لري. هر چېرته، چې خلکو ژوند پيل کړی دی، نو موسيقي به هرومرو د هغوی د ژوند يوه برخه وي. له صقليه و څخه وړاندې قومونو هم موسيقي اورېده او د مسلمانانو د تمدن له پيل څخه وروسته د عباسي او اموي خليفه ګانو په وخت کې به هم په درباورنو کې له سندرغاړو شعرونه، قصيدې اونغمې اورېدل کېدلې. په همدې ډول موسيقي په دربارونو کې ځای ونيوه .

پالوي ليکي:"تاريخ جوته کړې ده، چې (ځينو)پېغمبرانو او نورو ديني لويانوله موسيقۍ سره مينه ښودلې ده ، نو که موسيقي حرامه وای، هغوی به هېڅکله هم دا کار نه و کړی." (قرآن اور فنون لطيفه)

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# موسيقي د اروايي ناروغيو درملنه

دا جوته خبره ده، چې موسيقي د بدن او روحي سترتياوو، ناارامیو، پرېشانيو او اضطراب درملنه ده. سترې، ناارامه، پريشانه او خفه انسان خوښوي، فکري او جسمي سترتيا يې له منځه ځي، موسيقي د انسان غم غلطوي، پرېشانه، خفه او ناارامه زړونو ته خوښي، سکون او اطمنان ورکوي. څرنګه چې موسيقي يو نارمل يا عادي انسان ته خوند ورکوي او څرنګه چې موسيقي د روحي يا اروايي ناروغيو علاج ده، همدا ډول روغتياپالو او ارواپوهانو له پېړيو پېړيو راهيسې جوته کړې ده، چې موسيقي د جسمي ناروغيو علاج هم ده او د ډېرو اروايي او جسمي ناروغيو درملنه هم په موسيقۍ سره کېدلی شي. علماوو له پرله پسې او ډېرو تجربو وروسته دا جوته کړې ده، څرنګه چې د جادو، سحر او شعبدي اوراد په انسان اغېز کوي، څرنګه چې لېزر او بنفشه يي وړانګې په بدن اغېز کوي، همدا ډول د موسيقۍ اغېزې هم د انسان پر بدن جوتې دي. کله چې يو انسان ډېر خفه، پرېشانه او نهيلی شي او موسيقي واوري او يا پخپله موسيقي وغږوي، له ځانه سره سندرې زمزمه کړي، نو خفګان او پرېشاني يې ورکه شي او بدن يې له سره چارج شي. دا د نن او پرون دعوه نه ده. دا سلګونه کاله وړاندې تجربو ښودلې ده .

نامتو تاريخپوه جوزف بل په خپل تاليف (د عربانو تمدن) کې ليکلي، چې آن د اسلام په اوايلو کې چې عربانو کوم روغتونونه جوړ کړي دي، نو د ناروغانو د درد او شکايت د کنټرول لپاره يې په کې په موسيقۍ د درملنې واټ جوړ کړی دی او په موسيقۍ به يې د هغوی علاج کاوه.

د عربي نړۍ نوموتې ليکواله نجلا عزالدين هم په خپل تاليف "د عربو نړۍ" کې ليکي، چې عربو کې د (په موسيقۍ درملنه) اصطلاح بيخي عامه ده او عربو د (موسيقي علم العلاج) تر سرليك لاندې يوه ځانګړې څانګه پرانستې وه .

د مشن ګن پوهنتون څو نوموتو ډاکترانو د موسيقۍ د روغتيا بخښونکيو اغېزو په اړه خلکو ته يوه پېښه وړاندې کړه، چې په هغې کې ښودل شوي وو، چې د (واين) په نوم د موسيقۍ د يوې الې نغمه د سر درد سمدستي له منځه وړي او د سر د مغز د ارامۍ لپاره ډېره ګټوره ده. دوی وايي، چې (چنګ غږول) د رحم د لاندې برخې د دردونو د تسکين لپاره درمل ده.

د يو جرمني استوګن په وينه کې يوه نوې او ناپېژانده ناروغي پيدا شوه، چې ډاکټران يې له درملنې عاجز وو، خو يو ډاکټر ورته د تولې په واسطه څو نغمې وغږولې، چې دا ناروغ د همدې خوږو نغمو له اورېدلو وروسته جوړ شو .

پخوا چې د برومايد او کلوروفارم په څېر بېهوښوونکي درمل نه وو، نو ډېرو ډاکټرانو به د خېټې د عمليات په وخت کې د ناروغانو د بېهوښه کولو لپاره هغه ته موسيقي واوروله.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



د اروايي ناروغيو د تر ټولو لوی روغتون (پلګرام استېټ) رئيس وايي، چې د اروايي ناروغيو په روغتون کې موسيقي ځانته ځانګړی ځای او لوړ مقام لري. آن په 1947 کال کې اروايي ډاکترانو پرېکړه وکړه، چې هر اروايي روغتون ته به سندرغاړي ورلېږي. څو لسيزې پخوا ارواپوهانو په دې کار کاوه، چې د موسيقۍ کوم راګ او کوم تال د کومې ناروغۍ لپاره ډېر ګټور دی. علامه پالوي زياتوي، چې ښايي هغه ورځ لېرې نه وي، چې د ناروغيو د درملنې لپاره د مصنوعي درملو او داروګانو ځای ټول موسيقي ونيسي.

په (هټن سټيټ روغتون) کې به د په سلو کې اته دېرشو ناروغانو درملنه په موسيقۍ سره کېدله او ورسره به ښه کېدل. له موسيقي سره رګونه خپل نارمل حالت ته راځي. که کمزوري وي پياوړي کېږي.

يو روسی ډاکټر ليکي، چې ما په تجربو ثابته کړې ده، چې له موسيقۍ سره د سترګو د ليد ځواک په سلو کې پينځه ويشت ډېرېږي. همدا راز له موسيقۍ سره د سترګو رګونه خوزېږي.

ډاکټران د غاښ د برمې کولو په وخت کې د برمې له زړه رېږدوونکي غږ څخه د ناروغ د ژغورلو لپاره له ډېرې مودې راهيسې موسيقي کاروي.

اروپوهانو په زندان کې هم موسيقي ازموېلې ده او پايله يې دا ده، چې څو بې رحمه، بې عاطفې او د کاڼي زړه لرونکي سړي وژونکي بنديان سم شوي او د وحشت ژوند يې د تل لپاره پرېښی دی.

د برتانيې اوسېدونکي ډاکټر والټر والشي د (سندره او د سندرې اغېزې) تر سرليك لاندې خپلې مقالې کې ليکي، چې د ځيګر او بدهضمۍ په ګډون د ډېرو ناروغيو لپاره موسيقي ښه درملنه ده. نوموړی وايي چې د خوب، څښاك او خوراك په څېر موسيقي هم د ژوند اړتيا ده، چې کم تر کمه بايد په 24 ساعتونو کې نيم ساعت ورکړل شي. دی وايي چې له موسيقۍ سره د وينې دوران او جريان چټك کېږي. له بدن څخه زهرجن او فضله مواد وباسي. د ډاکټر والټر پر وينا، ناروغيو ته له روغتونونو او بازار څخه کيمياوي او مصنوعي درمل پېرل غېر فطري خبره ده. ښه دا ده، چې د ناروغيو د درملنې فطري لارې عملي کړو، طبيعي وسيلې وکاروو چې په دوی کې آسانه او تر ټولو غوره لاره ناروغ ته د موسيقۍ اورول دي.

د ډهلي مشهوره رساله (دين او دنيا)، چې ټول مذهبي مشران يې لولي، ليکي" د سويډن په پلازمېنه استاکهولم کې يو حېرانوونکی روغتون پرانستل شوی دی، چې په خپل ډول کې بېخي يواځينی او هېښوونکی دی. ددې روغتون ځانګړنه دا ده، چې دلته د درملو پرځای د ناروغ درملنه په موسيقۍ سره کېږي".

"په دې روغتون کې د هرې ناروغۍ لپاره بېله ځانګه جوړه شوې، چې د هر ناروغ له ناروغۍ سره سمه نغمه ورته غږول کېږي او ناروغ ورسره ښه کېږي

Download from: ketabton.com

د سویډن مشهور ډاکټر، چې په موسيقۍ سره د درملنې متخصص دی، وايي چې :"يواځې په خوراك او موسيقۍ يې ګڼ شمېر خطرناکه ناروغان رغولي دي".

يو بل ناروغ د حافظې له کمزورۍ څخه شکايت درلود، خو يو امريكايي ډاکټر يې د پيانو په واسطه درملنه وکړه او خلك ورته هغه وخت حيران شول، چې ويې ليدل څو ورځې د ډاکټر له خوا د پيانو له غږولو وروسته دی رك روغ شو او حافظه يې فعاله شوه.

د فوځ په تشکيل کې د موسيقۍ ګروپ ته ځای ورکول هم ددې لپاره دي، چې د هغوی احساسات راوپاروي او په جوش يې راولي. موسيقي نه يواځې په عادي خلكو اغېز کوي، بلکې د سکندر په څېر فاتحان يې هم له اغېز څخه خلاص ندي . وايي چې يو ځل د تموتيس په نوم يو هنرمند د سکندر په وړاندې يوه خوږه نغمه وغږوله. دې نغمې په سکندر دومره اغېز وکړ، چې په اصطلاح په بدن يې اور بل شو.

اوس په دې کې چاته شك نه دی پاتې، چې موسيقي په انسانانو، حيواناتو او نباتاتو اغېز کوي. اوس په دې هم کار شوی دی او دا هم ځرګنده شوې ده، چې کوم ډول موسيقي د کوم ډول چاپېريال سره سمون خوري. کوميدي، موسيقي او تراژېډيکي موسيقي يا خوښوونکې موسېقي او غموونکي موسيقي سره پېژندل شوي او سره بېلې شوي دي. اوس هنرمندان پوهېږي، چې کوم ډول موسيقي سړی خندولی شي او کوم ډول يې سړی ژړولی شي، نو دا ټول په انساني فطرت د موسيقۍ اغېز ښيي.

پخوا به چې نشه کوونکي مواد نه وو او روغتياپالو به ناروغان په موسيقۍ مست اوبېهوښه کړل، نو غوږونه خو به يې بېهوښه او بوخت وو، خو سترګو به يې د عملياتو جريان ليده .که څه هم ناروغ به د عمليات درد نه محسوساوه، خو د عمليات د جريان ليدلو به هرومرو د هغه په روحياتو اغېز کاوه، خو د تلويزيون، ډش انتينا او د خوځنده رنګينو تصويرونو د ښودلو د نورو وسايلو په راپيدا کولو سره دا ستونزه هم حل شوه. اوس د ناروغانو د غوږونو برسېره د هغوی سترګې هم بوختې وي، چې نه د عمليات درد محسوسوي او نه يېويني. بېنوا ويب سايټ (www.benawa.com)دچارشنبې په ورځ د ١٣٨٤ لمريز کال د کب په ٢٤مه دموسيقۍ داروايي اغېزې په اړه د سمندرحقمل يوه ژباړه پدې ډول رااخيستې ده

))ديوې نوې څېړنې نتيجې دا خبره جوته کړېده چې موسيقي ته غوږ نيول لکه ارامونکي درمل د درد په تسل کې ډېره کارندويه ده.

له يوه تازه ګزارش( راپور) سره سم د کلاسکو کالدونين په پوهنتون کې کارپوهان او اروا پوهان پدې توانېدلي دي چې دا واقعيت ومومي چې د علاقې وړ موزيک ته غوږ نيول د چا د غم او غصې اندازه را ټيټوي او د مزاج له خرابۍ او درد څخه د انسان د زغم توان لوړ بيايي

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



د درد د زغملو پر کومو کسانو چې ازمایښتونه تر سره شویدي داخبره یې ښودلې ده چې موسیقي د انسانانو د کنټرول احساس لوړ وې او د درد په مقابل کې ډېره کارندویه ده.

څېړونکیو په دې څېړنه کې د موسیقۍ دډېرو ډولونو څخه یعنې له راګه را نیولې بیا تر کلاسیکې او کلیوالې او عامیانه بدلو (سندرو) کار اخیستی دی.

ډاکټر "ریموند مك دونالد" د ارواپوهنې استاد په دې هکله ویلې دي چې دا څېړنه پر هغو ناروغانو تر سره شوې ده چې له جزئي جراحۍ وروسته یې په روغتون کې د نقاهت دوره تېروله او دا یې په ډاګه کړه چې د خپلې خوښې موسیقۍ ته غوږ نیول د غم او خفګان اندازه ډېره را ټیټوي.

هغه وایي : " موږ یو څو نور څېړنیز ازمایښتونه هم وکړل او له خلکو مو وغوښتل تر هغه چې کولای شي خپل لاسونه دې په یخو اوبو کې وساتي. ماته دا معلومه شوه چې هغوی د موسیقي داورېدو په موقع کې ډېره زیاته موده خپل لاسونه په یخو اوبو کې ساتلای شي.

هغه پر دې خبرې ټینګار وکړ چې موسیقي درد کموي او په درد کې د ناروغانو د کنټرول احساس هم زیاتوي.

"د سړو اوبو د ازمایښت په اوږدو کې، ګډون کوونکیو ته واک ورکړل شو چې په خپله خوښه دې موسیقۍ ته غوږ و نیسي ، یا دې ذ هنې حسابونه وکړي او یا دې یوه وتلې تلوېزیوني خپرونه وګوري . خو دوی یواځې یو شی ټاکلی شي. "

مک دونالد زیاته کړه چې په ټو لو مواردو کې هغه چا چې موسیقۍ ته غوږ نیولی و د سړو اوبو تر ټولو ډېرزغم یې لاره او په ځینو حالاتو کې یې ان تر نورو پنځه ځله زیات وخت په سړو اوبو کې لاس ساتلی وو.

دغه لاسته راوړنې د پنجشنبې په ورځ په منچسټر کې د انګلستان دارواپوهانو د انجمن لخوا وړاندې شوې((

نڅا او موسیقي د انساني جذبې د انتها هغه لاس ته راوړنه ده، چې په غیر شعوري ډول منځته راځي. کله کله په انسان جذبه دومره پیاوړې شي، احساسات دومره ځواکمن شي، چې په الفاظو یې ځرګندول ناشوني نه وي او یا یې په الفاظو په ځرګندولو د انسان تسکین نه کېږي، نو همدا ده چې د بېلابېلو اټکلونو، تصوراتو، خوښیو او جذبو د ښکارولو لپاره بدن په حرکت راشي او یا د الفاظو په ځای د موسیقۍ د زړه تخنوونکیو نغمو غېږ ته پنا ورووړل شي. هماغه د ټاګور خبره، چې :"کله الفاظ ختم شي، نو موسیقي پیل شي." ټاګور برهمن مذهبه و او د وشوبهارتي (نړېواله وروري) په ټولنه کې یې د موسیقۍ ځانګه هم پرانستې وه، ځکه چې هر انسان له موسیقۍ سره مینه لري. ټاګور موسیقي روحاني شی بولي. هلته په مندرونو کې اوس هم زده کوونکي د اونۍ په لومړۍ ورځې له لمر ختلو مخکې راغونډېږي او د خپل خدای (ج) حمد او ثنا د موسیقۍ او نغمو په پردو کې نغاړي.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



دا هم یو منل شوی حقیقت دی، چې د انسان ژبه له دې څخه ډېره عاجزه ده، چې څرنګه ښايي او څرنګه د اللهج د جلاليت او جماليت غوښتنه ده. په هماغه ډول د هغه لوی او سپېڅلي ذات عظمت او لويي وستايي. د انسان ژبه ډېره کمزورې ده، هغه هېڅکله هم لکه څرنګه چې په کار ده او څرنګه چې ورړ ده اللهج ستاېلی نه شي. نه د انسان ژبه دومره متره لري نه يې قلم او نه يې انځورونه .

اللهج په خپله هم دې مطلب ته داسې اشاره کړې ده:"ولوان ما فی الارض من شجرة اقلام والبحر يمده سبعة ابحر مانفدت کلمت الله." يعنې "د ځمکې په کره کې چې ځومره ونې دي که دا قلمونه شي او دا سمندر چې دی که له دې سره اوه سمندره نور هم يوځای شي دا دوات (رنګ) شي نو هم د اللهج ټولې خبرې به ونه شي ليکلی".

له دې څخه ښکاري، چې د اللهج د الوهيت، جلال، کبر يا ذات او لويۍ د بيانولو لپاره يواځې ژبه او قلم بسيا نه ده، بلکې په دې اړه بايد د جذبو د تسکين او د اللهج په وړاندې د خپلې کمزورۍ او بېچاره ګۍ او د هغه ج د عظمت د ښودلو له نورو لارو چارو څخه هم ګټه واخستل شي چې يوه لار يې دموسيقۍ دپردو ژبه ده.

پالوي زياتوي، چې قرآن د اصولو کتاب دی. يواځې موضوع ته اشاره کوي، تفصيل نه ورکوي. فروع نه څېړي. اللهج انسان ته اشاره کوي. لاره ورښيي، د لارې له رحمتونو او زحمتونو څخه يې خبروي. دا نو نور د انسان کار دی، چې له زحمتونو ځان وژغوري او رحمتونو ته لاره ومومي او لارښوونه يې هم د اشارې په ډول ده. د جنګ او جګړې لاره نه خپلوي، ددې قرآني اشارو يوه بېلګه د ادم عليه السلام د زامنو کيسه ده، چې قابيل يې خپل ورور هابيل وواژه، خو بيا نه پوهېده چې د هغه له مړه جسد سره څه وکړي، نو اللهج ورته اشاره وکړه، داسې يې ونه کړل چې ورته ووايي قبر وباسه داسې وکړه او هاغسې وکړه "فبعث الله غراباً يبحث فی الارض" يعنې "الله کارغه ولېږه، چې مځکه وکني" "ليريه کيف يواري سواة اخيه"

يعنې "چې وروښيي څرنګه د خپل ورور جسد پټ (خښ) کړي." (مائده 31)

همدا راز فرمايي:" ص. والقرآن ذی الذکر" يعنې "سوګند په ص او په قرآن پند ورکوونکي."

بل ځای همدې سورت کې فرمايي:"کتب انزلنه اليك مبارکا ليدبروا" يعنې "دا يو مبارك کتاب دی

چې پر تا مو نازل کړی ددې لپاره، چې خلك په کې غور او فکر وکړي."(ص 29)

"ان هوالا ذکر للعلمين" "يعنې "څه دی دا مګر د ټولو مخلوقاتو لپاره د درس او پند کتاب" (ص 87)

دلته وينو، چې قرآن خلکو ته يواځې اشارې کوي او د پند او درس ورکولو کتاب دی او همدا قرآن راته وايي، چې حضرت داؤد عليه السلام چې دالله جل جلاله رسول او استازی او له هرې لويې او کوچنۍ ګناه څخه پاك و، موسيقي غږوله. قرآن وايي، چې داؤد ع زغرې هم جوړولې او نغمې يې هم غږولې، نو کله چې مسلمانانو ته دا روا ده، چې د زغرو په جوړولو کې د حضرت داؤد عليه السلام تقليد وکړي، نو په موسيقۍ کې يې ولې تقليد روا نه دی؟.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



قرآن درته په ډاګه نه وايي، چې موسيقي روا ده، بلکې په اشارو يي وايي. کله د داؤد عليه السلام کيسه کوي، کله په جنت کې د موسيقۍ يادونه کوي. دا څپله ښيي چې موسيقي پېغمبري سنت ده .

علامه شاه محمد جعفر ندوي پهلواروي، چې د پاکستان د جماعت اسلامي مهم غړی او د سليمانيه خانقاه سجاده نشين و، وايي چې جنت د يوې ټولنې لپاره د ښه ژوند بېلګه ده او جنت کې موسيقي شته دی، نو په دنيا کې ولې نه وي؟ که جنت کې حورې او ښځې روا دي، نو دلته هم روا دي. که دلته شهد، شيدې، غوښې او مېوې روا دي، نو هلته هم روا دي. که دلته داسې شی چې چټيات، نشه، سردرد په کې نه وي روا دي، نو هلته هم روا دي. د جنت نعمتونه دلته هم روا دي، نو موسيقي چې هلته روا ده، دلته ولې روا نه ده.فاماالذين امنوا و عملواالصلحت فهم فی روضة يحبرون" يعني "نو هغه کسان ، چې ايمان يې راوړی اونيک کارونه کوي، دوی به باغچو کې نغمې اوري." (روم 10)

"ادخلوا انتم و ازواجکم تحبرون" يعني "ننوزئ تاسو او ستاسو جوړې جنت ته او تاسو ته به نغمې

دراورول کېږي." (زخرف 70)

ډېرو مفسرينو د (حبرة) معنې موسيقي اخيستې ده. همداسې معنی ترې امام مرتضی حسيني زبيدی په تاج العروس دريېم ټوک، 118 مخ کې اخيستې ده. همداراز امام زجاج امام راغب اصفهاني، ابن کثير، مجاهد، قتاده د مواهب الرحمن تفسير، زمخشري، وکيع... ترې همدا معنی اخيستې ده .

حضرت علي رضی الله عنه روايت کوي، چې رسول الله(ص() فرمايي، چې په جنت کې به داسې غونډې وي، چې حورې به په کې په لوړ اواز سندرې وايي.

نو لکه چې علامه شاه محمد جعفر ندوي پهلواروي وايي د جنت ژوند زموږ لپاره يو مثالي ژوند دی او بايد اقتدا ورپسې وکړو، تقليد يې وکړو، هلته چې موسيقي روا ده، نو دلته هم روا ده.

ډاکټر يوسف القرضاوي ليکي:" پخوا چې د موسيقۍ د حرمت په اړه ډېر تاکيد کېده يو لامل يې دا و، چې په داسې محفلونو کې به د پرديو ښځو او نارينه وو اختلاط عامه خبره وه او ډېره کمه به داسې پېښېدله، چې هلته دې نور ناوړه کارونه ونه شي، نو هلته له موسيقۍ پرته د پرديو ښځو او پرديو نارينه و اختلاط هغه هم په داسې حال کې، چې څه به سندرو او موسيقۍ او څه به شرابو مست کړي وو ليدل کېده، چې دا په خپله ګناه او ناروا کار و، نو ځکه په موسيقۍ هم د حرمت مهر لګېدلی و، خو اوس خلك کولی شي چې له اختلاط پرته آن د موسيقۍ له مجلس څخه هم ډېر لرې او د نارينه و او ښځو له اختلاط او د سندرغاړو مجلس ته له ورتللو پرته سندرې واوري، چې دا د روا والي خوا ته تمايل او په دې اړه د آسانۍ په معنی ده".

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



لکه علامه قرضاوي، چې وايي اوس په هر کور کې راډیو، ټېپ ریکارډر، تلويزيون... شته دی، خلك کولی شي چې موسيقي په خپل کور، سمه، غره... کې هم واوري او دېته اړتيا نه پېښېږي، چې ښځې او نارينه دې يوځای سندرغاړو ته کېني او اراېش کړې ښځې دې له پردیو نارینه و سره اوږه په اوږه مستې مستې، نشه نشه سندرې او موسيقي واوري.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## د موسیقۍ کارندوی

څرنګه چې دساز او سرود دغږولو په وخت کې دموسیقۍ الات هم ضرور دي نو الاسلام والفنون الجمیله په دې اړه لیکي: ( هر کله چې په لهو کې لکه څرنګه چې دجابر بن عبدالله په حدیث کې تېر شول دموسیقۍ الات لکه شپېلۍ دریا او ډول شامل دي همدا راز دموسیقۍ نور الات چې له دې یادو شویو الاتو سره یو ډول کار ورکوي په همدوی قیاسېږي ځکه چې داهم دهماغوی ځای نیسي . له همدې ځایه ده چې ابن حزم څومره ښه اجتهاد کړی دی هغه دصحیحو او مستندو احادیثو دقوت او دهغو عیبونو او علتونو له مخې چې دی یې دموسیقۍ د حراموونکیو حدیثونو لپاره شرموونکې بولي او همدا راز دامام ابو حنیفه په نظر په استدلال سره چې هغه د موسیقۍ الات حلال بللي، دموسیقۍ دکارندویو (الاتو) او ساز او سرود په اباحت نظر ورکوي.

امام ابو حنیفه (۸۰-۱۵۰ هـجري ، ۶۹۹-۷۸۷م) په دې اړه وايي : څوک چې دچاشپېلۍ او رباب پټ کړي نو لاس یې غوڅېږي او که هر چا داشیان مات کړل نو تاوان به یې ورکوي(( .

رسالة فی الغناء الملهی، امباح هي ام محظور ) ر سائل ابن حزم ج ص ۴۷

ځکه که داشیان حرام وای نو تاوان به یې نه درلود او هدر او ضایع شوي به وای لکه شراب ، دقمار الات او نور حرام شیان. خو کله چې داسې نه ده حلال مال دی او ارزښت لري نو که کله یې څوک پټوي نو لاس یې غوڅېږي او که څوک یې مات او یا ضایع کړي تاوان لري ځکه تر څو چې په حرمت دلالت کوونکی نص ونه لرو نو په چارو او شیانو کې اصل رواوالی دی . امام ماوردي وايي چې ځینې شوافع چنګ روا بولي. ابوالفضل طاهر له ابن اسحق شېرازي شافعي څخه همداسې روایت کوي. د (امتاع) لیکوال وايي، چې ابوبکر بن العربي هم چنګ روا بولي او ادفوي یې په رواوالي ټینګار کوي. اسنوي په (المهمات) له روياني، ابن نحوي له استاد ابو منصور، ابن ملقن په (العمده) کې له ابن طاهر او ادفوي له شېخ عزالدین بن عبدالسلام څخه همداسې روایتونه کوي. دا ټول سماع روا بولي که څه هم د موسیقۍ له یوې وسیلې یا الې سره وي.

)الاسلام والفن(

دموسیقۍ دکارندویو( الا تو) دحرمت په اړه چې ځینې روایات راغلي دي ډاکټر عماره یې په اړه وايي چې دحدیثو دجرح اوتعدیل دعلم دمقیاسونو او معیارونو له مخې ټول معلول او کمزري دي او په سند یا متن کې دکوم علت او نیمګړتیا له مخې دمنلو حدیثونو په تول پوره نه دي نو ځکه یې یو هم دمنلو وړ نه دی چې لاندینۍ بېلګې ددې حقیقت شاهدان دي او موږ یې له الاسلام والفنون الجمیله څخه را اخلو.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



١ : حضرت عايشي ته منسوب روايت چې وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : (( امرني ربي بنفى الطنبور والمزمار . )) يعنې الله جل جلاله ماته امر کړی چې طنبور او شپيلۍ له منځه وېسم((.

دا روايت ابراهيم بن اشعث کړی دی چې نسايي يې ضعيف بولي او بخاري ورته (منكر الحديث) وايي.

٢-حضرت علي رضى الله عنهي الله عنه ته منسوب روايت چې وايي : (( دخدای ج استازي درياوهل ... او دشپېلۍ غږ منع کړي دي .))

ددې روايت په راويانو کې عبدالله ابن ميمون دی چې هغه له مطر بن سالم څخه روايت کوي او لومړنی کس (عبدالله) ذاهب الحديث او دوهم (شبه مجهول) دی.

٣ -حضرت ابن عباس رضى الله عنه ته منسوب روايت چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : (( صوتان ملعونان فى الدنيا والاخرة، صوت مزمار عند نعمة وصوت ندبة (او رنة) عند مصيبة ..))

يعنې : دوه غږه په دنيا او اخرت کې رټل شوي دي. دشپېلۍ غږ دنعمت په وخت کې او دنوحې (ژړا غږ) دمصيبت په وخت کې((..

ددې روايت په راويانو کې (محمد بن زياد صحان يشکری)(١) دی چې امام احمد بن حنبل يې په اړه فرمايي : يو سترګی دروغژن ، ناوړه (انسان) دی او حديثونه ( له ځانه) جوړوي.

(١) صحان په ط يعنې طحان هم راغلی دی

٤ -حضرت علي بن ابي طالب رضى الله عنه عنه ته منسوب روايت چې ګويا رسو ل الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : (( بعثني ربي عزوجل بمحق المزاميرو المعازف والاوثان التى كانت تعبد فى الجاهلية والخمر واقسم ربى عزوجل بعزته الايشربها عبد فى الدنيا . ))

يعنی: (( زما عزيز او جليل رب زه راولېږلم چې شپېلۍ ګانې ، دموسيقۍ کارندوی (الات) ،هغه بتان چې په جاهليت کې پالل کېدل او شراب له منځه يوسم او زما عزيز او دلوړ شان رب په خپل عزت سوګند ياد کړ چې هېڅ بنده دې هغه (شراب) په دنيا کې نه څښي . ))

ددې حديث راويان عبارت دي له محمد بن فرات له ابو اسحاق سبيعی څخه او بيا له حارث اعور څخه چې دا ټول عيبونه لري، ابوبکر بن ابي شيبه دلومړني کس په اړه وايي : (( هغه يو زوړ دروغجن سړی دی .))

او بخاری ددريم کس په اړه وايي : (( هغه منكر الحديث دی )) او يحيى ابن معين دده په اړه وايي : (( هغه مهم شخص نه دی او حديث يې نه ليکل کېږي . ))

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



هغه ورته د(لیس بشئ) یعنی(( هېڅ هم نه دی .)) الفاظ کارولي دي.

امام ابو حامد غزالي وايي هر کله چې په زړونو دسماع اغیز ته وکتل شي نو په مطلق ډول يې په روا والي او ناروا والي حکم روانه دی، بلکې حالاتو اشخاصو او دنغمو دسبک توپیرونو ته په کتنې سره یې حکم توپیر لري او دسماع حکم په هغه اغیز حکم دی کوم چې په زړه کې پروت دی.

Download from: ketabton.com

# څه ډول موسيقي او کومې سندرې؟

کله چې موږ وايو موسيقي روا ده او يا د سندرو په اورېدلو کې کومه شرعي ستونزه نشته، نو پام مو وي چې له دې دعوې څخه مو غرض هر ډول ښه او ناوړه، شرمېدلې او مبتذله موسيقي نه ده، بلکې لکه څرنګه چې شريعت هرې چارې او هر شي ته پولې ټاکلې دي، نو همدا ډول يې موسيقۍ ته هم حدود او چوکاټونه ايښي دي، چې بايد ددې پولو په حدودو کې ځان بوخت کړو او تېرى ترې ونه کړو .

دا چې کومه موسيقي روا ده او کومه ناروا ده، په دې اړه ډېر تفصيل به ګومان کوم اوږدې ليکنې ته اړتيا ولري، خو ګومان کوم چې ددې پولو د پېژندلو او د روا او ناروا موسيقۍ د بېلولو لپاره تر ټولو غوره حکم کوونکى او ښه وسيله د انسان خپل وجدان دى، يانې د هر مسلمان وجدان او ضمير تر هر چا او هرڅه ډېر دا حکم ښه کولى شي، چې دا موسيقي مبتذله، بې لارې کوونکې او پاروونکې ده، چې اورېدل يا ليدل يې انسان ته تاوان رسوي او دا موسيقي رغوونکې، ويښوونکې، تاندوونکې، په انسان کې د ديني او ملي جذبې پاروونکې ده، نو اورېدل يې هم روا دي. ښه دا ده، چې هر مسلمان د خپل ضمير د محکمې پرېکړې ته غاړه کېږدي. که د چا وجدان په دې قانع وي، چې دا سندره چې زه يې اورم د اخلاقو، کولتور او عنعنې ضد نه ده، د اسلام له روح سره ټکر نه لري، بې حيايي، بې حجابي، لوڅوالى، په لهجه کې ناز او نخرې نه لري، په انسان کې پرديو ته شهوت نه راپاروي، نو د دا ډول سندرو اورېدل روا دي، خو که له دې پورته يادو شويو فاکتو څخه يو فاکت ولري او د انسان وجدان په خپله پرېکړه کوي، چې دا سندره اورېدل زيانمنوونکې او ناروا ده، نو اورېدل يې ناروا دي.

د هغې سندرې، چې اورېدل يې روا دي پېغام، متن، لهجه، منځپانګه (محتوى) بايد ټول د اسلام له اخلاقي چوکاټ، اسلامي زده کړو، اسلامي روح سره برابره وي او ټکر ورسره ونه لري. لکه وړاندې مو چې وويل، د خلکو اخلاق، د ټولنې تهذيب فاسد نه کړي، داسې شعر او سندره نه وي، چې له عقيدې، توحيد، رسالت، جنت، دوزخ... سره ټکر ولري، لارور کوونکې او ګمراه کوونکې نه وي، خلك شرابو، چرسو، پوډرو او نورو نشه کوونکيو شيانو ته ونه هڅوي، داسې سندرې نه وي، چې د اورېدونکيو يا ليدونکيو ټول پام، فکر، خيال، سوچ د نجونو، سترګو، شونډو... ته راواړوي. داسې چې ته به وايې ګوندې په ژوند کې له دې پرته بل هېڅ کار نشته دى. اسلام مسلمانانو ته امر کوي، چې خپلې سترګې په کنټرول او خپل واك کې ساتئ (قل للمؤمنين يغضوا من ابصارهم" يعنې "مؤمنانو ته induction وواېه چې خپلې سترګې په خپل کنټرول کې ولري" (النور30) "و قل للمؤمنت يغضضن من ابصارهن" يعنې "او مؤمنو ښځو ته وواېه، چې خپلې سترګې په خپل کنټرول کې ولري." (النور 31(

سندره بايد په دومره ناز، نخرو او داسې انداز هم نه وي، چې ويدې جذبې او جنسي غريزې په دې ډول راوپاروي، چې انسان بيا روا او ناروا ته ونه ګوري او په سترګو يې توره تياره خپره کړي. په ځانګړي ډول ښځې له دې ډول

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



خبرو منع دي. کله چې ښځې په عادي خبرو کې له ناز و نزاکت منع دي، نو په سندرو کې خو بیخي ناروا دي:" فلا تخضعن بالقول فیطمع الذی فی قلبه مرض" یعنې " غږونه مو نرم او نازك کوئ مه (په خبرو کې ناز و نزاکت مه کوئ) چې (جنسي) ناروغان درته بې ځایه تمه ونه کړي." (الاحزاب 32)

که د سندرو پیغام ښه هم وي، خو چې په داسې محفل کې وویل شي چې هلته شراب څښل کېږي، فحاشي په کې کېږي، د اراېش کړو ښځو او پردیو نارینه و ترمنځ اختلاط په کې وي، بې حجابي په کې وي، چې له بده مرغه دا کار ډېره لرغونتیا هم لري او آن له اسلام څخه له پخوانیو وختونو څخه راپاتې دی او اوس خو بیخي عام شوی دی، نو په داسې محفلونو کې ګډون روا نه دی او نه په کې موسیقي غږول او نه د موسیقۍ اورېدل روا دي. دا هماغه مطلب دی، چې په دې حدیث کې ورته اشاره شوې ده "لیکونن قوم من امتي یستحلون الحر والحریر والخمر والمعازف" یعنې "زما په امت کې به داسې قوم پیدا شي، چې زنا، ورېښم، شراب او سندرې به روا بولي" (بخاري)

همداراز حضرت رسول اکرم (ص.) په دې اړه په یو بل ځای کې هم فرمایي:"زما ځینې امتیان به شراب څښې، خو بل نوم به ورته ورکوي او په همدې وخت کې به ښځې ورته سندرې وایي، نو الله جل جلاله به دوی په ځمکه ننباسي او بېزوګانې او خنزیران به ترې جوړ کړي." (ابن ماجه) ددې دواړو روایاتو په صحت او نه صحت کې دعلماوو تر منځ اختلاف مو وړاندې ولوست وګورئ: د موسیقۍ د حرمت د پلویانو دلایل

همداراز د موسیقۍ په غږولو او اورېدلو کې باید له افراط او اسراف څخه کار وانه خېستل شي، ځکه چې د ژوند او یا په بله وینا، د انسان د پیدایښت اره موخه موسیقي نه ده او ډېر نور کارونه هم په مخ کې پراته دي. هر مسلمان باید د وخت په قدر پوه شي. بې ځایه وخت ضایع نه کړي، نو که یو څوك موسیقي اوري یا یې غږوي، نو باید دومره یې واوري، چې ستړتیا، پرېشاني او اضطراب ترې لیرې کړي. ژوند او کار ته یې چمتو کړي، چې د یو مسلمان کار او زیار هم باید عبادت وي، نو که څوك موسیقي اوري باید روا موسیقي واوري، ډېر وخت ورنه کړي او اسراف په کې ونه کړي. لکه علامه قرضاوي، چې وایي: "الله جل جلاله په هر کار کې اسراف منع کړی دی. موسیقي خو پرېږده آن په عبادت کې هم اسراف نه خوښوي، ځکه چې اسراف د نورو کارونو او نورو واجباتو مخه نیسي، د نورو حقوق ضایع کوي. ابن مقفع څومره ښه ویلي دي، چې [داسې هېڅ اسراف به نه وي، چې د نورو د حقوقو د ضایع کېدلو لامل ونه ګرځي].

نو اسراف په یو کار کې هم په کار نه دی او اسراف د روا کار د ناروا کېدلو لامل ګرځي.

مګر له بده مرغه نن سبا چې زموږ ځوانانو د موسیقۍ په اړه کوم چلند خپل کړی دی او په دې اړه څومره افراط کوي، نو بیخي خواشینوونکی دی. نه یواځې ځوانان ګرم دي، بلکې اسلامي حکومتونه او چارواکي، چې په خپلو تلویزیونونو کې کومه مبتذله، بربنډه، بې حیا کوونکې سندرې که د نارینه سندرغاړي په غږ کې وي او که د ښځینه سندرغاړې خپروي، نو دا ټولنې ته د شهدو په جام کې زهر ورکول دي. دا سندرې له اسلام، مذهب، افغاني کولتور

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



او عنعنې سره مخالفې دي، چې هېڅ اسلامي او کولتوري جواز ورته نه موندل کېږي او باید په کلکه یې مخه ونیول شي.

دا سندرې زموږ ځوانان په ځانګړې ډول نوي ځوانان بې لارې کوي، د شهوانیت اور یې تازه کوي او هڅه کوي، چې څه ویني نو په عمل کې یې هم پلي کړي.

دا سندرې حیواني جذبه پر روحاني جذبې پیاوړې کوي، معنویات وژني، ځوانان او پېغلې مو بې حیا کوي. لکه نن سبا یې چې ناوړې اغېزې په خپلو سترګو وینو. زموږ ډېر ځوانان په لمانځه ـــ اوداسه نه پوهېږي، د اسلام پنځه بناوې یې یادې نه وي. د خپل رسول او پېغمبر نوم (ص.) خو پرېږده، چې د خپل نیکه نوم یې نه وي زده، خو د هندي، انګلیسي، روسي، ایراني.... فلمي د ټولو ستورو له پوره بیوګرافۍ آن د زوکړې له ورځې به هم خبر وي. سندرغاړي به سندره پیل کړې نه وي، چې دی به تر پایه پرې رسېدلی وي.

همداراز د شعر منځپانګه هم ډېره مهمه ده، شعر باید رغوونکی او ګټور پېغام ولري، فحش وینا، چټیات، ښکنځلې په کې نه وي، د چا شخصیت په کې توهین شوی نه وي، په مشخص ډول په کې د کومې خاصې ښځې ښکلا (سترګې، مخ، زلفې، شونډې...) نه وي ستایل شوې او نه په کې د چا عزت او شخصیت ترور شوی وي، ځکه چې د هر مسلمان شخصیت ترورول ګناه ده. "یاایهاالذین امنوا لا یسخر قوم من قوم " یعنې "ای د ایمان خاوندانو یو قوم بل قوم مه ریشخندوئ "

)حجرات 11(

همداراز فرمایي:"ولا تلمزوا انفسکم ولا تنابزوا بالالقاب" یعنې "او د یو بل د عیبونو په لوڅولو پسې مه ګرځئ او په بدو نومونو یو بل مه یادوئ." (حجرات11)

همداراز په سندرو کې باید اسلامي او مذهبي مقدساتو ته درناوی شوی وي، پېغمبرانو، اولیاء کرامو، صحابه و او علماوو ته سپکاوی نه وي.

په شعر کې باید ډېره بې ځایه غندنه او بې ځایه ستاینه نه وي، چاپلوسي او تملق په کې نه وي، درباري شعر نه وي، ځکه چې درباري شعرونه چارواکي بې لارې کوي. اسلام وایي، چې ظالم،فاسق، بدکاره او تېري کوونکي مشران وغندئ، نو چې څوك یې د غندلو پرځای ستایي، نو ښکاره خبره ده، چې دا ګناه ده.

لکه وړاندې مو، چې وویل روا او ناروا موسیقۍ ته پولې ښودل اوږدې څېړنې ته اړتیا لري، چې زموږ د لیکنې له حوصلې څخه وتلې خبره ده، نو ښه خبره دا ده، چې هر انسان خپل ضمیر او وجدان مفتي کړي او د هغه د فتوی په رڼا کې وړاندې لاړ شي. که د چا ضمیر په دې امر کوي، چې دا سندره او یا موسیقي ځوانان او یا ټولنه بې لارې کوي، یا په کې دیني مقدسات توهین شوي یا د چا شخصیت ترور شوی، یا فحش ده، د ځوانانو جنسي غرایز له

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



کنټرول څخه وباسي، نو اوربدل يې گناه ده. الله جل جلاله هغه خلك غندلي او په عذاب ورکولو يې گواښلي، چې غواړي په اسلامي ټولنه کې فحشاء او بې حيايي خپره کړي. فرمايي:"ان الذين يحبون ان تشيع الفاحشة فی الذين امنوا لهم عذاب اليم فی الدنيا والاخرة" يعنې "هغه خلك چې غواړي په حق د مسلمانانو کې فحشا خپره کړي، نو دوی ته په دنيا او اخرت کې دردوونکی عذاب دی." (النور 19)

قرآن منحرفوونکی ، گمراه کوونکی ، بې گټې او فحشا ته هڅوونکی شعر غندي او دا ډول شعر ويونکي يې هم ټکولي دي او څوك چې د دا ډول شاعرانو شعرونه لولي او يا يې اوري،نو الله جل جلاله دا خلك هم ورك لاري او تېروتي بللي دي، نو بد شعر که له موسيقۍ سره وي او که بې موسيقۍ اوربدل يې روا نه دي. "والشعراء يتبعهم الغاوون" يعنې "او شاعران چې دي د دوی متابعت بې لاري خلك کوي." (الشعراء 224)

څومره چې د نارينه و پر وړاندې يا په راډيو ټلويزيون، ډېش، سي ډي گانو کې د ښځو په سندرو پورې اړوند ده، نو په دې کې هېڅ شك نشته، چې د دوی سندرې د پرديو نارينه و له خوا اوربدل کېږي او ليدل کېږي، نو په حرمت کې يې هېڅ شك نه شته دی.

خو که چېرې د کومې خوشحالۍ په مناسبت لکه ودونو، سنت گريو، اخترونو... کې ښځې يواځې ښځو ته سندرې وايي، نو بيا په کې کومه شرعي ستونزه نشته ده، خو چې د سندرې الفاظ گمراه کوونکي نه وي او نه ثبت شي او نه ريکارډ، ځکه چې بيا دا احتمال شته چې دا سندرې د پرديو نارينه و لاس ته ولوېږي.

علامه پالوي ليکي:"... خو دا ښکاره خبره ده چې ښځې په خپلو کورونو نڅېدلی هم شي او سندرې هم ويلی شي او دا په اسلام کې حرامه نه ده "

)قرآن اور فنون لطيفه 204مخ(

خو دا نن سبا چې په راډيوگانو، ټلويزيونونو، موزيك سنټرونو کې د نجونو کومې سندرې ليدل کېږي او اوربدل کېږي، هېڅوك يې روا نه شي بللی دا ناروا سندرې دي او پر ضد او دمخنيوي لپاره يې پاڅون په کار دی.

اوس تر هروخت ډېر ديوې اسلامي موسيقۍ تشه احساسېږي او مسلمانو هنروالو او هنرپالو ته په کار ده چې داتشه ډکه کړي . اوس تقريبا ټول خلک په نړۍ کې له خپرېدونکې مروجې بربنډې موسيقۍ څخه ماړه شوي دي او ډېر لېواله دي چې يوه خوږه او له انساني فطرت سره برابره موسيقي واوري . داسې موسيقي چې بربنډه نه وي ، حماسه او ننگ او غيرت پکې پالل شو ی وي ، چټيات او بېباکي پکې نه وي ، دالله ج ستاينه او درسول الله مقام پکې ياد شوی وي . داتشه ډکول دهرمسلمان او په ځانگړې ډول دهرهنروال او هنرپال دنده ده . دوی بايد ددې کار لپاره ځانگړي پروگرامونه او ځانگړې سټوډيوگانې جوړې کړي او ښې خوندورې اسلامي او افغاني سندرې ټولنې ته وړاندې کړي . چې بيا به څوک دا بربنډه او بې حيا موسيقي نه اوري او نه به پرې وخت ضايع کوي.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



دالاندینمضمون په ۱۳۸۱ هجري لمريز کال دهيلې مجلې په پرله پسې ۳٦ مه گڼه کې خپور شوی دی

Download from: ketabton.com

## نڅا او اتڼ د اسلام له نظره

عمر تېرېږي، د وخت كاروان هېڅ لاروي ته انتظار نه كوي، كه څوك وغواړي او كه ونه غواړي وخت تېرېږي، كه څوك خفه وي او كه خوشحال د عمر د مرغلين تار مزي يې لنډېږي. عمر كم دى، ژوند لنډ دى، دا جهان كاروان سراى دى، هېڅوك په كې تل نه پاتې كېږي. څوك نن او څوك سبا، د ژوند د كاروان يون ډېر ګړندى دى، منزل ته رسېدل حتمي دى. ژوند ډېر لنډ او تنګ دى. د لمريز نظام په دې اوږده او ساره كې د عمر له پلوه انسان ته ډېره كمه ونډه وركړل شوې ده. د انسان عمر ډېر كم دى. دسيارو او ځينو نورو موجوداتو په پرتله چې زرګونه څه چې آن ميليونونه كاله عمر لري د انسان شپېته اويا كاله عمر ډېر كم دى لږ څه چې آن د پرتلې او حساب وړ نه دى.

نو انسان ته چې الله جل جلاله اشرف المخلوقات ويلي او د ټولو مخلوقاتو بادار او سردار يې پيدا كړى دى، د ژوند دا څو شېبې تېرول څنګه په كار دي؟ په خوښۍ، په خندا، ورين تندي او كه په غم، خفګان، انديښنو، چورتونو او وسوسو. او ايا دا لنډكى ژوند دومره ظرفيت او ګنجاېش لري، چې هم په كې خوښۍ او خنداګانې وكړو او هم په كې وير او ژړاګانې. هم په كې مزې او چرچې وكړو او هم په كې تشويش او انديښنې، هم په كې ناز او نخرې وكړو، هم په كې سوداګانې او وسوسې، هم په فطرت كې له پنځول شويو ښكلاګانو او خوندونو څخه لذت واخلو او هم د طبيعت له منظرو او كرشمو سره په دښمنۍ ماره شو؟ هم له انسان او انسانيت سره مينه وكړو او هم له خپل همنوعه (هم ډوله) سره دښمني او كركه؟ نه نه هېڅكله هم نه. دا ژوند خو د خندا، خوښۍ، خوند او لذت لپاره هم ډېر كم دى. خفګان، غم، كركه او دښمني خو لا پرېږده. هغه شاعر څه ښه او څومره پاخه ويلي دي:

))دا ژونــد خـــو زموږ كم د محبت لپاره هم دى

حېران يم چې نفرت ته وزګارېږي خلك څنګه؟((

ژوند تېرېږي، ستا خوښه چې په خندا او خوښۍ يې تېروې او كه په غم او ژړا، دا وخت تېرېږي، په هر حال تېرېږي.

))اى شمع! تيرے عمر طبيعى هين ايك رات

هنس كـــر ګزار يـــــا رو كـــــر ګزار دے((.

يا:

))مره به شې شمعې يوه شپه به ستا رڼا وي

خندا كه په ژړا وي دا ژوند به دې تېرېږي((.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



نو کله چې ژوند لړ دی، عمر مو کم دی، کاروان مو حتمي منزل، (مرگ) ته رسېدونکی دی، نو ولې د خپل ژوند د قیمتي وخت تېرولو لپاره د خپگان، ژړا، غم او اندېښنو پرځای خوښي، خنداگانې، مستي، لذت، تفریح خوند او مزې ونه ټاکو.

د هند نامتو عالم او د اردو ژبې ستر لیکوال او روڼ اندی مفکر علامه مولانا ابوالکلام ازادرح لیکي، که چېرې د خوښ اوسېدلو هنر زده کړې، نو باور وکړه چې د ژوند تر ټولو لوی کار دې زده کړ." دی لیکي چې:"د یو فلسفي، یو زاهد، یو سادو له گونځ (تریو) تندي څخه موږ هغه څه نه شو یادولی چې د فطرت انځورگر یې په خپل باریك قلم او موشگافانه انداز د لمر په گرد او پړقېدونکي تندي، د سپوږمۍ په خندېدونکي مخ، د ستورو په سترگك، د ونو په نڅا، د الوتونکیو په نغمو، د روانو اوبو په سندریز غږ، د گلانو په رنگینه ادا کې راښیي او د خپل فن او هنر کرشمې په کې ځلوي)".1(

رښتیا خبره دا ده، چې ژوند د خوښۍ او تازه گۍ، خندا او خوشحالۍ، سرور او پراخۍ، خوند او لذت نوم دی او که څوك ژوند د ژوند په مفهوم او د ژوند له غوښتنې سره سم تېرول غواړي، نو په کار ده چې همدا ډول یې تېر کړي.

اسلام هم د فطرت دین دی، اسلام هم له بشر څخه غواړي چې ژوند د ژوند په مانا او د ژوند له غوښتنې سره سم د ژوند په څېر تېر کړي. اسلام ټولو انسانانو ته په کلکه خبر ورکړ، چې اسلام وچ کلك، متکور او جامد دین نه، بلکې تازه، خوځنده، خوشوونکی، خوند بخښونکی، ارامونکی او هوسا کوونکی دین دی. اسلام بشر ته روح پالونکی، زړه لمانځونکی، د خندا او خوشحالۍ پیغام ورکوونکی دین دی. اسلام هېڅکله هم د چا خوښۍ او خنداگانې نه ترورې او نه چا ته غمونه او اندېښنې ډالۍ کوي. نه پرې جامد، بې مانا، وچ او نه چلېدونکی پیغام تحمیلوي. اسلام د خوښۍ، سوکالۍ په ټولنه کې په ورین تندي د اوسېدلو درس ورکوي، نور خو لا پرېږده آن چې الله جل جلاله خپل پیغام، خپل دین او خپل کلام هم بنده گانو ته د یو نعمت په ډول وراندې کوي، د یوې خوږې ډالۍ، یوې قدرمنې تحفې په توگه یې ورپېژني او ورته وایي چې په ډېرې خوښۍ سره یې ومنه: (یاایهاالناس قد جاءتکم...) یعنې: "ای انسانانو تاسو ته ستاسو د رب لخوا د نصیحت او لارښوونې یوه ډالۍ درلېږل شوې ده او د زړونو (د ننني ناروغیو) لپاره شفا ده، او لارښوونه او د ټولو مومنانو لپاره رحمت ده) .2(

بیا مؤمنانو ته فرمایي، چې د الله جل جلاله ددې نعمت او ډالۍ قدر وکړئ او پرې خوښي ښکاره کړئ. "وبذالك فلیفرحوا..." یعنې :((او په دې سره خوښ شئ)) .3(

یانې نور ژوند خو مو په خوښۍ تېر کړئ آن زما عبادت او زما کلام هم د یو نعمت په توگه ومنئ او له خوښۍ څخه ډك چلند ورسره وکړئ.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ستر معاصر عالم عطاءالله پالوي ليکي:"الله جل جلاله غم، خپګان، وير او اندېښنې له انساني ټولنې څخه لرې غواړي. ټول ژوند، د ژوند هره پديده (ښکارندويه) ورته د خوښۍ زېږوونکې معرفي کوي او نه غواړي چې ټول عمر خفه شي، نو همدا لامل دی چې مرګ يې هم ورته يو نعمت او يوه ګټوره ډالۍ وروپېژندله او په سورت رحمن کې فرمايي، چې مرګ هم يو الهي نعمت او پېرزوينه ده: "کل من عليها فان" يعنې: "ټول هغه څه چې پردې ځمکه دي فاني کېدونکي دي... نو په کوم نعمت د خپل رب د نعمتونو تاسو دروغ وايئ)."4(

مسلمانانو ته امر کوي چې په دنيا کې موځانته داخرت لپاره توښه برابره کړئ او په هغه څه( نعمتونو او شتمنيو ) چې الله جل جلاله درکړي دالله رضا ولټوئ خو په دنيا کې هم خپله برخه مه هېروئ: (( وبتغ في ما آتاک الله الدارالاخرة ولا تنس نصيبک من الدنيا))

يعنې :او په هغه څه کې چې الله ج درکړي داخرت کور ولټوه او په دنيا کې هم خپله برخه مه هېروه ((

په همدې ډول يې په دې کايناتو کې انسانانو ته د غور، فکر او تدبر امر کړی دی، ترڅو دا کاينات په خپلو سترګو وګوري، چې څومره خوښ او موسك پيدا شوي دي. ښکاره خبره ده، چې اسلام وچ مذهب نه، بلکې تازه دين دی او خلکو ته د خوښۍ او خوشحالۍ درس ورکوي او له تريو تندي ، ګونځ مخ او غم او غوسې څخه يې ژغوري، نو دا کله ممکنه ده چې انسانانو ته ووايي چې په دې موسکه، خوښه او سوکاله نړۍ کې داسې خفه، غمجن او غوسه واوسئ، چې ګواکې همدا اوس مو خپل پلار په قبر ننويستی دی او ترې راغلي يئ)."5(

رسول الله (ص.) فرمايي، چې په ورين تندي له يو مسلمان سره مخ کېدل صدقه ده. اسلام د خوښۍ او موسکا پېغام لري اسلام وايي، چې هر مسلمان بايد د خپل ژوند لپاره د موسکا پانګه ولري، دا يې د ژوند فلسفه او لارښود ګرځولی دی. اسلام وايي، چې تاسې هم خوښ او خوشحاله واوسئ او ټولنه هم په تاسې حق لري، چې خوښه ،موسېدونکې او خوشحاله يې وساتئ. دا يوه طبعي اړتيا، يوه اخلاقي ذمه واري او ژمنه ده، دا وګړنيز حق نه بلکې، د ټولنې حق دی. دلته زموږ خبره يواځې زموږ خبره نه ده، بلکې په نورو هم اغيز کوي. دلته زموږ هر چلند يواځې تر موږ محدود نه پاتې کېږي، بلکې نورو ته هم سرايت کوي. که موږ هر څومره ځان خوښ کړو، خو چې شاوخوا مو سپېره مخونه، خفه زړونه او دردېدلي احساسات وي، نو زموږ خوښي راڅخه الوځي.

اسلام ورين تندی، خوشحاله او خوښ انسان خوښوي او زموږ پر ټولنې د حاکم نظر پرخلاف، چې تر يو تندی، خفګان، د غم اظهار، سپېره، خېرن مخ، پيوندې جامې، خشن او زيږ چلند، دنيا او د دنيا له شتمنۍ سره پرېکون (مقاطعه) د تقدس، روحانيت او علم لپاره لازم او اړين او د مسلمانۍ او پيرۍ ښه نښه بولي. دا ډول ژوندون غندي او برائت ترې اعلانوي. اسلام وايي، چې ټول انسانان او په ځانګړي ډول مذهبي پاڅکي چې صورت او سيرت (بڼه او کړنه) يې د اسلام څرګندوی او ترجمان بلل کېږي. بايد ډېر نشيط، خوښ، خوشحاله ،موسك او مست وي دا چې ځينې د

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



اسلام له روح څخه ناخبره علما نن سبا کوم اکتونه کوي، تریو تندی، قهرجن چلند، تل خپه او غمجنه څېره خلکو ته وړاندې کوي. دا د اسلام له احکامو او ادابو څخه ښکاره سرغړاوی دی.

ښه نو کله چې اسلام امر کوي، چې زړونه مو ژوندي، روحونه مو تازه او بدنونه مو خوښ او خوشحاله وساتئ، نو موسيقي او نڅا هم چې د زړه د خوښ او ژوندي ساتلو او د روح د تازه ګۍ او د بدن د نشاطت ستره ذريعه او لامل دی او انسان ورته په فطري او غير اختياري ډول ميلان لري. په اسلام کې څه ځای لري؟ اسلام موسيقۍ او نڅا ته په کومه سترګه ګوري؟

ربښتیا خبره دا ده، چې د موسيقۍ او نڅا په هکله فقهاء او ديني علماء د نظر اختلاف او بېل بېل اند لري. ځينې يې مطلق روا، ځينې يې ناروا بولي او ځينې ورته حدود ټاکي، د اسلامي نړۍ ستر مفکر علامه غزالي، امام سعيد ابن حزم، موسيقي او نڅا روا څه چې آن مستحب بولي. د ډاکټر علامه يوسف قرضاوي په څېر سلګونه اوسمهالي علما هم د غزالي او ابن حزم په پله روان دي او عطاء الله پالوي هم په دې اړه ډېره څېړنه کړې ده، چې زموږ د ليکنې ډېره برخه هم د جيد عالم او محقق عطاء الله پالوي له کتاب "قرآن اور فنون لطيفه" څخه رااخيستل شوې ده.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## نڅا څه شی ده؟

نڅا کوم کسبي کيفيت نه، بلکې د انسان اندروني (دننيو) احساساتو څرګندوی او يوه فطري جذبه ده. نڅا د ډېرې زياتې خوښۍ او خوشحالۍ پر وخت يوه اضطراري کړنه ده، نڅا يو وجداني کيفيت او روحاني سرشاري ده. يوه نشه او يوه غير اختياري او له واکه وتې څپه ده، لکه څرنګه چې د غم او غوسې پر وخت د انسان د مخ رنګ بدلېږي او سپين يا تور انسان سور اوړي، يو رنګ ځي او بل راځي له سترګو څخه سپرغۍ الوځي، غړي يو ډول اضطراري حرکتونه پيل کړي، په زړه، اندامونو او اعصابو کنټرول نه وي، بالکل همدا ډول څرنګه چې د خوښۍ او خوشحالۍ تراو هم له جذبو سره دی، نو په داسې حالت کې هم د انسان کيفيت هم داسې وي، په غړيو کې يو ډول غېر اختياري حرکت پيدا شي او انسان لاس او پښې او بدن خوځوي.

کوچنيان چې کله په کومه خبره ډېر خوښ شي، نو هغوی هم په بې ترتيبه ډول لاس او پښې خوځوي، چې دې ته له خوښۍ څخه نڅا وايي. تر ټولو سپېڅلي او تر ټولو ډېر درانه خلك هم کله کله د ډېرې خوښۍ په وخت په حرکت راشي که څه هم دا حرکات د لږ وخت لپاره او بې ترتيبه وي، خو څرنګه چې فطري وي، نو په هر کس کې ليدل کېږي، که هغه لوی وي او که کوچنی، ښځه وي که سړی، ځوان وي که زوړ، مسلمان وي او که کافر. مهذب او متمدن وي او که د افريقې د ځنګله، خو که دې بې ترتيبه حرکاتو ته ترتيب ورکړل شي او د اصولو په چوکاټ کې بند کړل شي، نو دې فن ته بيا نڅا ويل کېږي)".6(

نڅا په حقيقت کې د جذبو څرګندول او يو وجداني کيفيت (څرنګوالی) دی، چې په الفاظو تر ښکارولو لومړی په حرکاتو کې څرګندېږي. تاسو به ليدلي وي، چې کله انسان يا حيوان ته غوسه ورشي، يا خوښي او خوشحالي ور په برخه شي، نو په خوله او تر الفاظو لومړی او يا له خولې څخه د غږ تر وتلو لومړی د هغه غړي حرکت کوي، يا کوچنيان او ګونګيان چې د غم او غوسې او يا خوښۍ او خندا لپاره الفاظ نه لري، نو په غوسه کې لاس او پښې خوځوي او په خندا او خوښۍ کې د نڅا په څېر غير اختياري حرکات اجرا کوي.

يا به مو صوفيان صاحبان ليدلي وي، چې کله يې په زړه کې داسې جذبه راپيدا شي، چې په الفاظو يې څرګندولی ونه شي، نو د هغوی په بدن کې يو ډول حرکت راپيدا شي، پاڅېږي او په غير اختياري ډول په نڅا شي، چې د خانقا په اصطلاح دې جذبې ته حال ويل کېږي."

عطاء الله پالوي د نڅا په هکله ليکي: د لطيفه فنونو په ډله کې نڅا د انسان د تخليقي جذبې هغه محصول دی، چې په غير شعوري ډول راپنځېږي. له همدې کبله په الله جل جلاله پالنه او مذهبي رنګ کې دا شی موجود دی او له ډېرې مودې راهيسې دوام لري. رښتيا خبره دا ده، چې نڅا د فطرت پنځونه (ايجاد) ده. شمس کنول ښه ويلي دي،

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



چې سیند په جذبه راشي، نو اوبه وخوځېږي، کله چې انسان د سیند د اوبو خوځېدل له خپل لید سره یوځای کړي، نو یو بل ډول کیفیت پرې راشي او په بېواکه توګه د نڅا خواږه حرکات ترتیب او منظم کړي، نو دې ته نڅا ویل کېږي. بیا هم نڅا یوه فطري عملیه ده، دا جذبه په هر ژوندي موجود کې شته ده.

حېوانات هم له دې جذبې څخه بې برخې نه دي، د مېږیانو نڅا، د مارانو نڅا، په ځانګړي ډول بیم ته د کېچه مار نڅا، د فیل خوځېدل، د کوترې او پاختکې غومبور او سندرې د نڅا جذبه ده. د انساني نڅا بنسټ او انګېزه جنسي یا د سکس مسایل نه دي. دا د بې سارې خوښۍ او خوشحالۍ غیر اختیاري ښکارول دي. انسان د مینې او عقیدت د جذبې تر اغېز لاندې رقص کوي، چې پیل یې له عبادت څخه شوی دی، نو له همدې ځایه ده، چې له شك پرته ویلی شو ، چې د نڅا پالنه د مذهب په غېږ کې شوې ده، نو کله چې د نڅا بنسټ د الله جل جلاله د رضا لټول او د عقیدت او پېرزوینې وړاندې کول دي، نو بیا ولې حرامه شوه؟)"7(

د هند د لویې وچې یو ستر بنګالی شاعر، لیکوال او موسیقي پوه رابندرنات ټاګور وایي :"کله چې الفاظ کار نه ورکوي، نو موسیقي پیل شي" یعنې هغه جذبې چې الفاظ یې بیانولی او څرګندولی نه شي، نو موسیقي او نڅا یې په زړه راښکونکې انداز بیانوي."

په مشاعرو کې چې کله شاعران ښه خوندور او له مانا ډك شعر ولولي، نو اورېدونکي ټول په جوش او جذبه راولي پر ځوکیو خېزونه پیل کړي. کله کېني، کله پاځي، چکچکې پیل کړي او له شاعر څخه د شعر د تکرارولو غوښتنه کوي: "بیا ووایه، بیا ووایه".

نڅا او موسیقي د کوم ځانګړي قوم او ولس کولتور او پنځونه، نه ده او نه یې څوك کوم ځانګړي ملت او قوم ته منسوبولی شي، بلکې دا د هر انسان په فطرت کې نغښتې جذبه ده، دا د انسان د فطرت غوښتنه او د طبیعت پنځونه ده. عطاء الله پالوي لیکي:"د نڅا او موسیقۍ پنځوونکی هر قوم او هره ځمکه ده. سندرې او نڅا انساني فطرت دی او د ټولو انسانانو ګډ خوی او ګډه غوښتنه ده. هر کله چې په کوم قوم کې څوك د کومې پېښې او یا انګېزې له مخې خوشحاله شوی دی او اورې یې خوځولي دي او هر کله چې په کوم قوم کې کومې ښځې د خوښۍ تر اغېز لاندې لاسونه او پښې خوځولي او سر یې هاغه خوا او دې خوا اړولی دی، نو له هماغه ورځې په دې قوم او په دې ځمکه کې نڅا او موسیقي زېږېدلې ده، نو کوم ځانګړي قوم ته یې منسوبول غلطه خبره ده.

په انساني ټولنه کې د نڅا قدامت (لرغونتوب) او عمر هم هماغومره دی، څومره چې په خپله د بشر او بشري ټولنې عمر دی، ځکه لکه وړاندې مو چې وویل دا حس د بشر په خلقت او فطرت کې نغښتی او له هماغې لومړنۍ ورځې ورسره ملګری دی. البته دومره منظم، برابر او په ترتیب نه و، خو څرنګه چې بشر د ژوندانه په هره برخه کې پرمختګ کړی دی، ډېر خویونه، خصلتونه او چارې یې پرمخ تللې دي، مدني شوی دی، نو د نڅا په برخه کې یې هم

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



پرمختګ کړی دی، هغه څو زره کلن پخواني بې ترتيبه او بې تنظيمه حرکات يې منسجم او منظم شوي دي. هغوی ته يې اصول، ضوابط او لارې ټاکلې دي.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## د نڅا او اتڼ شرعي حیثیت

لکه وړاندې مو چې وویل اسلام د فطرت دین دی او د بشر ټولو فطري او طبیعي غوښتنو ته درناوی لري. ټولې هغه سالمې او معقولې هیلې، چې الله جل جلاله د انسان په خلقت (پیدایښت) کې نغښتي دي پالي، روزي د ترسره کولو لپاره یې ورته لارې چارې ښودلې دي. اسلام د فطرت لمانځونکی او یواځینی دین دی، چې له فطرت سره غاړه غړۍ روان دی، نو بیا هم کله چې اسلام د فطرت دین دی او نڅا او اتڼ د فطرت غوښتنه ده، نو بیا به ولې په اسلام کې حرامه وي؟.

عطاء الله پالوي لیکي:" تاسې په خپله فکر او سوچ وکړئ، چې کله ژوند د خوښۍ او خوشحالۍ نوم دی، کله چې اسلامي ارشادات او د ژوند کولو لپاره اسلامي لارښود د خندلو، نشیط تر او تازه اوسېدلو، له ژوند څخه د خوند اخېستلو امر او ښوونه کوي، کله یې چې د ژوند فلسفه داسې ټاکلې ده، چې له خفګان او غم څخه لېرې ژوند او موسك اوسېدل یواځې یوه طبعي اړتیا نه، بلکې اخلاقي او ټولنیزه اړتیا ده او زموږ ژوند یواځې تر موږ محدود نه، بلکې نور هم په کې حق لري، نو څنګه ممکن دی چې اسلام او د هغه هر اړخیز قانون دې نڅا او موسیقي، چې د خوښ او مسك اوسېدلو تر ټولو ستره وسیله ده، حرامه اعلان کړي؟.

نوموړی وایي، چې نڅا په اصل کې ناوړه کار نه دی او نه خو موسیقي کوم بد کار دی، خو ددې فن نوم له دې کبله بد شو، چې زموږ ذهن ته یې ښه تصور نه دی وړاندې شوی او نه راته چا ښه انځور کړی دی، بلکې تل ددې فن د بدنامولو کوښښ شوی دی. د ښځو ښځینه وقار، ابرو او حیا په ځمکه غورځول شوې، په ډېرې بې حیایۍ او بې شرمۍ سټېج ته راښکل شوې، لوڅې ونڅول شوې پایله یې دا شوه، چې مذهبي علماوو او دیندارو خلکو له نڅا سره کرکه څرګنده کړه، په داسې حال کې چې دا د فن ګناه نه ده، بلکې د ټولنې ګناه ده. که زموږ ټولنه اصلاح شي او نڅا د فن په توګه وکاروي ، بې حیایي او بې شرمې پرېږدي، نو د نڅا په اړه به د خلکو ذهن او تصور هم بدل شي، پخوا چې کله نڅا ته د یو فن په سترګه کتل کېدل، د فطري جذبې څرګندویه بلل کېده، نو قدر او عزت یې هم و، ځکه خو یې د خلفاوو او اسلامي امیرانو په دربارونو کې ځای و.

نوموړی په ډېر ټینګار سره وایي، چې له شك پرته ویلی شو چې د نڅا پالنه د مذهب په غېږه کې شوې ده. کله چې د نڅا بنسټ الهي رضا ده، نو ولې حرامه شوه؟. د قرآن، حمد او نعت د اورېدلو په وخت کې چې انسانان په جوش راځي او ځان خوځوي، دا څه شی دی. په خانقاګانو کې هغه کیفیت او حرکات چې صوفیان ورته (حال) وایي څه شی دی؟.

Download from: ketabton.com

کیمیای سعادت د امام غزالي لیکنه ده، چې ډېر مستند او قوي کتاب دی او د فقهاوو ترمنځ ځانګړی شهرت او درنښت لري، ددې کتاب په دویمه برخه کې اتم فصل خاص د راګ او حال ادابو ته ځانګړی شوی دی او نڅا او د هغې اداب ټول په کې په تفصیل سره بیان شوي دي.

حضرت عاېشهرضی الله عنها فرمايي، چې حبشيان راغلل او په نبوي مسجد کې يې نندارہ وړاندې کوله او لوبې يې کولې او رسول الله(ص.)په خپله دا ټوله نندارہ ماته راښودله او نندارہ وړاندې کوونکيو ته يې وفرمايل، چې په لوبه کې مو بوخت اوسئ. حضرت عاېشه رضی الله عنها د حدیث پیل کې وايي، چې رسول الله(ص.) په خپله ماته وفرمایل، چې آیا ته دا نندارہ لیدل غواړې؟ ما ورته وویل، چې هو زه يې لیدل غواړم).8(

حضرت امام غزالیرح فرمايي، چې: دا لوبې او نندارہ نڅا او خوښي وه او که کله څوك نڅا کوي او يا يې ګوري، نو پروا نه لري.

امام غزالي همداراز لیکي، چې له دې حدیث څخه ښکاري، چې حتی دا ډول لوبې په مسجد کې هم روا دي بل دا چې رسول الهأ(ص.) هغوی ته امر وکړ، چې په خپله لوبه بوخت اوسئ، نو که دا نندارہ حرامه وای، نو هغه (ص.)به ولې ورته امر کاوه؟ همدا ډول رسول الله(ص.) په خپله له حضرت عاېشې رضی الله عنها څخه د غوښتنې په ډول وپوښتل، چې آیا ته دا نندارہ لیدل غواړې؟ هغې رضی الله عنها ورته وویل، چې هو زه يې لیدل غواړم او بیا رسول الله (ص.) هغه نندارہ وروښودله دا داسې نه وه، چې حضرت عاېشې رضی الله عنها هغه نندارہ په خپله لیدله او دې مبارك(ص.) پرې ددې لپاره سکوت کړی وي، چې هغه (عاېشه) رضی الله عنها خفه نه شي. بل دا چې رسول الله(ص.) په خپله هم دا نندارہ ولیدله.

ښه فکر وکړئ، رسول الله (ص.) په نبوي مسجد کې د امام غزالي په وینا نڅا او اتڼ ته اجازه ورکوي، آن نندارہ وړاندې کوونکيو ته امر کوي، چې بوخت اوسئ. بیا دا نندارہ په خپله هم ګوري او خپلې مبارکې مېرمنې ته يې هم ورښيي، نو اوس ولې حرامه شوه؟.

امام غزالي د صوفیانو (حال) ته هم رقص وايي او څو ځایه يې نڅا جاېزه بللې ده، د بېلګې په توګه وايي:"نڅا روا ده همدا لامل دی، چې حبشيان په نبوي مسجد کې نڅېږي او رسول الله(ص.) او بي بي عاېشه رضی الله عنها دواړه يې ويني او حضرت رسول اکرم ص حضرت علي رض ته فرمايي، چې ته له ما څخه يې او زه له تا څخه يم او حضرت علیرض ددې خبرې په خوښۍ کې خوځېږي او څو ځله يې د عربانو له رواج سره سمه خپله پښه په ځمکه ځمکه ووهله. رسول الله (ص.) حضرت امام حسن رض ته وفرمایل، چې ته په صورت او سيرت (خوی او بڼه) کې زما په څېر يې. هغه مبارك هم ددې خبرې په اورېدو سره له خوښۍ څخه خپلې پښې پر ځمکې وهلې، حضرت زید رض د حارث زوی ته يې وفرمایل، چې ته زما خادم ورور يې هغه هم له خوښۍ څخه په خېزونو شو، نو هغه څوك چې نڅا حرامه بولي، تېروتی دی).9(

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



علامه نیاز فتح پوري د هند د لکهنو د لویې مدرسې د مجلې (نګار) د 1955 کال د جنورۍ او فبرورۍ په ګڼه کې لیکي:" د نورو لرغونو قومونو په څېر په عربانو کې نڅا دود وه، چې ځینې علما په دې اند دي، چې عربانو به چې دالله جل جلاله د کور بیت الله شریف طواف کاوه، نو هغه به هم یو ډول رقص و [چې د ثواب او عبادت په نیت او د مذهب تر اغېز لاندې به یې ترسره کاوه] زمخشري او بېضاوي ددې ایت شریف (و ما کان صلاتهم عندالبیت الامکاء و تصدیة...) یعنې "او نه وو لمونځ د دوی په بیت الله کې مګر شپېلۍ وهل او لاسونه پړقول". په تفسیر کې لیکي، چې ښځو او نارینه و به د یو بل په ګوتو کې ګوتې ورکړې، ظرفونه به یې د ډول او طبلو په ځای وهل او بربنډ رقص به یې کاوه. عربانو به د اسلام پر مقدس دین له مشرف کېدلو وروسته هم رقص او نڅا کوله او سندرې او نغمې به یې ورسره زمزمه کولې، خو د جاهلیت د پیر او د اسلام د پېر په نڅا کې یې توپیر دا و، چې د اسلام د پېر نڅا یې د پرمختګ او تمدن له غوښتنې سره سمه پرمختللې او ډېره منظمه وه. د (قرآن اور فنون لطیفه) لیکوال لیکي، چې مسلمانانو نڅا یواځې د تفریح او لوبې وسیله نه ګڼله، بلکې دا یې د یو هنر او فن په څېر پالـله او په دې اړه یې ډېر کتابونه لیکلي دي او د نڅا ډولونه یې په کې تشریح کړي دي.

د خراسان، فارس، مصر، مغرب، اندلس ټولو نڅا یو له بل سره توپیر درلود، آن د یو حکومت د نڅا ډول به د بل حکومت د نڅا له ډول او بڼې سره توپیر درلود، د اندلس، ممالیکو، فارس او المغرب د حکومتونو د نڅا ډول او بڼې د اموي او عباسي حکومتونو د دور له نڅا سره توپیر درلود. همدا راز د نارینه و او ښځو نڅا هم یو له بل سره توپیر درلود، د عباسیانو په وخت کې نڅا اته ډوله درلودل.

د اسلام په تاریخ کې د ډېرو نڅېدونکیو هنروالو نومونه ثبت دي، د عباسیانو د عروج په وخت کې د نڅا په فن کې تر ټولو ستر استادان کېش او عبدالسلام وو. د الاغاني لیکوال امام ابوالفرج اصفهاني لیکي، چې دا دواړه د ډېر لوړ کمال خاوندان نڅېدونکي وو، خو د لوېدیځې موسیقۍ په نڅا کې بیا اسحق موصلي له دوی دواړو هم وړاندې و. امام ابو الفرج اصفهاني د اسحق موصلي د نڅا یادونه کوي. لیکي، چې اسحق موصلي عباسي خلیفه واثق بالله پر وړاندې داسې خوندوره، احساس او جذبه پاروونکې نڅا وکړه، چې هغه ورته ودرېد او ویې ویل: "له اسحق څخه په دې فن کې هېڅوک هم وړاندې نه دی" په مصر او اندلس کې هم د اسلامي تمدن په پېر کې د نڅا هنر ډېر پرمختللی و. ډېر خلك په کې لوړو پوړیو ته رسېدلي وو. ددې دور ډېر پېژندل شوي او ډېر مشهور نڅېدونکي، چې د پاچایانو پر وړاندې به هم نڅېدل. حیدر د احد زوی او د ابراهیم لمسی او د هغه ورور ابراهیم وو. دوی به هر وخت د مصر د پاچا شاه اشرف په مخکې نڅېدل، چې ابن حجر یې هم یادونه کړې ده. ددې دور بل مشهور نڅېدونکی جعفر دی. عباسیانو د نڅا د پالنې، تنظیم او پرمختګ لپاره ځانګړي وسایل جوړ کړي وو.

د اسلامي تمدن په دور کې نڅا یواځې په عامو نارینه و او ښځینه و پورې محدوده نه وه، بلکې د فقهاوو، محدثینو، قاضیانو، والیانو او ډاکټرانو په څېر ډېر خاص، خاص خلك هم نڅېدل.

Download from: ketabton.com

عطاء الله پالوي ليکي، چې ښه سوچ وکړئ که چېرې نڅا حرامه وي، نو بيا قاضيان، د حديثو پوهان، د فقهې علماء ولې نڅېږي؟ دا هم د حېرانتيا وړ نندارہ ده، چې د الله جل جلاله ټول مخلوق په فطري ډول نڅېږي. اسمان او ټوله کره يې نڅېږي، ځمکه او له هغې سره ملګري ټول شيان يې نڅېږي، لمر او سپوږمۍ څلېرويشت ساعته په دوامداره توګه په نڅا دي، خو موږ ته ويل کېږي، چې نڅا مه کوئ، ځکه چې حرامه ده."!

خواجه حسن نظامي په خپله ورځپاڼه "سفر" 198_199 مخونو کې يو عکس چاپ کړی دی، چې د رومي مولينا د سلسلې د مريدانو حلقه (کړۍ) ښيي، چې په دې عکس کې لس دولس علما او پيران په ډېر جوش او جذبې سره نڅېږي او د عکس لاندې يې دا جملې ليکلي دي:"د مولينا د کورنۍ د ذکر حلقه چې دا خلك په کې د نڅا په بڼه ذکر کوي او ځينې يې د ذکر په وخت کې په وجد راغلي دي." نوموړي په 207 مخ کې د هغو ځانګړيو مشايخو نومونه هم ياد کړي دي، چې نڅا يې خوښه وه او خپله هم نڅېدل.

همدا ډول د هندوانو په مذهب کې هم نڅا د عبادت يوه برخه ده، چې تراوسه په مندرونو کې د عبادت په وخت کې ترسره کېږي. څرنګه چې د نڅا شوق د فطرت امانت او د هر انسان په خلقت کې نغښتی، نو د نڅا او موسيقۍ د مذهبي تقدس لرغونتيا هم همدومره پخوانۍ آن تر تاريخ وړاندې زمانو پورې رسېږي. له روايتونو سره سم برهام ديوتا (خدای ګوتې) تر هر څه لومړی د نڅا او موسيقۍ منظم تصور وړاندې کړ.

له پورتنۍ څېړنې او داسې نورو ګڼو رواياتو څخه داسې پايله اخلو، چې موسيقي او نڅا د اروا د خوښ او تاند ساتلو ستره وسيله ده او خوښ تاند، مسك او مست ژوند دالله جل جلاله غوښتنه ده.

همداراز نڅا يوه فطري جذبه او د هر چا په تحت الشعور کې نغښتې طبعي غريزه ده او د اسلام مبارك دين د فطرت علمبراره دين دی. اسلام هېڅکله هم د نڅا مخالف نه دی، خو هو داسې نڅا نه چې ځوانې، ښکلې، مستې نجلۍ ته زنګونه وتړي او جامن ور واغوندي او د خلکو د هوس او ويدو جنسي جذبو د راوېښولو لپاره ميدان ته وړاندې شي. داسې نڅا هم نه، چې خلك يې د حرفې په ډول وکاروي او هلکان او نجونې د پيسو لپاره استخدام کړي، بلکې په شريعت کې داسې نڅا روا ده، چې د کومې خوښۍ او خوشحالۍ له کبله د انسان احساس وټومبل شي جذبې ويښې او زړه په حرکت راشي، په ځانګړي ډول د ننګ، غېرت، سوبې، بريا په دښمن د غلبې په وختونو او داسې نورو حالاتو کې چې د پښتنو ملي اتڼ يې ډېره غوره بېلګه بللی شو.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# سرچينې


_1غبار خاطر مولانا ابوالکلام ازاد

_2یونس 57 ایت

_3یونس 58 ایت

_4الرحمن 26_28 ایتونه

_5لومړی یادښت

_6قرآن اور فنون لطیفه عطاء الله پالوي

_7شپږم یادښت

_8بخاري امام ابي عبدالله اسماعیل محمد بخاري

_9 کیمیای سعادت امام غزالي

_10الانفال 35 ایت.


Download from: ketabton.com

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*